
Downloaded from awazeinqilab.com

downloaded from awazeinqilab.com




Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

# Download PDF MCQs, Books and Notes for any subject from the Largest website for free

## awazeinqilab.com
آوازانقلاب ڈاٹ کام

and also Available in Play Store

- Primary (5th) Level
- Middle (8th) Level
- Matric (10th) Level
- F. Sc (12th) Level
- BS (16th) Level
- Urdu Grammar
- Curriculum (Govt Books)
- Past Papers
- English Grammar
- Readymade CV

NTS, FTS, CSS, PMS, ETEA, KPPSC, PPSC, SPSC, AJKPSC, BPSC, KPTA ETC

## Available Subjects

- Agriculture
- Computer Science
- Economics
- English
- Biology
- Chemistry
- Geology
- Management Sciences
- Microbiology
- PCRS/ Pak Study
- Pharmacy
- Sociology
- Zoology
- Chemistry
- Statistics
- Physics
- Mathematics
- Law
- Environmental Sciences
- Botany
- Biotechnology
- Library & Information Sciences
- Journalism & Mass Communication
- Political Science
- Geography
- General Science
- Education
- Tourism & Hotel Management
- Urdu
- Pashto
- Islamic & Arabic Studies
- Electrical Engineering
- Civil Engineering
- Mechanical Engineering
- Chemical Engineering
- Software Engineering
- Election Officer
- General Knowledge
- Pedagogy
- Current Affairs
- Medical Subjects
- Judiciary & Law
- other





ہر Subject کے Notes اور MCQS فری ڈاون لوڈ کریں۔ نیز CV کے MS word تیار Templates ڈاون لوڈ کر کے اپنے حساب سے Modify کریں۔

awazeinqilab.com

WhatsApp : 03025247378

Downloaded from awazeinqilab.com

downloaded from awazeinqilab.com

# پښتو

## دَ شپږم جماعت دَ پاره

خیبر پښتونخوا ټیکسټ بُک بورډ پېښور

حلال رزق به گټو حلال رزق به خورو
او د حرامو نه به ځان ساتو

awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com

downloaded from awazeinqilab.com

ټول حقونه دَ خیبر پښتونخوا ټیکسټ بُک بورډ دي۔

دا کتاب دَ محکمه تعلیم خیبر پښتونخوا دَ نصابیاتو څانګې ، ایبټ آباد له خوا دَ خط نمبر 4293-95/SS-II ۔ 23 جولائی 2012 ، دَ پښتو قومي نصاب 2009 ، ترمخه دَ خیبر پښتونخوا دپاره جوړ کړے شوے او منظور کړے شوے دے۔

مؤلفین:

1. پروفیسر نصیر الدین
پرنسپل ګورنمنټ پوسټ ګریجویټ کالج نوښار خیبر پښتونخوا
2. پروفیسر ډاکټر یار محمد مغموم خټک
چئیرمېن پښتو سوسائټي ایډورډز کالج پېښور خیبر پښتونخوا
3. فرهاد محمد غالب ترین
ګورنمنټ هائر سېکنډري سکول خوېشکي پایان نوښار خیبر پښتونخوا

نظرثاني:

1. عبدالله جان عابد۔
2. ډاکټر محمد زبیر حسرت
3. ډاکټر محمد جاوېد خلیل
4. فرزانه رسول
5. ډاکټر سید تجمل حسین شاه
6. ډاکټر شفقت علي جنجوعه

ایډیټر:

رضوان الله اسد ,ماهر مضمون( پښتو)
خیبر پښتونخوا ټیکسټ بُک بورډ پېښور

د چاپ نګراني:

عصمت الله خان ګنډاپور (چیئرمېن)
سعید الرحمان (ممبر اي اینډ پي)
خیبر پښتونخوا ټیکسټ بُک بورډ پېښور
تعلیمي کال 2020-21
فون نمبر: 091-9217159
اي ميل: membertbb@yahoo.com
ویب سائیټ: www.kptbb.gov.pk

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

شروع کوم په نامه دَ الله چې ډېر بخښونکے مهربانه دے

# فهرست


| | | |
|---|---|---|
| 1. | حمد (نظم) | 1 |
| 2. | نعت (نظم) | 3 |
| 3. | دَ رسول کریم حضرت محمد صلی الله علیه واله وسلم شفقت او سادګي | 5 |
| 4. | دَ وخت قدر | 9 |
| 5. | دَ ازادۍ په تحریک کښې دَ طالب علمانو برخه | 12 |
| 6. | محنت کښې عظمت دے | 17 |
| 7. | دَ اسلام ورومبۍ شهیده | 21 |
| 8. | زمونږ دَ سیمې دَ ورو لوبې | 24 |
| 9. | جابر بن حیان | 29 |
| 10. | امیر حمزه خان شنواري | 34 |
| 11. | مرد (نظم) | 39 |
| 12. | دَ قائد اعظم وینا | 41 |
| 13. | بوعلي سینا | 45 |
| 14. | نیاز بادشاه شهید | 49 |
| 15. | مرېه (نظم) | 53 |
| 16. | دَ قیصه خوانۍ دَ شهیدانو یادګار | 56 |
| 17. | غني خان | 61 |
| 18. | تور داغونه | 65 |


Not For Sale

awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com


| | | |
|---|---|---|
| 19 | دَ پاکستان ورځ (23 مارچ) | 70 |
| 20 | د خیبر کنډاؤ (نظم) | 75 |
| 2 | سیده بشرٰی بیګم | 78 |
| 2 | دَ اسلام نامتو سپه سالار | 82 |
| 2 | دَ اولس خدمت | 86 |
| | حکایتونه | 91 |
| | سائیکله وفاداره (نظم) | 94 |
| | درې ورونه درې پوهان | 96 |
| | مرغلرې/ آرونه | 100 |
| | چترال | 102 |
| | ګلا، بُلا او امزُلا (نظم) | 106 |
| | سید عبدالستار شاه (باچا جان) | 109 |
| | نتیاګلی | 112 |
| | دُعا (نظم) | 116 |


Not For Sale



عبدالعظیم بابا
پېدائش: 1167هجري خواوشا
وفات: 1255 هجري خواوشا

## حمد

شریک نۀ لرې اعلی یې زما ربه!
له مکانه مبرا یې زما ربه!

تۀ رازق یې دَ جمله روزي خوارانو
هم خالق دَ کُل اشیا یې زما ربه!

نۀ دې چا وته حاجت شته نۀ محتاج یې
بې حاجته بې پروا یې زما ربه!

مصلحت دې له هېڅ فرده سره نشته
بې وزیره تۀ بادشاه یې زما ربه!

تۀ اول، اخر، ظاهر یې هم باطن یې
هم عالم یې هم دانا یې زما ربه!

روغ کړه ما دَ معصیت له سخته رنځه
تۀ زما دَ رنځ دوا یې زما ربه!

چې عطا دې کړو ایمان و ما عظیم ته
مهربانه ډېر په ما یې زما ربه!

ماخوذ: دَ "دیوانِ عبدالعظیم بابا

downloaded from awazeinqilab.com

awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



## مشغولتیا

1. مختصر جوابونه ورکړئ.

الف: دَ جمله روزي خوارانو رازق څوک دے؟

ب: الله پاک دَ څۀ نه مبرا دے؟

ج: الله پاک بې پروا دے، دَ دې څۀ مطلب دے؟

د: الله پاک بې وزیره بادشاه دے، دَ هغۀ وزیر ته ولې حاجت نشته؟

2. دَ لاندینو ټکو معني ولیکئ:

اعلی، مبرا، اشیا، فرد، باطن

دانا ، معصیت ، رنځ

3. دَ الله پاک پینځۀ صفتونه ولیکئ

4. په دې حمد کښې پینځۀ اسمونه وښایئ

5. په لاندینو لفظونو اعراب ولګوئ

رازق ، محتاج ، مصلحت ، رنځ ، عطا

### مشغولا

1. استاذ دې په شاګردانو دَ دې حمد دَ یادولو مشق وکړي





اخون ګدا

پیدائش: 1100 هجري خواوشا

وفات: 1172 هجري خواوشا

## نعت

خدا ے مې دروله تر تا زمونږ حبیبه(ص)!
ستا نسیم راشه تر ما زمونږ حبیبه(ص)!

چې دې مخ لکه افتاب په جهان وخوت
شوه دَ کفر شپه سبا زمونږ حبیبه(ص)!

کۀ ته نۀ وے هیڅ به نۀ وو پیدا شوي
کۀ دنیا ده کۀ عقبا زمونږ حبیبه(ص)!

ستا لۀ دره لۀ کرمه زۀ خبر غواړم
یم هر ګوره بې نوا زمونږ حبیبه(ص)!

جدائي به لۀ تا هیڅ رنګه ونۀ کړم
کۀ مې سر کا څوک جدا زمونږ حبیبه(ص)!

دَ ښادۍ مخه به هله رانُما شي
کۀ کړې مخ راته نُما زمونږ حبیبه(ص)!

ستا لۀ هجره مې رنګ زیړ لکه نرګس دے
ځیګرخون لکه لاله زمونږ حبیبه(ص)!

بادشاهان به څۀ سیالي لۀ ما سره کا
چې یم ستا دَدَر ګدا زمونږ حبیبه(ص)!

ماخوذ: دَ اخون ګدا دَ نافع المسلمین



downloaded from awazeinqilab.com
awazeinqilab.com
Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



## مشغولتیا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: شاعر په وروميې شعر کښې څۀ خواست کوي؟

ب: دَ کفر شپه دَ چا په مخ سبا شوه؟

ج: زمونږ حبيبه (ص) چاته مخاطبه ده؟

2. دَ دې شعر تشريح (وضاحت) وکړئ:

کـۀ تـۀ نـۀ وے هـيـڅ بـه نـۀ وو پـيـدا شـوي
کـۀ دنـيـا ده کـۀ عقبـا زمـونږ حبيبـه (ص)

3. دَ لاندينو ټکو معني وليکئ:

نسيم، افتاب، عقبا، بې نوا، رانُما، سيالي

4. شعر پوره کړئ:

ستا لـه هجـره مـې رنـګ زيـړ لکـه نـرګس دے

..................................................

5. دا نعت ياد کړئ او په خوږ اواز يې ووايئ.





## دَ رسول کريم حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم شفقت او سادګي

په دې سبق کښې به تاسو لولئ:

- ✓ دَ رسول الله صلی الله علیه وآله وسلم سادګي
- ✓ دَ هغوي دَ ماشومانو سره مينه او شفقت
- ✓ دَ هغوي خپل کارونه په خپله کول.

زمونږ پيغمبر حضرت محمد صلی الله علیه و آله وسلم ډېر ساده ژوند تېرولو او تل به يې په سادګۍ دَ ژوند تېرولو وينا کوله. ساده ژوند او صفائي دَ هغوي صلی الله علیه و آله وسلم ډېر خوښ وو. دَ هغوي صلی الله علیه و آله وسلم مبارکو خواړۀ او اغوستن ساده وو. څۀ چې به تيار وو هغه به يې خوړل او دَ اغوستني چې به څۀ تر لاسه کېدل هغه به يې اغوستل. چرته چې به يې ځاے وموند هم هلته به کښېناستل. دا کوشش يې نۀ کولو چې چرته په ښکاره يا غوره ځاے کښېني. خپل کار به يې په خپله کولو. دَ کور کار به يې کولو. خپلې جامې به يې خپله ګنډلې، اوښانو ته به يې ګياه اچوله. شودۀ به يې لوشل، اوړۀ به يې اغږل، جارو به يې وهله او دَ بازار نه به يې سودا په خپله راوړله.

په هغه زمانه کښې دَ حبشو يو بادشاه وۀ چې دَ هغۀ نوم نجاشي وۀ. په مکه معظمه کښې چې مسلمانان دَ مشرکانو دَ ظلم نه تنګ شول نو ځينې مسلمانانو حبشې ته هجرت وکړو. دَ حبشې بادشاه نجاشي دغو مسلمانانو له پناه ورکړه او ورسره يې دَ مهربانۍ سلوک وکړو.

يو ځل دَ نجاشي بادشاه يوه جرګه مدينې منورې ته راغله. دَ جرګې دَ غړو دا خيال وۀ چې مونږه دَ يو ډېر لوے بادشاه دربار ته تلونکي يُو او دا



downloaded from awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com

downloaded from awazeinqilab.com



تلوسه ورسره وه چې دَ دغه بادشاه دربار به څۀ رنګه وي؟ ځکه چې دَ هغوي دَ
بادشاه نجاشي په خپله دا ارمان وۀ چې دَ دغه بادشاه دربار ته حاضر شي.

دغه جرګه يو خاورين فرش لرونکي ساده غونډې جومات ته راوستې
شوه. چې دَ پاسه پرې دَ کجورو څانګې پرتې وې. دوي لا دَ دروازې نه بهر وو
چې په ساده جامه کښې يو درونд خوږ سړے راغے او دَ دوي دَ اوښانو
مهارونه (جلبونه) يې ونيول، ورته يې سلام وکړو او جوړ تازه يې ورسره وکړۀ.
هغه سړي دوي جومات ته دننه کړل. ورته يې خپل څادر وغوړولو او دوي يې
پرې کښېنول. بيا دَ جومات له يوې کوټې نه يې دوي له ساده روټۍ راوړه او
ټوله ورځ يې دَ دوي خدمت وکړو. دَ نجاشي دَ حال تپوسونه يې وکړۀ او دَ
شپې هم دغه سړي دوي ته بسترې سمې کړې او سحر يې بيا دَ دوي دَ
ضرورتونو پوره کولو هڅې کولې.

سفيرانو وليدل چې څوک هم جومات ته راځي نو دَ دغه سړي ډېر زيات
عزت کوي او ورسره ډېره مينه او محبت لري. دَ هغۀ په اشاره کولو په منډه
شي. نو هغوي فکر وکړو چې دلته زمونږ دپاره دَ مقرر شوي کوربه دا حال دے
نو دَ دوي دَ بادشاه به څۀ حال وي؟

سحر هغوي ته معلومه شوه چې کوم سړي چې دَ دوي خدمت کولو نو
هغه دَ مدينې بادشاه دے او هم دغه اخري نبي حضرت محمد صلی اللہ علیہ و آلہ وسلم
دے. دغه خلق دَ هغوي صلی اللہ علیہ و آلہ وسلم په خدمت کښې دَ حاضرېدو دپاره
راغلي وو. داسې هم کېدے شي؟ دوي اريان دريان پاتې شول چې دَ خپلې
زمانې يو بادشاه دومره ساده، دَ ښو خويونو څښتن، مېلمه دوست او خدمت
کونکے هم کېدے شي؟

هغوي وليدل چې کله دَ حضرت محمد صلی اللہ علیہ و آلہ وسلم اصحابو ووې
چې دَ دوي خدمت به مونږه کوو نو په جواب کښې ورته هغوي صلی اللہ علیہ و آلہ وسلم



وفرمائيل چې هم دې خلقو زما دَ هغه دوستانو خدمت کړے وۀ چې حبشې ته
يې هجرت کړے وۀ ځکه نو زۀ به دَ دوي خدمت په خپله کوم.

زمونږ دَ پېغمبر صلی اللہ علیہ و آلہ وسلم ذات مبارک دَ ښو خويونو يوه نمونه
وه. په ماشومانو به يې اول سلام اچولو بيا به يې ورسره ډېره مينه کوله.

رسول پاک صلی اللہ علیہ و آلہ وسلم دَ مکې دَ خلقو دَ ظلمونو او تنګولو په وجه
مکه پرېښوده او مدينې منورې ته يې هجرت وکړو. په مدينه منوره هم دَ مکې
دغه خلقو حملې کولې او مسلمانان يې په قلاره ژوند تېرولو ته نۀ پرېښودل
نو په دغه وجه رسول پاک صلی اللہ علیہ و آلہ وسلم په مکه حمله وکړه او مکه فتح شوه.
خو هغوي ښار ته دَ ننوتو په وخت په اوښ سوارۀ وو او سر مبارک يې دومره
ټيټ کړے وۀ چې مخ مبارک يې کجاوې سره لګېدو. دَ دې دپاره چې په
انساني فتح څوک غاوره نۀ شي.

کومو خلقو چې رسول الله ته تکليفونه ورکړي وو، هغو ټولو ته يې
عامه بخښنه وکړه او معاف يې کړل.

دَ اُحد په غزا کښې دَ رسول پاک صلی اللہ علیہ و آلہ وسلم غاښونه مبارک
شهيدان شول. ځينې اصحابو ورته دَ ښېرو کولو دپاره ووې خو دوست دَ
خدا ے ووې "اے خدايه! زما قوم په سمه لار کړې، دوي نۀ پوهېږي".

رسول پاک صلی اللہ علیہ و آلہ وسلم په هره موقع دَ خپلو ملګرو سره يو شان په
کار کښې شريک پاتې شوے دے. چرې يې هم ځان دَ هغوي نه غوره نۀ ګڼلو
او دَ ملګرتيا حق به يې ادا کولو. خپل دښمنان به يې هم معاف کول. دښمن ته
به يې ښېرې نۀ کولې او هم دَ دغو خويونو، مينې او شفقت اثر دا وشو چې
خلقو دَ اسلام دين قبول کړو.

## مشغولتيا

1. مختصر جوابونه ورکړئ.

Not For Sale

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



الف: زمونږه رسولِ پاک صلی اللہ علیہ و آلہ وسلم کوم کوم کارونه په خپلو مبارکو لاسونو کول؟

ب: دَ حبشي دَ بادشاه څۀ نوم وۀ؟

ج: دَ حبشو دَ جرګې دَ خلقو دَ رسولِ پاک صلی اللہ علیہ و آلہ وسلم دَ دربار په حقله څۀ خیال وۀ؟

د: رسولِ پاک صلی اللہ علیہ و آلہ وسلم دَ ماشومانو سره څنګه سلوک کولو؟

ه: دَ مکې دَ فتحې نه پس رسولِ پاک صلی اللہ علیہ و آلہ وسلم دَ مکې خلقو سره څۀ وکړل؟

2. لاندیني ټکي په خپلو جملو کښې استعمال کړئ:
ساده ژوند، جامې، اوړۀ، جرګه، جوړ تازه، غزا

3. دَ مذکر دپاره مؤنث او دَ مؤنث دپاره مذکر ولیکئ.
اس، نائیه، ورندار، لېور، حاجنه،

4. فعل هغه کلمې ته وئیلے شي چې دَ څۀ کار دَ کېدو یا نۀ کېدو اظهار ترې کېږي خو چې دَ زمانې تعلق هم ورسره وي لکه:
تا خط ولیکۀ. تۀ خط لیکې. تۀ به خط لیکې.
په دغو ټولو جملو کښې دَ خط لیکلو کار شوے دے او دَ زمانې سره یې تعلق هم شته. دَ وړومبنۍ جملې نه تېره شوې زمانه، دَ دوېمې جملې نه موجوده (حال) او دَ درېمې جملې نه راتلونکې (مستقبل) زمانه څرګند پږي.

5. دَ رسولِ پاک صلی اللہ علیہ و آلہ وسلم دَ هغه حدیث شریف یو چارټ جوړ کړئ او په کلاس کښې یې ځوړند کړئ چې پکښې یې فرمائیلي دي: "چې څوک زمونږ دَ مشرانو احترام ونۀ کړو او زمونږ په ماشومانو یې شفقت ونۀ کړو نو هغه زمونږ نه نۀ دے".

Not For Sale



## دَ وخت قدر

په دې سبق کښې به تاسو لولئ:

- ✓ یوه خوندوره قیصې
- ✓ دَ یو مالدار سړي لقمان حکیم له تلل
- ✓ دَ لقمان حکیم هغۀ ته یوه خبره کول
- ✓ دَ هغې ګټوره نتیجه راوتل

وائي چې لقمان حکیم ډېر هوښیار سړے وۀ. خلق به ورله راتلل او دَ دۀ خبرې به یې په غور اورېدې. هغۀ به دَ خپلو خبرو قیمت اخستلو او یوه خبره به یې په سل روپۍ کوله. دا دَ هغه وخت خبره ده چې سل روپۍ ډېر لوے څیز وۀ.

په یو ښار کښې یو ډېر شتۀ من سړے اوسېدو. ډېر لوے کاروبار یې وۀ. ډېر نوکران او مریان (غلامان) یې لرل. یوه ورځ هغه خبر شو چې لقمان حکیم ډېر هوښیار سړے دے، دَ عقل او حکمت خبرې کوي او دَ هغۀ دَ علم او خبرو نه خلقو ته ډېره فائده رسي. نو ورپسې لاړو او دَ لقمان حکیم سره یې ملاقات وکړو. مالدار سړي لقمان حکیم ته ووې چې ما اورېدلي دي چې تاسو له الله پاک ډېر علم او پوهه درکړې ده او تاسو خلقو ته دَ فائدې خبرې ښایئ؟

لقمان حکیم ووې چې هو، په ما دا دَ الله تعالی پېرزوئنه ده چې ماته یې دَ ځینې څیزونو باره کښې پوهه راکړې ده خو تاسو خپله خبره او خپل غرض بیان کړئ. تاسو څنګه پېښنه کړې ده؟

هغه سړي ورته ووې چې زۀ هم غواړم چې تاسو ماته هم څۀ داسې خبره وکړئ چې ماته فائده راورسوي.

لقمان حکیم ورته ووې چې زما دَ یوې خبرې قیمت خو پوره سل روپۍ دے. کۀ چرې تاسو سل روپۍ لرئ او ماته یې راکړئ نو زۀ به درته یوه خبره وکړم.

Not For Sale

downloaded from awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com

downloaded from awazeinqilab.com



هغه مالدار سړي سل روپۍ ورکړې او لقمان حکيم ورته ووې چې دَ نن کار سبا ته مۀ پرېږده او دې وېنا سره خاموشه شو او هغۀ ته يې دَ تلو اشاره وکړه. مطلب يې دا وۀ چې تا دَ څۀ دپاره دلته راتګ کړے وۀ او دَ څۀ قيمت چې دې ادا کړے دے نو هغه مقصد دې ترسره شو ، تۀ اوس تلے شې.

هغه مالدار سړے دَ لقمان حکيم دَ ځنګ نه روان شو خو دا فکر يې کولو چې دا خو ماته هم معلومه وه او په دې معمولي خبره مې هېڅ بې هېڅه سل روپۍ ورکړې خو زړۀ له يې په دې تسلي ورکوله چې څه، دومره خو وشول چې لقمان حکيم خو مې وليدو او ما سره دولت ډېر دے، په سلو روپو څۀ کمېدے خو نۀ شي.

مالدار سړے تر خپله ځايه ورسېدو او دَ راتلو سره يې وليدل چې دَ دۀ نوکران لګيا دي دَ غنمو غوبل کوي. کله چې غوبل خلاص شو نو نوکرانو ووې چې سبا له به ترې بُوس او غنم بيل کړو ، اوس مونږ ستړي شوي يُو چې لږ دمه شو خو مالدار سړي ووې چې نه، هم نن به بُوس او غنم بيلول پکار وي. دَ نن کار سبا ته نۀ سپارو او هم په دې خبره خو ما سل روپۍ ورکړې دي. تاسو لږ شان ځانونه دمه کړئ او هر څنګه چې وي دا کار نن سر ته رسول پکار دي، البته زۀ دا کولے شم چې تاسو له سبا ورځ پوره رخصت (چوټي) درکړم.

نوکران دَ رخصت په اورېدو خوشحاله شول. دَ لږې دمې کولو نه پس بيا لګيا شول او بُوس او غنم يې سره بيل کړل او غنم يې په کندُو کښې واچول او بيا ټول دَ ارام کولو دپاره لاړل.

دَ خداے کارونه وو چې دَ شپې ډېر سخت باران وشو او بې حسابه اوبۀ راووربدې، چې چا غوبلونه کړي او وانړي يې پرتې وې نو هغه ټول بُوس او غنم اوبو يوړل او دَ دغه مالدار سړي غنم او بُوس محفوظ پاتې شول نو هغه مالدار سړي ته ډېره فائده ورسېده او دَ لقمان حکيم يوه خبره ورته ډېره قيمتي ښکاره شوه چې دې يې دَ ډېر نقصان او تاوان نه بچ کړو او دا ورته





ثابته شوه چې دَ نن کار سبا ته پرېښودل پکار نۀ دي او دَ وخت قدر کول پکار دي. هر کار په خپل وخت تر سره کول ډېره فائده او ګټه لري.

## مشغولتيا

1. مختصر جوابونه ورکړئ.
   - الف: لقمان حکيم څنګه سړے وۀ؟
   - ب: لقمان حکيم به په څو روپو يوه خبره کوله؟
   - ج: مالدار سړي ته لقمان حکيم کومه خبره وکړه؟
   - د: مالدار سړے چې بيرته راغلو نو دَ هغۀ نوکرانو څۀ کول؟
   - ه: مالدار سړي ته دَ لقمان حکيم يوې خبرې څۀ فائده ورکړه؟
   - و: دَ دې سبق نه مونږ څۀ زده کولے شو؟
2. دَ دې لفظونو معني وليکئ او په خپلو جملو کښې يې استعمال کړئ:
   هوښيار، شتۀ من، مړيان، علم، ځنګ، محفوظ
3. دَ څيزونو، ځايونو او بنيادمو نومونو ته اسم وائي لکه کُرسي، مېز، ځنګل، غر، درياب، سړے، ښځه.
   تاسو په دې سبق کښې پينځۀ اسمونه ولټوئ او په خپلو کاپو کښې يې وليکئ.
4. لاندې ورکړې شوې جملې ولولئ او مخامخ دَ صحيح يا غلط لفظ نه کرښه تاؤ کړئ:
   - الف: لقمان حکيم ډېر هوښيار سړے وۀ. غلط/صحيح
   - ب: لقمان حکيم به بې پيسو اخستو خبره کوله. غلط/صحيح
   - ج: لقمان حکيم ورته ووې چې دَنن کار سبا ته مۀ پرېږده. غلط/صحيح
   - د: مالدار سړي ووې چې باقي کار به سبا کوو. غلط/صحيح



Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



# دَ ازادۍ په تحریک کښې دَ طالب علمانو برخه

پهٔ دې سبق کښې به تاسو لولئ:

- ✓ دَ ازادۍ تحریک کښې دَ طالب علمانو برخه
- ✓ دَ پاکستان دَ نوم کېښودل
- ✓ دَ قائد اعظم دَ طالب علمانو سره مينه
- ✓ او دَ قائد اعظم مختلفو کالجونو ته تلل

دَ پاکستان جوړېدل هله ممکن شول چې ټول اولس په يو اواز او يو اتفاق دغه غوښتنه وکړه او بيا دَ دې قام ځوانانو، بوډاګانو، نر او ښځو دَ دغه غوښتنې دَ پوره کولو دپاره هر قسمه قربانۍ ورکړې. کله چې دَ قائد اعظم محمد علي جناح په مشرۍ کښې دا فېصله وکړې وشوه چې مونږه به پاکستان حاصلوو نو ټول قام دَ دې مقصد دپاره يو موټے شو.

دَ ازادۍ په دغه تحريک کښې زده کونکو (طالب علمانو) هم پوره پوره مرسته وکړه او دا ځکه چې دَ پاکستان لفظ په وړومبي ځل يو زلمي زده کونکي (طالب علم) چودهري رحمت علي وړاندې کړے وهٔ. چودهري رحمت علي په دغو ورځو کښې په لندن کښې وهٔ اوزده‌کړه يې کوله. هغهٔ دَ ازادۍ تحريک هلته هم چلولو. هغهٔ يو وړوکے کتاب (پمفلټ) وليکلو چې پکښې په وړومبي ځل دَ پاکستان نوم اخستے شوے وهٔ. په دغه کتاب ګوټې چې دَ څومره کسانو دستخطونه وو نو هغه ټول زده کونکي وو چې يو پکښې دَ ضلع کرک اوسېدونکے اسلم خټک هم شامل وهٔ.

دَ قائد اعظم دَ زده کونکو سره ډېره مينه وه او وخت په وخت به يې دَ طالب علمانو په جلسو کښې ګډون کولو. بيا په خاصه توګه دَ مسلم





يونيورسټۍ علي ګړھ، اسلاميه کالج پېښور او اېډورډز کالج پېښور دَ طالب علمانو په ډېرو جلسو کښې يې شرکت کړے وهٔ. زمونږ دَ صوبې خېبر پښتونخوا دَ طالب علمانو دَ خپل قائد سره بې پناه محبت وهٔ. په کال 1945 کښې چې کله قائد اعظم دَ دې صوبې دوره کوله نو دَ دې صوبې طالب علمانو ورته اتهٔ زره روپۍ ورکړې چې هغوي دَ چندې په توګه راغونډې کړې وې.

دَ اسلاميه کالج پېښور او اېډورډز کالج پېښور طالب علمانو دَ پاکستان دَ تحريک په کاميابولو کښې ډېر ښهٔ کردار ادا کړے دے او قائد اعظم به همېشه دَ دوي دَ غوره کردار ادا کولو دپاره دَ دوي مننه کوله او چې کله به هم دَ دې صوبې په دوره راغلو نو اسلاميه کالج پېښور او اېډورډز کالج پېښور ته به يې تشريف وړلو او دَ دغه کالجونو دَ طالب علمانو سره به يې ليدهٔ کاتهٔ کول.

دَ پاکستان په تحريک کښې دَ وطن دَ نورو برخو طالب علمانو هم کافي هلې ځلې کړې دي. دَ بلوچستان زده کونکو هم په دغه لړ کښې ښهٔ جدوجهد کړے دے. دَ پنجاب طالب علمانو دَ ازادۍ حاصلولو دپاره هم خپل يو تنظيم جوړ کړے وهٔ. دغه شان په سندھ کښې هم طالب علمانو ډېره سرګرمي ښودله او په خاصه توګه دَ کراچۍ سندھ مدرسه دَ ازادي خوښو طالب علمانو مرکز وهٔ. په دغه مدرسه کښې قائد اعظم وړومبۍ زده‌کړه هم کړې وه.

هم دغه زده کونکي وو چې هغوي به دَ قائد اعظم پېغام بيلو بيلو علاقو ته رسولو او دَ مسلمانانو په راغونډولو او يو اواز کولو کښې يې اهم کردار ادا کولو او هم دغه زده کونکي وو چې هغوي دَ پاکستان غوښتنه اولس ته ورسوله او هغوي يې دَ دې غوښتنې دپاره په عملي توګه تيار کړل.

لنډه دا چې دَ پاکستان دَ تحريک په کاميابۍ کښې دَ زده کونکو دَ قربانو، هلو ځلو او کوششونو ډېر لوے لاس دے او هم دَ دغه زده کونکو دَ

downloaded from awazeinqilab.com
Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



قربانو برکت دے چې نن مونږه دَ یو خپلواکه وطن څښتنان یو او په ازاده فضا کښې ساه اخلو.

## مشغولتیا

1. دَ لاندینو سوالونو مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: دَ پاکستان جوړېدل کله ممکن شو؟

ب: دَ پاکستان تکے په ورومبي ځل چا ښکاره کړو؟

ج: ګول مېز کانفرنس چرته منعقد شوے وو؟

د: دَ وطن دَ ازادۍ دپاره دَ طالب علمانو هلې ځلې بیان کړئ.

ه: دَ صوبه خیبر پښتونخوا طالب علمانو قائد اعظم ته دَ چندې څومره روپۍ ورکړې؟

2. لاندینې تکي په خپلو جملو کښې استعمال کړئ:

غوښتنه، زده کونکي، کالج، هلې ځلې، پېغام، خپلواکه.

3. دَ هر سوال درې درې جوابونه دي، په صحیح جواب خالي ځایونه ډک کړئ:

الف: دَ ازادۍ په تحریک کښې طالب علمانو هم پوره پوره ............ وکړه.

(1) مرسته (2) مخالفت (3) مدافعت

ب: دَ پاکستان تکے په ورومبي ځل یو زلمي طالب علم ............ وراندې کړے وو.

(1) چودهري رحمت علي (2) چودهري برکت علي

(3) چودهري شفقت علي

Not For Sale



ج: دَ دې صوبې طالب علمانو ورته دَ چندې ......... روپۍ ورکړې.

(1) درې زره (2) شل زره (3) اته زره

د: دَ اسلامیه کالج پېښور او اېډورډز کالج طالب علمانو دَ پاکستان دَ تحریک کامیابولو کښې ډېر ښۀ ........... ادا کړے دے.

(1) ګفتار (2) کردار (3) چلند

4. دَ ضمیر اسم هغه کلمې ته وائي چې دَ بل اسم دپاره استعمال شوے وي. تاسو دا عبارت ولولئ. یوسف ګل راغلے، یوسف ګل په کټ کښېناست، یوه شېبه پس یوسف ګل خپله قیصه شروع کړه.

دا عبارت داسې هم لوستے شي:

یوسف ګل راغلے، هغه په کټ کښېناست، یوه شېبه پس هغۀ خپله قیصه شروع کړه.

دَ دواړو عبارتونو مطلب یو دے. خو په ورومبي عبارت کښې بیا بیا دَ یوسف ګل نوم راغلے دے او په دوېم عبارت کښې یو ځل دَ یوسف ګل نوم راغلے دے او بیا دَ یوسف ګل په ځائے (هغه) او (هغۀ) استعمال شوے دے. دغه اسم ضمیر دے. دَ اسم ضمیر باره کښې دَ خپل استاذ نه نور معلومات حاصل کړئ.

5: لاندینو جملو کښې صحیح او غلطې جملې بېلې بېلې کړئ:

الف: دَ ازادۍ په تحریک کښې طالب علمانو پُوره پُوره مرسته کړې وه.

ب: دَ پاکستان نوم په ورومبي ځل علامه اقبال وراندې کړے وو.

ج: چودهري رحمت علي په لندن کښې زده کړه کوله.

د: اېډورډز کالج په کراچۍ کښې دے.

downloaded from awazeinqilab.com

awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



6: دَ جنس په لحاظ دَ اسم دوه قسمونه دي، مذکر یا نر اسمونه لکه سړے، آس، هلک او داسې نور او مونث یا ښځینه اسمونه لکه ښځه، اسپه او جینۍ.

په دې سبق کښې درې مذکر او درې مونث اسمونه ولټوئ او په خپلو کاپیو کښې یې ولیکئ.



# محنت کښې عظمت دے

په دې سبق کښې به تاسو لولئ:

- ✓ چې په خپل لاس کار کول څنګه دي؟
- ✓ دَ کار کسب کولو فائدې
- ✓ دَ کار کولو نه ملک ته کومې فائدې رسي؟
- ✓ ملک څنګه مضبوطېږي؟

په خپل لاس کار کول سُنت دي. دا کۀ یو اړخ ته دَ ثواب کار دے نو بل خوا په انسان کښې دا خوبي پېدا کوي چې دَ دۀ په ځان باور پېدا شي. دَ پښتو متل دے چې خپله لاسه ګُله لاسه. څوک چې په خپله کار روزګار نۀ کوي نو هغوي پړسمن شي او چې لږه سختي پرې هم راشي نو دَ هغې دَ مقابلې توان پکښې نۀ وي.

هسې خو دَ ژوند سره تړلي ډېر کارونه دي. په دغو کښې دَ ټولو نه اهم کار دَ کرکروندې (زمیداری) کار دے. چې زمونږه دَ وطن دَ زیاتو خلقو ورسره روزګار هم تړلے دے او دَ وطن دَ نورو خلقو دپاره غله دانه، سبزیانې او مېوې پېدا کوي. زمونږه دَ وطن په سلو کښې اویا تنه دَ کرکروندې کسب کوي. ځان هم پالي او دَ نورو په ښېګړه هم راځي.

کرکرونده یو داسې کسب دے چې دا دَ کلهمو بنیادمو دپاره فائده مند دے او کوم خلق چې دغه کسب کوي نو دَ هغوي درناوے پکار دے. کر کرونده دَ زیاتو صنعتونو بنیاد دے. دَ مثال په توګه کرونده ګر ګني پېدا کوي او دغه ګني کارخانو ته ځي چې هلته ترې چیني جوړولے شي. دغه رنګ چقندر یو فصل دے چې کرونده ګر یې کري او دَ چینو په کارخانو کښې ترې

downloaded from awazeinqilab.com
Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com

downloaded from awazeinqilab.com



نه چیني جوړولے شي. پومبه چې مالوچ تري حاصلولے شي، دا هم يو فصل دے او دَ مالوچو نه په کارخانو کښې رخت يا کپړه ووډلے شي او دَ دغه کپړې نه مونږه جامې جوړوو. دغه رنګ دَ غنمو دَ اوړولو کارخانې (ژرندې او فلور ملونه)، دَ شولو نه دَ وريژو وېستلو کارخانې، دَ بوټو او لرګو نه دَ کاغذ او ګتې جوړولو کارخانې او دَ ونو نه دَ پلائي ووډ وغيره جوړولو کارخانې، دغه ټولې کارخانې دَ زراعت په ترقۍ پورې اړه لري.

زمونږه په وطن کښې دَ اوبۀ خور دَ غوره نظام په وجه زراعت او کرکرونده مخ په ترقۍ دي او دَ اولس دَ ژوند ژواک په ښۀ کولو کښې زراعت يا کرکرونده بنيادي حېثيت لري.

زمونږه وطن په بنيادي توګه يو زرعي ملک دے. په تېرو کلونو کښې دلته صنعت هم کافي پرمختګ کړے دے. کله چې پاکستان جوړ شو نو دلته صنعتونه نۀ وو. خو حکومت او خلقو دغه کمے محسوس کړو او دَ ملک دَ ضرورتونو پوره کولو دپاره يې دلته مختلفې کارخانې جوړې کړې. چې اوس دَ دې وطن زيات ضرورتونه دَ دغو کارخانو په برکت پوره کېږي او مونږ دَ ملک دننه ډېر داسې مالونه تياروو چې وړاندې به هغه دَ بهرنو ملکونو نه راغوښتے شول.

دَ کارخانو جوړولو يوه فائده خو دغه ده چې دَ ملک قيمتي دولت (زر مبادله) په ملک دننه پاتې کېږي. دويمه دا چې په ارزانه بيعه څيزونه تر لاسه کېدے شي او دريمه دا چې بې روزګاره خلقو ته روزګار او مزدوري تر لاسه شي. دغه شان دَ خلقو مالي او اقتصادي حالت ښۀ شي او ورسره اولس اسوده حاله شي.

کرکرونده يا زراعت او صنعت دواړه دَ يو وطن په ترقۍ او پرمختګ کښې بنيادي برخه لري او هم دغه دوه شعبې يا څانګې دَ يو وطن په





استحکام، مضبوطيا او خوشحالۍ کښې برخه لري او دَ اولس دَ اسودګۍ او ښۀ ژوند ضمانت ورکوي.

دغه دواړه څانګې زمونږ نه دَ محنت تقاضا کوي او زمونږه دَ محنت په وجه وطن ته خوشحالي او ابادي نصيب کېږي ځکه نو محنت تر ټولو زيات اهميت لري او هم محنت دے چې دَ يو بنده دَ ژوند معيار ښۀ کوي او زمونږ پيغمبر حضرت محمد صلی اللہ علیہ و آلہ وسلم فرمائيلي دي "چې څوک کسب (محنت) کوي نو هغه دَ الله پاک دوست وي".

## مشغولتيا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: په خپل لاس کار کول څنګه دي؟

ب: څوک چې په خپل لاس کار نۀ کوي نو څۀ نقصان ورته رسي؟

ج: دَ کرکروندې (زراعت) څۀ اهميت دے؟

د: دَ کارخانو درې غټې فائدې کومې کومې دي؟

ه: زراعت او صنعت دَ يو وطن په حالت څۀ اثر غورځوي؟

و: زمونږ پيغمبر صلی اللہ علیہ و آلہ وسلم دَ کسب کونکو په حقله څۀ فرمائيلي دي؟

2. لاندينې ټکي په خپلو جملو کښې استعمال کړئ:

ثواب، پرسمن، کرکرونده، درناوے، پومبه، مالوچ ، ووډلے

3. دَ محنت په اهميت دَ لسو کرښو مضمون وليکئ.

4. دَ معنو يا مفهوم په لحاظ دَ اسم دوه قسمونه دي. (1) معرفه يعني خاص نوم (2) نکره يعني عام نوم.



Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



د معرفې اسم هغه اسم ته وائي چې د چا خاص سړي، څيز يا ځاے نوم وي لکه احمد، کوه نور، کوهاټ، اباسين او داسې نور.

د نکرې اسم هغه اسم ته وائي چې د چا خاص سړي، څيز يا ځاے نوم نۀ وي بلکې د هغه جنس هر يو څيز ته هغه نوم وئيلے شي لکه سړے، کاڼے، ښار چې دا د هر يو سړي، هر کاڼي او هر ښار دپاره استعماليږے شي.

تاسو په دې سبق کښې پېنځۀ پېنځۀ اسم معرفه او اسم نکره ولټوئ او په خپلو کاپو کښې يې وليکئ.

5. لاندې څنې لفظونه ورکړې شوي دي او مخامخ ورته درې درې معنې ليکلې شوي دي تاسو پکښې د صحيح معنې انتخاب وکړئ:

| | |
|---|---|
| باور: | اعتماد ، يقين ، قسم |
| پرسمن: | بې کاره ، سست ، تکړه |
| کسب: | کار ، پېشه ، روزګار |
| زراعت: | زميداري ، کرونده ، هنر |
| پرمخ تګ: | رفتار ، ترقي ، زوال |

## مشغولا

1. استاذ دې په شاګردانو "په محنت کښې عظمت دے" موضوع باندې د تقرير مشق وکړي.



# د اسلام وړومبۍ شهيده

په دې سبق کښې به تاسو لولئ:

- ✓ د اسلام وړومبۍ شهيده
- ✓ د هغې د شهادت واقعه
- ✓ د هغې د اسلام سره مينه
- ✓ د اسلام دپاره د هغې قرباني

د اسلام په پاکو بيبيانو کښې حضرت سميه رضي الله تعالى عنها په دې وجه زيات اهميت لري چې دا د اسلام په لاره کښې وړومبۍ شهيده ده. حضرت سميه رضي الله تعالى عنها په اسلام ډېره زياته مئينه وه او د دنيا يو تکليف هم د هغې د زړۀ نه د اسلام مينه او محبت ونۀ ويستے شو.

د حضرت سميه رضي الله تعالى عنها د پلار نوم خياط وۀ. دا د مغيره د زوي ابو حذيفه وينځه وه. ابو حذيفه د هغې نکاح د ياسر رضي الله تعالى عنه سره وکړه او چې د هغې زوے عمار رضي الله تعالى عنه پيدا شو نو ابوحذيفه دا ازاده کړه.

په ښځو کښې چې تر ټولو وړومبے چا اسلام قبول کړے دے نو په هغو کښې په اووم نمبر حضرت سميه رضي الله تعالى عنها ده. دا هغه زمانه وه چې په مسلمانانو د مشرکانو له طرفه هر قسمه ظلمونه کېدل.

د حضرت سميه رضي الله تعالى عنها د اهميت يو مثال دا هم دے چې د دوي ټوله کورنۍ مسلمانه شوې وه. يعنې حضرت سميه رضي الله تعالى عنها، د هغې خاوند حضرت ياسر رضي الله تعالى عنه او د هغې زوے حضرت عمار رضي الله تعالى عنه په هېر مسلمانان شوي وو. په قريشو دا خبره ډېره بده ولګېده او بيا يې په دوي هغه ظلمونه وکړل چې په اورېدو يې په بنده غوښې څيرې څيرې شي.

downloaded from awazeinqilab.com
awazeinqilab.com
Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



د دوي د ځنې تکليفونو خبرې په کتابونو کښې ليکلي دي چې کافرانو به ورته د اوسپنې زغرې واغوستولې او بيا به يې درې واره په سخته گرمۍ کښې په سرو غرمو ودرول. اوسپنه به گرمه شوه او د هغوي وجودونه به يې داغل خو د دې باوجود به هم هغوي د صبر او زغم نه کار اخستو او د دغه تکليفونه به يې زغمل خو دوي د اسلام د شمعې داسې پتنگان وو چې وارخطا نۀ شول او چې کومه فيصله يې کړې وه، ښۀ په استقامت په هغې کلک پاتې شو.

په دغه حالت کښې چې به کله رسول پاک صلی الله عليه و آله وسلم وليدل نو ورته به يې د صبر تلقين کولو.

مشرکانو ډېر کوششونه وکړل، خپلې تنې يې وشلولې او زارې يې پرې شنې کړې خو دوي يې دې ته جوړ نۀ کړل چې د اسلام حقه او رښتونې لاره پرېږدي. يوه ورځ چې دوي ماښام راوستے شو نو ابوجهل ورته په بدو ردو سر شو او بيا يې غصه دومره زياته شوه چې پاڅېدو او نېزه يې راپورته کړه او حضرت سميه رضي الله تعالی عنها يې په نېزه داسې ووهله چې هم په هغه درنگ يې شهادت نصيب شو.

د اسلام دپاره چې د چا ډېر ښې وينې توئې شوې دي نو هغه د دې وينې دي. له دې وجې نه دې ته دا فخر حاصل دے چې د اسلام اولنۍ شهيده بللے شي.

د هجرت نه پس چې کله د بدر غزا وشوه او په دغه کښې د ځينې لويو لويو کافرانو سره ابوجهل ووژلے شو نو رسول پاک صلی الله عليه و آله وسلم حضرت عمار رضي الله تعالی عنه ته ووې چې الله تعالی ستاسو د مور قاتل قتل کړو.

د حضرت سميه رضي الله تعالی عنها د شهادت واقعه د هجرت نه وړاندې په مکه کښې شوې وه او په اسلامي تاريخ کښې به دا واقعه تل د سر قربانونکو او د اسلام





دپاره د قربانۍ ورکونکو خلقو دپاره يو مثال وي او حضرت سميه رضي الله تعالی عنها به ټول عمر يادولے شي. ځکه چې شهيدان ژوندي وي، د هغوي يادونه ژوندي وي او د هغوي قربانۍ د قومونو دپاره مثال وي او د هغوي همېشه درناوے او احترام کولے شي.

(ماخوذ: د "پاکې بيبيانې" نه، مؤلف: عبدالعزيز مظاهري)

## مشغولتيا

1. مختصر جوابونه ورکړئ
   - الف: د حضرت سميه رضي الله تعالی عنها د پلار څۀ نوم وۀ؟
   - ب: وينځه څۀ ته وائي؟
   - ج: د حضرت سميه رضي الله تعالی عنها د خاوند او زوي څۀ نومونه وو؟
   - د: د حضرت سميه رضي الله تعالی عنها او د هغوي په کورنۍ کوم قسم ظلمونه کولے شول؟
   - ه: د حضرت سميه رضي الله تعالی عنها د شهادت حال بيان کړئ.
2. په لاندينو ټکو اعراب ولگوئ.
   مغيره، ابو حذيفه، غونې، زغرې، زغم، استقامت، تلقين.
3. د دې محاورو مطلب څۀ دے؟ په خپلو الفاظو کښې يې استعمال کړئ.
   تنې شلول، غونې ځيږ ځيږ کېدل، زارې شنې کول.
4. په دې سبق کښې د اسم معرفې او اسم نکرې زيات مثالونه موجود دي. تاسو ترې درې درې مثالونه ورکړئ.



downloaded from awazeinqilab.com

awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



# زمونږ دَ سیمې دَ وړو لوبې

پہ دې سبق کښې بہ تاسو لولئ:

- ✓ دَ خپلې سیمې دَ ماشومانو دَ لوبو متعلق معلومات
- ✓ پہ خیبر پښتونخوا کښې کېدونکې لوبې
- ✓ دَ لوبو فائدې

دَ هر یو قوم دَ ماشومانو خپلې خپلې لوبې وي او دغه لوبې دَ دغه قوم او علاقې سره مناسبت هم لري او دَ دغه علاقې او قوم پېژندګلو هم په دغه لوبو کېږي. نن سبا زمونږ په لارو کوڅو کښې دَ کرکټ کولو ډېر رواج دے. دَ دې وجه دا ده چې ټېلي وژن، رېډیو او اخبارونو کښې کرکټ ته دَ حد نه زیات اهمیت ورکړے شوے دے او زمونږ لویو او وړو دغه اثر قبول کړے دے. دَ دې په مقابله کښې علاقائي (سیمه ایزو) لوبو ته پام لرنه نشته ځکه نو هغه لوبې په ورکېدو دي او صرف نومونه یې پاتې دي. نن دغه شان دَ سیمه ایزو څو لوبو ذکر کول مناسب دي چې مونږه دَ خپلو زړو لوبو نه څۀ نا څۀ واقف شو. دغه شان لوبې دَ پښتونخوا په هر کلي او هره علاقه کښې کېدلې. ځینو کلو او باندو کښې اوس هم ماشومان هلکان جینکۍ خپلې سیمه ایزې لوبې کوي او دَ نوي دور دَ اثراتو نه محفوظ دي.

(1) **پټ پټونے**: دا لوبه تقریباً زمونږه دَ وطن په هره سیمه کښې واړۀ هلکان او جینکۍ کوي. ګڼ ملګري راغونډ شي. یو تن پکښې دېوال ته مخ کړي او سترګې پټې کړي، نور ملګري یې چرته کوڅو کښې پټ شي. دېوال ته مخ کړے لوبغاړے دَ "درځمه" اواز کوي خو چې کله ورته پټ شوي ماشومان دَ "راځه" اواز وکړي نو بیا دې دَ پټو شوو ماشومانو دَ نیولو کوشش کوي. دې



چې کوم یو راونیسي نو بیا دَ هغۀ دَ سترګو پټولو وار وي. کوم لوبغاړے چې دېوال ته ځان ورسوي او په دېوال توکاڼي ټُو کړي نو هغه ازاد وګڼلے شي. دَ هغۀ نیول بیا نۀ کېږي.

دَ پټ پټوني بله طریقه دا ده چې یو ماشوم له سترګې وتړلے شي او نور ترې چاپېره چورلي او لاسونه پړقوي. دَ لاسونو په پړقولو سترګې تړلي ماشوم ته پته لګي چې دغه ماشوم کوم ځاے دے او هغه یې دَ رانیولو کوشش کوي. نو چې کوم یو راونیوے شي بیا هغۀ له سترګې تړي او دغه شان دا لوبه جاري وي. دا لوبه دَ هلکانو او جینکو دواړو دَ دلچسپۍ ده.

(2) **چیندرو** : دا لوبه خالصه دَ جینکو لوبه ده او تقریباً دَ لږ څۀ فرق سره په ډېرو علاقو کښې یې جینکۍ کوي. په زمکه کرښې راکاږي او کورکي شان جوړ کړي. بیا یو ګرد څیز دَ ټیکرۍ موسۍ وغېره مختلفو کورکو کښې غورځوي او جینۍ په کرښه پښه نۀ ږدي او په یوه پښه روانه وي موسۍ مختلفو کورکو ته اړوي. کۀ چرې دغه جینۍ په کرښه پښه کېږدي نو هغه وسوزي یعني آؤټ شي. دَ دغو کورکو بیل بیل نومونه هم وي لکه یو کا، دوه کا، درې کا، دمو (دمچو)، زرین، میرا (مېرو) وغېره.

(3) **سخے سخے**: دَ لویو هلکانو لوبه ده او پکښې دَ توان او زور مظاهره وي. دوه هلکان په یوه پښه یو بل ته مخامخ کېږي. یوه پښه یې په لاسونو نیولې وي او په ارګوډي په یو بل ورځي او یو بل په اوږه وهي. کوم چې راوغورځېږي هغه بائلي.

(4) **بلوري یا شینولي (مړدکي)**: دَ دغه شان لوبو ډېر قسمونه دي چې په بلورو یا شینولو (مړدکو) کېږي. ځنې په غوزانو کېږي او ځنې په کوډو (د کاڼي یا دَ ځناور دَ ښکر نه جوړ مړدکي) کولے شي. په بلورو چې کومه لوبه کېږي هغې ته فېل او ګولۍ وائي. ځنې علاقو کښې دې بلورو ته شینولي هم

downloaded from awazeinqilab.com
Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



وائي. په دې لوبه کښې دَ مخالف لوبغاړي بلوري په خپل بلوري ويشتل او بلورے کنډې ته غورځول شامل وي. دَ غوزانو لوبه کښې دا وي چې غوزان په يوه دائره کښې کېښودے شي او يو يو تن پرې ګوزار کوي چې څومره غوزان دَ کرښې (پانړۍ) نه بهر کړي نو هغه وګټي. دغه شان په هره علاقه کښې دَ دغه لوبو دپاره خپل خپل دستورونه او رواجونه دي خو بنيادي څيز يې هم دغه بلوري، غوزان او کوډې دي. دَ کوډو کولو خو په ځينو علاقو کښې باقاعده مقابلې هم کېږي.

(5) **موخه ويشتل**: دا يوه ډېره زړه او ګرانه لوبه ده. په ځنې علاقو کښې اوس هم کېږي خو رواج يې کم شوے دے ځکه چې ګرانه ده، زور هم غواړي او خرڅ پرې هم زيات کېږي. دَ دې دپاره ليندۀ او غشي پکار وي. مخامخ په يو دېوال ګل جړۍ لګېدلے وي او هغه پرې وولي. دَ چا غشے چې تيک په ګل جړۍ ولګي هغه يې وګټي. دَ دې غرض دپاره چې کوم دېوال يا بُرجۍ جوړولے شي نو هغې ته بُت وائي. دا يوه ډېره دلچسپه لوبه ده.

دَ دې نه علاوه کبډي، انګۍ، پټه ګيتۍ، کونجکې، ميرګاټې، دَ چا دَ کوڅې خاورې، شلغاټې، لچې موسۍ، چنچغلې، ګلي ډنډا او داسې نورې ډېرې لوبې دي چې زمونږ په سيمه کښې به پخوا ډېرې کېدلې خو اوس ورو ورو په ورکېدو دي. دَ پښتنو دې ټولو لوبو ته کۀ غور وشي نو په دې کښې دَ هر قسم پرېکټس خيال ساتلے شوے دے. دَ منډو مشق په کښې شته، دبار اوچتولو او اړلو مشق پکښې کېږي، دَ ساه اخستلو مشق پکښې شته، دَ شپې دَ ګرځېدلو، په شپه کښې دَ ځان پټولو دَ مخالف فريق دَ ا- ق او هنر هم پکښې موجود دے.





# مشغولتيا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: چيندرو دَ چا لوبه ده؟

ب: دَ چيندرو په لوبه کښې څو کورکي وي؟

ج: دَ بلورو په لوبه کښې څۀ استعمالولے شي؟

د: پټ پټونے هلکان او جينکۍ دواړه کولے شي کۀ نه؟

2. لاندينو جملو کښې صحيح ته صحيح او غلط ته غلط وليکئ:

الف: موخه په بلورو کولے شي.

ب: چيندرو کښې موسۍ استعمالېږي.

ج: سخے سخے دَ ماشومانو لوبه ده.

د: پټ پټوني کښې يو لوبغاړے سترګې پټوي.

ه: غشے دَ ليندې په ذريعه ويشتے شي.

3. تاسو له چې په دې لوبو کښې کومې لوبې درځي دَ هغې نومونه وليکئ اودَخپلو خپلو سيمو دَ لوبو نومونه هم وليکئ.

4: (1) امجد خط وليکلو

(2) خط وليکلے شو.

پورته په وړومبۍ جمله کښې خط ليکل يو فعل دے او امجد دَ دغه فعل (کار) فاعل (کارکونکے) دے. په دوېمه جمله کښې خط ليکلے شوے دے، يعنې فعل (کار) خو شوے دے ولې فاعل (کونکے) يې معلوم نۀ دے نو په وړومبۍ جمله کښې امجد فاعل دے، خط مفعول دے او ليکل يې فعل دے. په دوېمه جمله کښې خط مفعول او ليکل فعل شته دے خو فاعل يې معلوم نۀ دے چې خط چا وليکلو نو وړومبۍ جمله دِ فعل معروف او دوېمه جمله دَ فعل مجهول مثال دے.



downloaded from awazeinqilab.com
awazeinqilab.com
Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com
downloaded from awazeinqilab.com



یعني هغه چې فاعل یې معلوم وي هغه فعل معروف او چې فاعل یې معلوم نهٔ وي هغه فعل مجهول وي.

### فعل معروف:

ریحان کتاب ولوستو.

فاطمه لوبې کوي.

ندیم موخه وویشته.

### فعل مجهول:

کتاب ولوستے شهٔ.

لوبې کولے شي.

موخه وویشتې شوه.

دَ دې نه علاوه دَ فعل معروف او فعل مجهول نور درې درې مثالونه ولیکئ.



## جابر بن حیان

په دې سبق کښې به تاسو لولئ:

- ✓ دَ یو مشهور مسلمان سائنسدان دَ ژوند حال
- ✓ دَ هغهٔ دَ سائنسي کارونو په حقله معلومات
- ✓ دَ هغهٔ مشهورې کارنامې

جابر بن حیان په هغه مسلمانانو سائنسدانانو کښې دَ لوړې درجې مالک دے چا چې دَ علم خدمت کړے دے او دَ انسانانو دَ فائدې او ښېګړې دپاره یې کوشش کړے دے. هم دغه وجه ده چې په بېن الاقوامي توګه دَ جابر بن حیان دَ علمي کارونو اعتراف کولے شي او په عزت او احترام یې نوم اخستے شي.

دَ جابر بن حیان باره کښې وئیلے شي چې دے په طوس یا خراسان کښې پیدا شوے وهٔ او دَ یوې غریبې کورنۍ سره یې تعلق لرلو. دَ دهٔ پلار به دَ داروګانو خرڅولو کاروبار کولو. خو دَ حکومت سره دَ اختلاف په وجه هغه پانسي کړے شو او دَ یتیم جابر دَ پالنې کار دَ هغهٔ مور تر سره کړو. بیا مور دَ خپلوانو کره دَ کوفې اطرافو ته ولیږلو او هلته یې دَ وړوکوالي زمانه تېره کړه. تعلیم یې ډېر کم وهٔ. کله چې زلمے شونو کوفې ته لاړو. دغلته علمي ماحول وهٔ. چې په جابر یې ډېر اثر وکړو او دَ



Not For Sale

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



زياتي علم حاصلولو کلکه اراده يې وکړه. هلته يې په يوه مدرسه کښې داخله واخسته او دَ علم دَ شوق لرلو په وجه ډېر زر دَ علمونو په حاصلولو کښې کامياب شو.

جابر په عملي ژوند کښې لا څهٔ کړي نهٔ وو چې په سر کښې يې دَ کېمياګرۍ (دَ سرو زرو جوړولو) لېونتوب پېدا شو. دهٔ دَ کېمياګرۍ آلات او سامان راغونډ کړو او تجربې يې شروع کړې. ډېرو تجربو او معلوماتو حاصلولو نه پس اګر چې هغهٔ سرهٔ زر جوړ نهٔ کړے شو خو دَ نورو څيزونو په جوړولو يې شهرت تر لاسه کړو.

په دغه زمانه کښې دَ دهٔ دومره شهرت وشو چې دَ خليفه هارون الرشيد وزير اعظم جعفر برمکي هغه بغداد ته راوغوښتو. دَ هغهٔ يې قدر او عزت وکړو او ډېر انعامونه يې ورکړل.

جابر بن حيان په خپل ژوند کښې ګڼ کتابونه وليکل چې پکښې يې خپلې تجربې او علمي انکشافات بيان کړي دي. هغه دَ کېميا دَ علم باني ګڼلے شي او په ټوله دنيا کښې دَ کيميا او دَ فلسفې دَ علومو دَ يو لوے استاذ په حېثيت هم هغه دَ يو لوړ مقام څښتن منلے شوے دے.

هغهٔ چې کوم اصول او قواعد مقرر کړي دي، هغه تر ننه پورې منلے شي. دَ هغهٔ کارنامې خو ګڼې دي خو څنې يې لاندې بيانوو.

❖ عمل تصعيد يعني دَ دوايانو نه جوهر بيلول او لرې کول چې اثرناکې شي او محفوظې شي.
❖ دَ قلم طريقه (CRYSTALIZATION) او په دې طريقه دوايانې قلمي کول.
❖ فلټر کول او دَ هغې طريقه
❖ هغه وړومبنے سائنسدان دے چې درې قسمه نمکيات يې دريافت کړل.





❖ دَ دهٔ تر ټولو لويه کارنامه دَ تېزابو جوړول او دريافت کول وو.
❖ دَ معدنياتو دَ سوزولو او ورنه دَ کُشتې جوړولو (oxidization) نازکه طريقه يې دريافت کړه.
❖ جابر په وړومبي ځل معلومه کړه چې دَ معدنياتو نه دَ کُشتې جوړولو نه پس يې وزن لږ شان زيات شي.
❖ جابر دا طريقه معلومه کړه چې اوسپنه څنګه صفا کولے شي او څنګه دَ زنګ نه بچ کولے شي.
❖ هغه دَ پلاسټک يا موم جامې جوړولو هم موجد دے.
❖ جابر دَ څرمنې رنګ کولو طريقه معلومه کړه.
❖ دَ وېښتو تورولو دپاره يې خضاب تيار کړل.

او دَ دې نه علاوه هغهٔ نورې ډېرې تجربې او ايجادات کړي دي چې دَ کلهم انسانيت په ښېګړه راځي.

دا لوے سائنسدان په کال 814 عيسوي کښې وفات شو او په طوس ښار کښې دفن کړے شو.

ماخوذ: ’’سل مسلمانان سائنسدانان‘‘ نه

## مشغولتيا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: دَ جابر بن حيان نوم په څهٔ وجه په عزت اخستے شي؟

ب: دَ جابر بن حيان دَ وړوکوالي حالات په مختصره توګه بيان کړئ.

ج: جابر بن حيان په کوفه کښې خپله علمي نيمګړتيا څنګه پوره کړه؟

د: جابر بن حيان دَ کوم علم دپاره تجربې وکړې او خپل نوم يې روښانه کړو؟



downloaded from awazeinqilab.com
Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com

downloaded from awazeinqilab.com



ه: دَ جابر بن حيان په کارنامو کښې پينځۀ کارنامې خپلو کاپو کښې خوش خطه وليکئ.

2. دَ لاندينو ټکو اپوټه وليکئ:

لوړ، علم، عزت، غريب، کم، لېونے، ښېګړه، ښار.

3. دَ لاندينو الفاظو واحد وليکئ:

مسلمانان، درجې، کارونه، داروګان، خپلوان، تجربې، آلات

4. دَ کالم (الف) لفظونه دَ کالم (ب) لفظونو سره جوړه جوړه کړئ چې نوي بامعني ټکي جوړ شي:

| کالم (الف) | کالم (ب) |
| --- | --- |
| علمي | اراده |
| کلکه | ماحول |
| لويه | ګړي |
| کيميا | سائنسدان |
| خليفه | هارون الرشيد |

5: په ورکړې شوي درېو جوابونو کښې په صحيح جواب دَ (√) نخښه ولګوئ:

الف: دَ جابر بن حيان تعلق دَ کومې کورنۍ سره وۀ؟

(1) دَ غريبې (2) دَ مالدارې (3) دَ شاهي

ب: دَ جابر بن حيان په سر کښې دَ څۀ لېونتوب پيدا شو؟

(1) دَ هسپتال جوړولو (2) دَ کارخانې جوړولو (3) دَ سرو زرو جوړولو

Not For Sale



ج: جابر بن حيان دَ کوم علم باني ګڼلے شي؟

(1) دَ طب دَ علم (2) دَ کيميا دَ علم (3) دَ منطق دَ علم

د: دَ جابر بن حيان ايجادات دَ چا په ښېګړه راغي؟

(1) دَ کلهم انسانيت (2) دَ مسلمانانو (3) دَ پښتنو

awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com

downloaded from awazeinqilab.com




# اَمیر حمزه خان شنواري

پہ دې سبق کښې بہ تاسو لولئ:

- ✓ دَ امیر حمزه خان شنواري دَ ژوند حال
- ✓ دَ هغهٔ دَ تعلیم متعلق معلومات
- ✓ دَ هغهٔ دَ شاعرۍ په حقله خبرې
- ✓ دَ هغهٔ دَ کتابونه په حقله معلومات

دَ حمزه شنواري پوره نوم امیر حمزه خان شنواري دے. په پښتو شاعرانو کښې دَ اوچتې درجې دَ شاعر په حېث مشهور دے او تقریباً ټوله پښتونخوا دَ دوي دَ نوم سره واقفیت لري.

امیر حمزه خان شنواري دَ خیبر ایجنسۍ په لواړګي کښې په کال 1907ء کښې پیدا شو. دَ پلار نوم یې ملک میرباز خان وهٔ. په خیبر ایجنسۍ



کښې دَ پښتنو دوه لویې قبیلې اپریدي او شنواري اوسي. دَ حمزه بابا تعلق دَ شنواري قبیلې سره وهٔ. حمزه شنواري تر نهم جماعته پورې تعلیم په اسلامیه کالجیټ سکول پېښور کښې حاصل کړو. خو دَ تعلیم سره یې شوق نهٔ وهٔ ځکه نو تعلیم یې پرېښودو. دوي په کال 1924ء کښې وادهٔ وکړو. حمزه بابا

Not For Sale



ډېرو ځایونو کښې نوکر شو خو نوکرۍ هم خوند ور نهٔ کړو.

په پېښور کښې سید عبدالستار شاه باچا جان اوسېدو. دَ هغهٔ ډېر مریدان وو او هغوي ته به یې دَ سلوک او معرفت دَ لارې ښودنه کوله. حمزه شنواري به هم دَ دغه سید عبدالستار شاه باچا په مجلس کښې ناسته کوله. دغسې په هغهٔ دَ باچا جان ډېر زیات اثر وشهٔ او دَ هغې نتیجه دا شوه چې حمزه شنواري دَ باچا جان نه لاس نیوه وکړه او دَ هغهٔ مرید شهٔ.

حمزه بابا دَ سکول دَ وخت نه شاعري شروع کړې وه. خو هغهٔ به په اردو کښې شاعري کوله. خپل پیر سید عبدالستار شاه باچا دَ دوي پام دَ پښتو شاعرۍ ته راوګرځولو او چې دَ پیر صاحب وېنا وه نو حمزه شنواري ومنله او خپله توجه یې پښتو شاعرۍ ته وکړه او دغه شان یې په پښتو شعر و ادب کښې یو خصوصي مقام بیاموندو.

دوي دَ نورو شاعرانو په مرسته په پېښور کښې دَ "بزم ادب" بنیاد کېښودو. په کال 1933ء کښې چې په نوښار کښې پښتو ادبي جرګه جوړه کړې شوې وه نو بیا وروستو حمزه صاحب هم په دغه جرګه کښې ګډون کولو او دَ دغه جرګې دَ جوړونکو سره یې ژور تعلق وهٔ. خو دوي به په پېښور کښې دَ بزم ادب اجلاسونه کول چې پکښې به اکثر مشاعرې کېدې. بیا چې په کال 1951ء کښې اولسي ادبي جرګه جوړه کړې شوه نو امیر حمزه خان شنواري هم دغه بزم ادب په اولسي ادبي جرګه کښې شامل کړو.

حمزه صاحب یوائې شاعر نهٔ وهٔ بلکې هغهٔ دَ رېډیو او فلم دپاره ډرامې او فلمي قیصې هم لیکلې دي او دَ یو ښهٔ ډرامه لیکونکي په حېثیت هم ډېر لوړ مقام لري.

حمزه شنواري په اُردو، فارسۍ او په عربۍ او انګرېزۍ هم عبور لرلو. دَ علامه اقبال دَ فارسۍ مشهور کتاب "جاوېد نامه" یې په پښتو نظم کښې

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



ترجمه کړې ده او دَ عبدالرحمٰن بابا دَ ديوان يې په اُردو نظم کښې ترجمه کړې ده. دَ حمزه بابا سفرنامې هم چاپ شوې دي (1) "دَ حجاز په لور" چې دَ دوي دَ حج دَ سفر احوال دے، (2) "دَ کابل سفرنامه" چې دَ افغانستان دَ سفر په حالاتو مشتمله ده (3) دَ چوړ سفر او (4) نوے پښتون.

دَ حمزه بابا دَ شاعرۍ ګڼې مجموعې چاپ شوې دي لکه غزوونې، سپرلے په آئينه کښې، پرې وونې ، بهير، سلګۍ، "دَ حمزه بابا کليات" چې دَ پښتو اکېډيمۍ پېښور يونيورسټۍ نه په پينځو جلدونو کښې چاپ شوي دي.

په نثر کښې يې ژوند ، تجليات، دَ خوشحال بابا يو شعر، انساني انا او پوهه او ځنې نور کتابونه چاپ شوي دي او دَ هغوي دَ علميت اندازه ترې لګېدے شي.

دَ حمزه شنواري په شاعرۍ کښې په مختلفو موضوعاتو شعرونه موجود دي. خو خصوصاً دَ تصوف رنګ پرې جوت دے. په شعرونو کښې يې قومي رنګ، وطني احساسات، اخلاقيات، ننګ، پښتو ، غېرت او دَ پښتونولۍ رنګ څرګند ليدے شي. دَ غزل کمال ته رسولو په وجه ورته دَ غزل بابا لقب ورکړے شوے دے او يقيناً چې دغه لقب ورسره ښائي هم.

دا لوے شاعر، ستر صوفي او په پښتو ژبه او پښتون قام مئين اديب دَ فرورۍ دَ مياشتې په اتلسم تاريخ کال 1994 کښې په حق ورسېدو او په سبا له خپل کلي لواړګي (لنډي کوتل) کښې خاورو ته وسپارلے شو. حکومت دَ دهٔ په مزار يو کمپليکس هم جوړ کړے دے چې شاعران او اديبان پکښې دَ دوي په ياد کښې غونډې او مشاعرې کوي.



## مشغولتيا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:

(الف) امير حمزه خان شنواري دَ کومې درجې شاعر وهٔ؟

(ب) دَ امير حمزه خان شنواري دَ پلاز نوم څهٔ وهٔ او دې کله او کوم ځاے پېدا شوے وهٔ؟

(ج) حمزه صاحب دَ چا په وېنا پښتو شاعري شروع کړه؟

(د) دَ حمزه صاحب په شاعرۍ کښې دَ څهٔ رنګ ښکاره دے؟

(ه) حمزه صاحب ته دَ غزل بابا ولې وائي؟

(و) حمزه صاحب کله وفات شو او چرته دفن کړے شو؟

(ز) دَ حمزه صاحب دَ څلورو کتابونو نومونه وليکئ.

(ح) دَ حمزه بابا کليات په څو جلدونو کښې چاپ دي؟

2. دَ واحد جمع او دَ جمع واحد وليکئ:

پښتانهٔ، شاعر، نومونه، وادهٔ، مريدان، اجلاس، مشاعرې.

3. دَ امير حمزه خان شنواري دوه شعرونه ذَ چارټ په توګه خوشخطه وليکئ.

4. حروف په دوه قسمه دي، يو ته شمسي حروف او دوېم ته قمري حروف وائي.

دَ شمسي حروفو مثالونه: عبدالستار، عبدالرحمان، عبدالرب ، عبدالسبحان.

ذَ قمري حروفو مثالونه: عبدالاکبر، عبدالجبار، عبدالغفار، عبدالحميد.

لکه چې پورته مو ولوستل په شمسي حروفو کښې "لام" په ليکلو کښې راځي خو وئيلے نهٔ شي او په قمري حروفو کښې په ليکلو او وئيلو دواړو کښې "لام" موجود وي.

downloaded from awazeinqilab.com

awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com

downloaded from awazeinqilab.com



ترجمه کړي ده او دَ عبدالرحمٰن بابا دَ ديوان يې په اُردو نظم کښې ترجمه کړې

ده. دَ حمزه بابا سفرنامې هم چاپ شوې دي (1) "دَ حجاز په لور" چې دَ دوي دَ حج دَ سفر احوال دے، (2) "دَ کابل سفرنامه" چې دَ افغانستان دَ سفر په حالاتو مشتمله ده (3) دَ چوړ سفر او (4) نوے پښتون.

دَ حمزه بابا دَ شاعرۍ کُنې مجموعې چاپ شوې دي لکه غزوونې، سپرلے په آئينه کښې، پرې وونې، بهير، سلګۍ، "دَ حمزه بابا کليات" چې دَ پښتو اکېډيمۍ پېښور يونيورسټۍ نه په پينځو جلدونو کښې چاپ شوي دي.

په نثر کښې يې ژوند، تجليات، دَ خوشحال بابا يو شعر، انساني انا او پوهه او ځنې نور کتابونه چاپ شوي دي اودَ هغوي دَ علميت اندازه ترې لګېدے شي.

دَ حمزه شنواري په شاعرۍ کښې په مختلفو موضوعاتو شعرونه موجود دي. خو خصوصاً دَ تصوف رنګ پرې جوت دے. په شعرونو کښې يې قومي رنګ، وطني احساسات، اخلاقيات، ننګ، پښتو، غېرت او دَ پښتونولۍ رنګ څرګند ليدے شي. دَ غزل کمال ته رسولو په وجه ورته دَ غزل بابا لقب ورکړے شوے دے او يقيناً چې دغه لقب ورسره ښائي هم.

دا لوے شاعر، ستر صوفي او په پښتو ژبه او پښتون قام مئين اديب دَ فرورۍ دَ مياشتې په اتلسم تاريخ کال 1994 کښې په حق ورسېدو او په بابا له خپل کلي لواړګي (لنډي کوتل) کښې خاورو ته وسپارلے شو. حکومت دَ ده په مزار يو کمپليکس هم جوړ کړے دے چې شاعران او اديبان پکښې دَ هغې په ياد کښې غونډې او مشاعرې کوي.



## مشغولتيا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:

(الف) امير حمزه خان شنواري دَ کومې درجې شاعر وۀ؟

(ب) دَ امير حمزه خان شنواري دَ پلار نوم څۀ وۀ او دې کله او کوم ځاے پېدا شوے وۀ؟

(ج) حمزه صاحب دَ چا په وېنا پښتو شاعري شروع کړه؟

(د) دَ حمزه صاحب په شاعرۍ کښې دَ څۀ رنګ ښکاره دے؟

(ه) حمزه صاحب ته دَ غزل بابا ولې وائي؟

(و) حمزه صاحب کله وفات شو او چرته دفن کړے شو؟

(ز) دَ حمزه صاحب دَ څلورو کتابونو نومونه وليکئ.

(ح) دَ حمزه بابا کليات په څو جلدونو کښې چاپ دي؟

2. دَ واحد جمع او دَ جمع واحد وليکئ:

پښتانۀ، شاعر، نومونه، وادۀ، مريدان، اجلاس، مشاعرې.

3. دَ امير حمزه خان شنواري دوه شعرونه دَ چارټ په توګه خوشخطه وليکئ.

4. حروف په دوه قسمه دي، يو ته شمسي حروف او دوېم ته قمري حروف وائي.

دَ شمسي حروفو مثالونه: عبدالستار، عبدالرحمان، عبدالرب، عبدالسبحان.

دَ قمري حروفو مثالونه: عبدالاکبر، عبدالجبار، عبدالغفار، عبدالحميد.

لکه چې پوره ته مو ولوستل په شمسي حروفو کښې "لام" په ليکلو کښې راځي خو وئيلے نۀ شي او په قمري حروفو کښې په ليکلو او وئيلو دواړو کښې "لام" موجود وي.

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



5. په ورکړي شوي درېو جوابونو کښې په صحيح جواب دَ (✓) نخښه ولګوئ.

(الف) دَ حمزه شنواري دَ حج دَ سفرنامې څۀ نوم دے؟

(1) دَ مکې په لور (2) دَ مدينې په لور (3) دَ حجاز په لور

(ب) دَ نوښار پښتو ادبي جرګه په کوم کال جوړه شوې وه؟

(1) 1933ء (2) 1934ء (3) 1935ء

(ج) حمزه شنوارې دَ علامه اقبال دَ کوم کتاب پښتو منظومه ترجمه کړې وه؟

(1) ضرب کليم (2) بال جبريل (3) جاويد نامه

(د) دَ حمزه بابا کليات دَ پښتو کومې ادارې چاپ کړې دي؟

(1) پښتو ادبي ټولي (2) اولسي ادبي جرګې (3) پښتو اکيډيمي

(ه) اولسي ادبي جرګه په کوم کال جوړه شوې وه؟

(1) 1948ء (2) 1950ء (3) 1951ء



دَ امير حمزه خان شينواري مزار

Not For Sale



خوشحال خان خټک
پېدائش : 1022 هجري
وفات : 1100 هجري

## مرد

مرد به نۀ شي په ګفتار
څو پيدا نۀ کړي کردار

چې عزت ورڅخه نۀ وي
هغه مرد نۀ وي پکار

هم مهره لري هم زهر
ښۀ مردان وي لکه مار

چې هم تندر هم باران وي
تر هغو مردانو ځار

مرد به غم دَ خپل هنر کا
نۀ دَ زر نۀ دَ دينار

مرد به غم کا دَ خپل شرم
دَ عزت او اعتبار

نامرد فخر په نسب کا
مرد نۀ مور لري نۀ پلار

دَ خوشحال خبرې ګوره
لعل و دُر پېيي په تار

ماخوذ: دَ خوشحال خان خټک کليات

Not For Sale

downloaded from awazeinqilab.com
awazeinqilab.com
Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



## مشغولتیا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: مرد په څهٔ مرد جوړېږي؟

ب: هم مهره لري هم زهر .... ښهٔ مردان وي لکه مار

دَ دې شعر څهٔ مطلب دے؟

ج: دَ تندر او باران نه څهٔ مراد دے؟

د: مرد دَ څهٔ غم کوي؟

ه: نامرد په څهٔ فخر کوي؟

2. دَ ټکو معني وليکئ:

ګفتار، کردار، مُهره، هنر، زر، دينار، نسب، دُر، پېيل

3. مصرعي پوره کړئ:

مرد به نهٔ شي په ..........

هغه مرد نهٔ وي..........

هم مُهره لري هم..........

مرد به غم دَ خپل ..........

نامرد فخر په ..........

لعل و دُر پېيي په..........

4. لاندې په ورومبۍ کرښه کښې ټکي ورکړي شوي دي او په دويمه کرښه کښې دَ هغې اَپوته يامتضاد ګډوډ ليکلي شوي دي. تاسو دَ هر لفظ سره خپل متضاد ملګرے کړئ:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| مرد | عزت | زهر | باران | غم |
| شات | سوکره | نامرد | خوشحالي | ذلت |

5. کوم لفظونه چې يو شان معني لري هغو ته مترادف الفاظ وائي لکه دنيا او جهان. تاسو دَلاندې ورکړي شوي لفظونو مترادف وليکئ:

ګفتار، مرد، هنر، زر، فخر



# دَ قائد اعظم وينا

(دَ طالب علمانو په حقله)

په دې سبق کښې به تاسو لولئ:

- ✓ دَ قائد اعظم دَ طالب علمانو په حقله کړي خبرې
- ✓ دَ هغهٔ نصيحتونه
- ✓ دَ قائد دَ طالب علمانو سره مينه

قائد اعظم محمد علي جناح وخت په وخت تعليمي ادارو ته تشريف وړے دے او طالب علمانو سره يې مخامخ خبرې کړې دي. هغوي ته يې نصيحتونه کړي دي او دَ ملک دَ ترقۍ دپاره يې د هغوي لارښودنه کړې ده. قائد اعظم به هميشه طالب علمانو ته وئيل چې تعليم حاصل کړئ او دغه زده کړه مو دَ ملک او قوم په ښه راولئ. قائد اعظم چې اېډورډز کالج پېښور ته په 18 اپريل 1948ء کښې تشريف راوړے وهٔ نو هلته يې استاذانو او طالب علمانو ته دا رنګ تقرير کړے وهٔ.

"اوس خو مونږ ته نور هم ګران کار په مخکښې دے. دَ يوې پېړۍ يا دَ دې نه هم دَ زياتې مودې پورې دَ غلامۍ دَ ژوند تېرولو په وجه مونږه دَ غلط ذهنيت، غلط کردار او دَ خرابو رسمونو رواجونو ښکار شوي يو. دا خرابۍ مونږ ته دَ غلامۍ دَ زمانې نه په ميراث کښې پاتې شوي دي. اوس پوښتنه دا ده چې مونږ په موجوده حالاتو کښې دَ نوي سره تعمير او تنظيم څنګه وکړو؟ او مونږه دغه هر څهٔ په نوي قالب کښې څنګه واچوو؟ معاملو له څهٔ شکل ورکړو؟ او حالات څنګه بدل کړو؟"


Not For Sale

downloaded from awazeinqilab.com
awazeinqilab.com
Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



هم دغه شان چې کله يې د پېښور اسلاميه کالج ته تشريف راوړو نو په 14 جنورۍ 1948 کښې يې طالب علمانو ته په خپل تقرير کښې ووئيل:



"مونږ د پاکستان غوښتنه د دې دپاره نۀ ده کړې چې د زمکې يوه ټوټه حاصله کړو بلکې مونږ يوه داسې تجربه ګاه ترلاسه کول غوښتل چرته چې مونږ په اسلامي اصولو عمل وکړے شو."

په دولسم اپرېل کال 1948ء کښې يې د پېښور اسلاميه کالج کښې د سپاس نامې په جواب کښې ووئيل:

"تاسو خپل ځانونه د زړۀ له تله د تعليم حاصلولو دپاره تيار کړئ. ستاسو د مور پلار له اړخه، ستاسو د وطن له اړخه او خپله ستاسو له اړخه دا ستاسو د ټولو وړومبۍ ذمه واري ده چې ستاسو په غاړه ده."

قائد اعظم د تعليم سره سره د هنر په زده کولو او د تعليم د ټولو ځانګو نه د ځان خبرولو په لړ کښې په 12 اپرېل کال 1948ء کښې د اسلاميه کالج پېښور د هلکانو د سپاس نامې په جواب کښې ووئيل:

"زما زلمو دوستانو! تاسو له پکار دي چې خپل پام د سائنس، تجارت، بنکارۍ، بيمې، صنعت او حرفت او هنري تعليم په لور وګرځوئ. زمونږ په ژوند کښې چې کوم زبردست او بنيادي بدلون راغلے دے نو پکار دي چې تاسو په هغې ځانونه پوه کړئ. تاسو له





يوازې سرکاري نوکرۍ مقصد ګرځول پکار نۀ دي، لکه چې د دې بدلون نه اګاهو به تاسو داسې کول. ستاسو په وړاندې اوس نوي مېدانونه او نوې لارې پرانستې دي، چرته چې ستاسو دپاره بې شمېره موقعې دي."

قائد اعظم يو ربنتونے مسلمان وۀ. هغۀ په الله پاک باور لرلو او طالب علمانو ته به يې هم دغه تعليم ورکولو چې هغوي دې هم د الله تعالی په ذات باور ولري. په دغه سلسله کښې يې په اسلاميه کالج پېښور کښې په 12 اپرېل کال 1948ء کښې طالب علمانو ته دا نصيحت وکړو:

"زمونږ د کاميابۍ دارومدار به زمونږه په اتحاد، نظم و ضبط او په پوخ يقين وي ولې صرف په ځان باور لرل به کافي نۀ وي. مونږ له د دنيا په پالونکي (الله تعالی) پوره پوره توکل او باور پکار دے چې هغه د بنيادمو او د قومونو تقدير جوړوونکے دے."

قائد اعظم په هره موقع طالب علمانو ته هم دغه شان نصيحتونه کړي دي. کۀ چرې په دغو نصيحتونو عمل وکړے شي نو په ډېرو مشکلاتو به قابو بيامونده شي او د طالب علمانو راتلونکے ژوند به ورسره روښانه شي او هغوي سره چې د دې ملک او قوم کوم اميدونه تړلي دي نو هغه به هم تر سره شي او د ملک او قوم په ښه به راشي.

ماخوذ: د قائد اعظم اور طلباء تلخيص او ترجمه



downloaded from awazeinqilab.com
awazeinqilab.com
Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

# Download PDF MCQs, Books and Notes for any subject from the Largest website for free

**awazeinqilab.com** آوازانقلاب ڈاٹ کام

and also Available in Play Store

- Primary (5th) Level
- Middle (8th) Level
- Matric (10th) Level
- F. Sc (12th) Level
- BS (16th) Level
- Urdu Grammar
- Curriculum (Govt Books)
- Past Papers
- English Grammar
- Readymade CV

NTS, FTS, CSS, PMS, ETEA, KPPSC, PPSC, SPSC, AJKPSC, BPSC, KPTA ETC

## Available Subjects



- Agriculture
- Computer Science
- Economics
- English
- Biology
- Chemistry
- Geology
- Management Sciences
- Microbiology
- PCRS/ Pak Study
- Pharmacy
- Sociology
- Zoology
- Chemistry
- Statistics
- Physics
- Mathematics
- Law
- Environmental Sciences
- Botany
- Biotechnology
- Library & Information Sciences
- Journalism & Mass Communication
- Political Science
- Geography
- General Science
- Education
- Tourism & Hotel Management
- Urdu
- Pashto
- Islamic & Arabic Studies
- Electrical Engineering
- Civil Engineering
- Mechanical Engineering
- Chemical Engineering
- Software Engineering
- Election Officer
- General Knowledge
- Pedagogy
- Current Affairs
- Medical Subjects
- Judiciary & Law
- other



ہر Subject کے Notes اور MCQS فری ڈاؤن لوڈ کریں۔ نیز CV کے MS word تیار Templates ڈاؤن لوڈ کر کے اپنے حساب سے Modify کریں۔

awazeinqilab.com

WhatsApp : 03025247378

Downloaded from awazeinqilab.com



## مشغولتیا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: قائد اعظم به طالب علمانو ته همېشه دَ څۀ وېنا کوله؟

ب: په 12 اپرېل کال 1948ء کښې قائد اعظم دَ اسلاميه کالج پېښور طالب علمانو ته څۀ ووئيل؟

ج: کۀ چرې دَ قائد اعظم په نصيحتونو عمل وکړے شي نو نتيجه به يې څۀ وي؟

2. دَ قائد اعظم دَ قولونو نه يو قول خوشخطه وليکئ او په کلاس کښې يې ځوړند کړئ.

3. دَ لاندينو ټکو معنې وليکئ:

پېړۍ، اصول، اګاه، هنري، نمونه، روښانه

4. په دې سبق کښې پينځۀ اسم معرفه او پينځۀ اسم نکره ولټوئ او په کاپو کښې يې وليکئ.

5. شاګردان دې په کلاس کښې دَ قائد اعظم دوه قولونه زباني واوروي.





## بوعلي سينا

په دې سبق کښې به تاسو لولئ:

- ✓ دَ بوعلي سينا دَ ژوند متعلق معلومات
- ✓ دَ هغۀ مشهورې کارنامې
- ✓ په سائنسدانانو کښې دَ هغۀ مقام

دَ بوعلي سينا خپل نوم شيخ حسين او مشهور په ابن سينا او دَ پلار نوم يې عبدالله وۀ. دَ دۀ پلار دَ بلخ (افغانستان) استوګن وۀ. هغه چې کله خپل وطن بلخ نه، بخارا ته راغلو نو دَ حکومت يوه اعلیٰ عهده يې بيامونده. څۀ موده پس په يوه بله عهده دَ بخارا په اطرافو کښې يو کلي ته ولېږلے شو، هم هلته يې وادۀ وکړو او هم په دغه مقام په اګست 980 عيسوي کښې ابن سينا پېدا شو.

ابن سينا دَ شپږو کالو په عمر کښې دَ خپل پلار سره بخارا ته لاړو او دلته دَ ابن سينا پالنه شروع شوه. دَ لسو کالو په عمر کښې يې قرآن مجيد ياد کړو او دَ رسمي تعليم يې هم حاصل کړو. دَ ادب کتابونه يې ولوستل او دَ مختلفو استاذانو نه يې علم حاصل کړو. دَ پينځلسو شپاړسو کالو په عمر کښې بوعلي سينا دَ طب، فلسفې، فقهې، رياضۍ، لُغت، عروض، منطق، علم کلام او نورو علمونو حاصلولو کښې کاميابي ترلاسه کړه.





Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com
downloaded from awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com

downloaded from awazeinqilab.com



دَ دهٔ عمر به شپاړس اوولس کاله وهٔ چې یوه اهمه واقعه پېښه شوه. په دغو ورځو کښې دَ بخارا باچا نوح بن منصور ساماني سخت ناروغه شو. دَ علاج دپاره دَ حکیمانو یوه پوره ډله موجوده وه خو دغو حکیمانوٗ باچا له مشوره ورکړه چې حکیم ابن سینا هم دَ حکیمانو په دې ډله کښې شاملول پکار دي. ابن سینا راوبللے شهٔ او دَ طبیبانو په ډله کښې شامل کړے شو. هغهٔ دَ باچا دَ علاج ډېر کوشش وکړو او الله پاک ورله شفا ورکړه. په بدل کښې یې باچا ابن سینا دَ شاهي کتب خانې مهتمم مقرر کړو.

دا یوه ډېره لویه کتب خانه وه او پکښې دَ هر علم کتابونه موجود وو. ابن سینا له الله پاک تېزه حافظه، ذهانت او قابلیت ورکړے وهٔ او چې عمر یې اتلسو کالو ته رسېدو نو دَ هغه زمانې ټول علمونه یې حاصل کړي وو.

ابن سینا دَ ښو اخلاقو څښتن وهٔ. مستقل مزاجه او محنتي وهٔ. دَ هغهٔ اراده مضبوطه وه. دَ لټون او تحقیق کولو شوق یې لرلو. ټوله شپه به یې لیکل او لوستل کول.

دَ ابن سینا عمر چې دوه ویشت کاله شو نو پلار یې وفات شهٔ او لږې ورځې پس بیا دَ بخارا باچا هم مړ شهٔ. ځکه نو ابن سینا دَ ژوند په هغه پړاو ودرېدهٔ چې چاپېره ترې پرېشانۍ وې او دَ اړې ګړي پېدا کېدو په وجه ابن سینا له بخارا نه دَ خوارزم دربار ته راغلو. له خوارزم نه جرجان ته لاړو او هلته ابوعبېده جرجاني دَ دهٔ شاګرد شو او پنځویشت کاله یې هغهٔ خدمت وکړو. په کال 1015 عیسوي کښې ابن سینا له جرجان نه اصفهان ته تللو چې په لاره کښې په وړو وړو ریاستونو کښې دَ بدامنۍ په وجه هغه ډېرو تکلیفونو سره مخ شو. په کال 1022 عیسوي کښې هغه دَ امیر علاء الدوله ابوجعفر کوویه په صحبت مشرف شهٔ چې هغه یو ازاد خیال او عالم سړے وهٔ. هغهٔ به همېشه ابن سینا دَ ځان سره ساتلو.



یو ځل دَ یو جنګ په موقع ابن سینا ناروغه شهٔ چې څومره دغه مهم اوږدېدهٔ نو دَ هغهٔ ناروغي هم زیاتېدله. دَ بیمارۍ په حال کښې هغه په کمزوري وجود اصفهان ته راغلو. خو څو ورځې پس بیا دَ امیر علاء الدوله سره همدان ته لاړو. نو دَ قولنج (دَ کولمو درد) مرض پرې حمله وکړه او په 21 جون کال 1037 عیسوي دغه عظیم سائنسدان وفات شهٔ. مزار یې په اصفهان کښې تر ننه موجود دے.

دَ ابن سینا دَ کتابونو شمېر دَ سلو نه زیات دے. خو دېرش کتابونه یې عام دي او موضوع یې معلومه ده. دهٔ په فلسفه، ریاضۍ، کېمیا، علم حیاتیات، تشریح الاجسام، فقه، لُغت، عروض، منطق، طبیعیات، علم الادویه او دَ مرضونو په علامتونو په خپلو کتابونو کښې بحث کړے دے. دَ دهٔ دَ کتابونو په یورپي ژبو کښې ترجمې شوې دي او دَ دنیا په لویو سائنس دانانو کښې دَ یو لوے حېثیت خاوند دے.

ماخوذ : دَ"سل مسلمانان سائنسدانان"نه

## مشغولتیا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: دَ بو علي سینا دَ پلار څهٔ نوم وهٔ او دې دَ کوم ځاے وهٔ؟

ب: بو علي سینا دَ څو کالو وهٔ چې قرآن مجید یې یاد کړو؟

ج: دَ پینځلسو، شپاړسو کالو په عمر کښې بو علي سینا کوم علمونه حاصل کړي وو؟

د: دَ باچا دَ علاج کولو نه پس باچا بو علي سینا په کومه عهده مقرر کړو؟

ه: بو علي سینا کله وفات شو او قبر یې چرته دے؟

و: بو علي سینا څومره کتابونه لیکلي دي؟

Not For Sale

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



2. دَ لاندينو ټکو معنې وليکئ:

استوګن، پالنه، طب، ناروغه، شفا، مهتمم، کتب خانه، لټون.

3. واحد او جمع بيل بيل وليکئ:

طرف، وادۀ، کتابونه، رساله، کلونه، علم، ارادې.

4. پـه مضـمون کښـې دَ ځينـې علمونـو نومونـه راغلـي دي پکـار دي چـې استـاذ/استـاذه طالـب علمـان دَ دغـو علمونـو نـه خبـر کـړي لکـه طـب، فلسفه، فقه، رياضي، لُغت، عروض، منطق، علم کلام وغيره.

5: په دې سبق کښې دَ قمري او شمسي حروفو لټون وکړئ او کاپو کښې يې وليکئ.

6: په لاندې ورکړې شوؤ درېو جوابونو کښې دَ سبق مطابق صحيح جواب ته دَ (✓) نخښه ولګوئ:

الف: دَ بو علي سينا خپل نوم څۀ وۀ؟

(1) شېخ ابرار (2) شېخ اياز (3) شېخ حسېن

ب: ابن سينا دَ څو کلونو په عمر کښې پلار سره بخارا ته لاړو؟

(1)دَلسو کلونو (2)دَ شپږو کلونو (3) دَ اتو کلونو

ج: ابن سينا دَ څنګه اخلاقو څښتن وۀ؟

(1) دَ ښو اخلاقو (2) دَ خرابو اخلاقو (3) دَ نېکو اخلاقو

د: په ابن سينا کوم مرض حمله کړې وه؟

(1) دَ سر درد (2) دَ کُولمو درد (3) دَ پښو درد





# نياز بادشاه شهيد

په دې سبق کښې به تاسو لولئ:

- ✓ دَ لانس نائيک نياز بادشاه شهيد مړانه
- ✓ دَ هغۀ دَ شهادت واقعه
- ✓ دَ هغۀ دَ خپل وطن دپاره دَ سر قرباني ورکول.
- ✓ هغۀ ته دَ ستارۀ جرات اعزاز ورکېدل

دَ وطـن پالنـه او دَ وطـن حفاظـت کول په هر چا فرض دي او څوک هم چې خپـل وطـن سـره مينـه محبـت لـري نـو هغـوي پـه خپـل وطـن ځـان قربـانوي. زمونږه په قوم کښې هم داسې وګړي ډېر زيـات تېـر شـوي دي او اوس هـم موجـود دي چـې دَ خپـل وطـن دپـاره يـې خپـل سـرونه هـم قربـان کـړي دي او دَ شـهادت لوړه درجه يې حاصله کړې ده.

په دغه شان سر شيندونکو خلقو کښې يو لانس نائيک نياز بادشاه شهيد هم دے. کله چې هندوستان په شپږم ستمبر 1965ء کښـې پـه پاکسـتان دَ شـپې ناڅاپـه حملـه وکـړه نـو دَ پاکسـتان اولـس او فـوځ دَ دښـمن پـه وړانـدې لکـه دَ اوسپنې دَ دېوالْ ودرېدل او دَ دښمن حمله يې په شا وتمبوله. دغو بهادرانو او سر شيندونکو کښې يو نياز بادشاه شهيد هم دے. دې په رېنجرز کښې وۀ چې دَ وطن دَ پُولو حفاظت کوي.

دَ شپږم ستمبر کـال 1965ء پـه شـپه چـې کله دښـمن حملـه کولـه نـو نيـاز بادشاه دَ بېـديان (لاهـور) پـه محـاذ موجـود وۀ. چـې ناڅاپـي يـې دَ ډزو اوازونـه واورېدل او چې کوم ملګرے يې په ډيوټۍ ولاړ وۀ پـه وينـو کښـې خـړوب شـۀ. په هغوي ناتار ډزې کېدې نو څملاستو، سوچ يې په ځاے شو. ټوپـک تـه يـې لاس کړو. ښۀ پـه تسلۍ يـې ډک کړو. دغـه وخت يـې دَ دښـمن لـه اړخـه دا اواز

downloaded from awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



واورېدو. تاسو چې په دې مورچه کښې څومره کسان يئ ځانونه مونږ ته حواله کړئ. نياز بادشاه جواب ورکړو چې تر څو مې په وجود کښې ساه وي نو تاسو ما نه شئ ګرفتارولے. نياز بادشاه مقابله کول غوره وګڼل حالانکې يو اړخ ته د دښمن د فوځ دوه کمپنۍ وې او بل اړخ ته ايکې يواځې نياز بادشاه وۀ. هغۀ تر ډېره وخته مقابله وکړه خو ګوله بارود ورسره ختم شو. هغۀ ټوله څوکۍ ولټوله نو بارود ختم وو. هغه يواځې په تش لاس دغلته ولاړ وۀ او د دښمن د ګولو باران پرې ورېدو.

دښمن پوه شو چې څوکۍ خالي نۀ ده خو سپاهيانو سره ګوله بارود ختم شوي دي. د دښمن دا خيال نۀ وۀ چې ګني دغلته ايکې يو نياز بادشاه دے. نو دښمن پرې لاسي بمونه غورځول شروع کړل. د دې جواب نياز بادشاه دا وکړو چې هغوي به کوم لاسي بم راګزار کړو نو نياز بادشاه به بيرته په هغوي ورغورځولو او دغه شان يې د دښمن يو سيکشن فوځ تباه کړو. پوره يوه ګېنټه دغه شان مقابله جاري وه. د دښمن لفټيننټ کرنل چې دا حال وليدو نو هغۀ د يو سپاهي نه لاسي بم واخستو، پن يې ترې ووېستو او چې په خلاصېدو کښې يې دوه سيکنډه پاتې شول نو د نياز بادشاه اړخ ته يې ورګزار کړو.

نياز بادشاه چې دغه لاسي بم راپورته کړو نو په هغۀ وچلېدۀ او نياز بادشاه شهيد شۀ.

د دښمن فوځ چې مورچې ته دننه شو نو د نياز بادشاه مړے يې رابهر کړو. د دښمن کرنل خپلو سپاهيانو ته ووې چې دا هغه بهادر دے چې دۀ په يوازې د شپې د څلورو بجو نه د ورځې د اتو بجو پورې مونږ سره مقابله وکړه. دغه بهادر انسان ته ټول سلام وکړئ او په عزت يې يو خوا ته دفن کړئ. د کرنل حکم ومنلے شو.



نياز بادشاه شهيد د کرک ضلعې د لتمبر کلي اوسېدونکے وۀ. سره د دې چې بې تعليمه وۀ خو په خپل غېرت، سرېتوب او د وطن په مينه يې يو نۀ ختمېدونکے مقام بيامونده چې تر عمره عمره به ياد ساتلے شي. د پاکستان حکومت ورله د دغه بهادرۍ په بدله کښې د ستارۀ جرات اعزاز ورکړو.

## مشغولتيا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:
   - الف: کوم خلق په وطن ځان قربانوي؟
   - ب: هندوستان په پاکستان کله حمله کړې وه؟
   - ج: نياز بادشاه شهيد په 6 ستمبر کال 1965ء کښې چرته وۀ؟
   - د: نياز بادشاه شهيد په څۀ طريقه مقابله جاري وساتله؟
   - ه: نياز بادشاه شهيد د کوم ځاے وۀ؟
   - و: نياز بادشاه ته د بهادرۍ په وجه کوم اعزاز ورکړے شوے وۀ؟

2. په دې ټکو اعراب ولګوئ:

   پټنه، مقابله، سر شيندونکي، رېنجرز، خروب، لاسي بمونه.

3. خالي ځايونه په مناسبو ټکو ډک کړئ:

   د دښمن فوځ چې ...... ته دننه شۀ نو د نياز بادشاه شهيد ..... يې رابهر کړو. د دښمن کرنل خپلو ........ ته ووې چې دا هغه .......دے چې دۀ په ..... ځان د شپې د څلورو ..... نه د ورځې تر ......... پورې مونږ سره ........ وکړه.

N

downloaded from awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



4. دَ کالم (الف) سره سمون خوړونکي دَ کالم (ب) لفظونه په خپلو کښې يو ځاے کړئ:

| کالم الف | کالم ب |
|---|---|
| دَ وطن | نياز بادشاه |
| دَ شهادت | راپورته |
| لانس نائيک | پالنه |
| لاسي بم | واوربدهٔ |
| اواز | لوړه درجه |

5. لانديني ټکي په خپلو جملو کښې استعمال کړئ:
وطن پالنه، شهادت، ناڅاپه، ايکي يواځې، دفن، اعزاز

6: اسمِ ظرف هغه اسم ته وائي چې دَ ځاے او وخت دَپاره استعمالولے شي لکه سکول، جومات، هسپتال، ډاک خانه، کال، مياشت، ورځ، ګېنټه.

دَ اِسمِ ظرف دوه قسمه دي:

(1) اسمِ ظرفِ مکان (2) اِسمِ ظرفِ زمان

(1) اِسمِ ظرفِ مکان: هغه اِسمونه چې دَ ځايونو نومونه وي لکه سکول، هسپتال، ډاک خانه، رېلوے سټېشن او ځنې نور.

(2) اسمِ ظرفِ زمان: هغه اِسمونه چې دَ وخت او زمانې سره يې تعلق وي لکه کال، مياشت، ګېنټه، سېکنډ، منټ، پېړۍ او ځنې نور.

په دې سبق کښې دَ اسم ظرف مکان او اسم ظرف زمان لټون وکړئ.



عبدالغني خان (لېونے فلسفي)
پېدائش 1914 وفات 15 مارچ 1996

## مړه

اوسې په کندو کښې ياره غل يې پلار دې غل وۀ
مور دې غلچکې وه ستا نيکهٔ دَ بدو مل وۀ

قوم دې حرام خور دے قبيله دې حرام خوره ده
مړه شوې په غوړو پسې لکې توره دې سپوره ده

سترګې دې کاسيرې دي، چل بازې دې، بې شرمې دي
کلک دې دي غابښونه او پاپۍ دې نرمې نرمې دي

خېټه دې کُوپۍ ده دَ کدُو يا دَ شناز هسې
سر دې دَ نولي او برېتوکي دَ تُوره باز هسې

غلا کړې لهٔ غريبه، غلا لهٔ خانه، دَ بنيا نه کئ[1]
سېد او ملا نهٔ پېژنې بوته لهٔ هر چا نه کئ

ستا دا روکې[2] خېټه دې همه جهان مړه نهٔ کړه
ستا کاسيره تنده دَ عمرونو غلا سړه نهٔ کړه

ذات دې ځناور دے خو خوراک کئ دَ انسان هسې
اوسې په خځخوړې کښې فېرنې ځتې دَ خان هسې

زړهٔ دې دَ يزيد دے طبيعت دې دَ شيطان هسې
چين دې دَ منت دے خو همت دَ پالوان هسې

downloaded from awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



خو ور چې شي پیشو له نو پولاؤ پېتي دې هېره شيَ
پیش په خېټه مور شي په تا ګیاره باره تېره شي

ماخوذ دَ "غني لټون" دَ عبدالغني خان

| | |
|---|---|
| (1) | کوې |
| (2) | وړوکې |

## مشغولتیا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: مره چرته اوسېږي؟

ب: دَ مرو قام قبیله څنګه ده؟

ج: دې نظم کښې دَ مرې کړه وړه څنګه بیان کړي شوي دي؟

د: په مره چې پیشو پېښه شي نو انجام يې څهٔ شي؟

2. خالي ځايونه ډک کړئ:

سترګې دې ............

کلک دې دې...............

پاپې دې ...................

خېټه دې ...................

سر دې دَ ...................

برېتوکي دَ ...................

3. دَ لاندينو تکو معنې وليکئ:

غلچکى، کاسيرې، چل بازې، پاپی، بولله، څخخوړے.





4. شاعر دَ مرې همت ستائيلے دے. دَ همت په سرخط پينځهٔ کرښې مضمون وليکئ.

## مشغولا

1. استاذ دې په شاګردانو دَ دې نظم دَ زباني يادولو مشق وکړي.



awazeinqilab.com

downloaded from awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com




# دَ قیصه خانۍ دَ شهیدانو یادګار

پـه دې سبق کښې به تاسو لولئ:

- ✓ دَ انګرېزانو دَ ظلم یوه دردناکه واقعه
- ✓ په ازادۍ غوښتونکو دَ ګولو چلول
- ✓ دَ قیصه خانۍ بازار په وینو سرۀ کېدل

دَ پېښـور مشـهور بـازار قیصـه خانۍ کښې دَ شهیدانو یادګار دَ پښتنو او دَ پېښور دَ خلقو دَ ازادۍ سره دَ مینې او محبت یـو لازوالـه یادګـار دے. دا یادګار دَ هغه واقعې یاد تازه کوي چې پـه 23 اپرېـل 1930 عیسـوي دلتـه دَ پېرنګي فـوځ پـه تـش لاسـو خلقو ګولۍ چلولې وې او هغوي یې دَ آرمرډ ګاډو دَ لاندې چخنې کړي وو.

قیصـه داسې وه چې دَ پېرنګي دَ غلامۍ نه دَ خلاصې دپاره پـه دې سیمه



کښـــې ازادي خوښـــو او اصـــلاح کونکـــو ډلـــو یـــو تحریـــک شـــروع کـــړے وۀ. دغـو ورځـو کـښې پېرنګي یو نوے قانون جوړ کړو. دَ هغې خلاف په ازادۍ مئین خلق ډېر خفه شو او فېصله یې وکړه چې دَ دې خلاف احتجاج کول پکار دي.



پېرنګي حکومت تـه چې معلومه شوه چې سبا خلق دَ حکومت خلاف جلوسونه را اېستل غواړي نو دَ ازادي خوښو مشران یې ګرفتارول شروع کړل چې پکښې خـان عبـدالغفار خـان او دَ هغـۀ نـور ملګـري علامـه عبدالرحیم پوپلزے، علي ګل خان، خان میر هلالي او نور ډېر کسان ګرفتار کړے شو. عام اولس خو دَ مخکښې نه احتجاج ته تیار وۀ خو چې هغوي دَ دې مشرانو دَ ګرفتارو نه خبر شول نو سحر وختي ټول په جمع راووتل، دَ حکومت خلاف یې نعرې وهلې. ګرفتار شوي مشران کـابلۍ تـانې تـه چې قیصه خانۍ کښې ده، بوتلي شوي وو. دا خلق هم کابلۍ تانې پله روان شو. ډېر زیات خلق وو. کله چې دا خلق کابلۍ تانې ته ورسېدل نو انګرېز ډپټي کمشنر فوځ راوغوښتلو.

لږ وخت کښې فوځي آرمرډ ګاډي قیصه خانۍ تـه رانـنوتـل. خلق بیا هم خوارۀ نۀ شول. هغوي لیدل چې ګاډي راروان وو خو دا دَ چا په خیال کښې هم نۀ راتلل چې دا وحشي ګوره ګان به اولس چخنې کوي ځکه چې نۀ خو شر فساد شوے وۀ، نۀ دَ حکومت خلاف څۀ جارحانه قدم پورته کړے شوے وۀ او خلق په امن ناکه توګه ولاړ وو او نعرې یې وهلې خو دَ دې باوجود آرمرډ ګاډو څو کسان چخنې کړل. پـه راغلو خلقو کښې اشتعال پېدا کېدل یوه قدرتي خبره وه.

آرمرډ ګاډي هغه وخت داسې وو لکه نن سبا چې ټېنکونه دي. پـه دغو ګاډو کښـې ناسـتو فوځیانو هر اړخ تـه ډزې کولې خو دوي پـه خپلـه پـه دغو ګاډو کښې محفوظ ناست وو. دغه شان چې هغوي ډېر کسـان چخنې کړل نو یو زلمي دَ سر نه ودانګل او په څۀ طریقه دَ ګاډي لاندې ورننوتو او دَ ګاډي دَ تېلو ټینکۍ تـه یې اور ورتـه کړو. ګاډي اور واخسـتو پکښـې موجود ګولـه بـارود هم وچلېدل او پکښې ناست فوځیان هم سکروټه شول. دَ دغـه ګـاډي سوزېدل حکومت دَ فوځ خلاف یوه کارروائي وګڼله.

downloaded from awazeinqilab.com
Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



احتجاج کونکو هغه شان دَ حکومت خلاف نعرې وهلې، دغه وخت نور فوځي کُمک هم راورسېدو چې پکښې ګړوالي سپاهيان هم وو. دوي ته چې کله حکم وشو چې په خلقو ګولۍ وچلوئ نو ګړوالي سپاهيانو دَ ډزو کولو نه انکار وکړو خو نورو فوځيانو په مظاهره کونکو ډزې شروع کړې خو اولس دَ ثابت قدمۍ مظاهره وکړه، صندوقونه، ډرمونه او تختې يې په سړک وغورځولې او سړک يې دَ فوځ دپاره بند کړو. دَ قيصه خانۍ بازار دَ شهيدانو په وينو سُور الوان شو. بيا دغو وحشيانو دَ سړک نه ګېر چاپېره ابادۍ هم په نخښه کړې.

دَ مړو شمېره ډېره زياته وه. عامه اندازه خو دَ درې سوه نه دَ زياتو شهيدانو وه ځکه چې ډېرش څلوېښت لاشونه خو رضاکارانو راپورته کړې وو باقي لاشونه فوځيانو په لارو کښې نامعلومه ځاے ته وړې وو. دَ يوې اندازې مطابق 325 ازادي خوښې شهيدان شوي وو.

دا وړوکے قيامت په 23 اپريل 1930 عيسوي کښې تېر شو. دَ دې نه پس حکومت دَ مسلمانانو، هندوانو او سکهانو دَ سر سر مشران هم ګرفتار کړل.

دَ دغې شهيدانو په ياد کښې بيا وروستو په قيصه خانه کښې يو يادګار جوړ کړے شو. چې نن هم موجود دے. دا يادګار مونږ ته دا څرګندوي چې دَ دې وطن ازادي مونږ له چا په خېرات کښې نۀ ده راکړې بلکې دَ ډېرو قربانو او تکليفونو نه پس زمونږه مشرانو حاصله کړې ده.

## مشغولتيا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: دَ قيصه خانۍ دَ شهيدانو يادګار دَ پښتنو کومه جذبه رايادوي؟





ب: دَ قيصه خانۍ پېښه په کوم تاريخ او کوم کال شوې وه؟

ج: دَ خلقو دَ پُرامنه احتجاج جواب پېرنګيانو په څۀ ورکړو؟

د: يو زلمي چې دَ سر نه ودانګل نو څۀ يې وکړل؟

ه: دَ قيصه خانۍ په دې پېښه کښې څومره خلق شهيدان شوي وو؟

2. لاندينې ټکي په خپلو جملو کښې استعمال کړئ.

يادګار، جلوس، اشتعال، مظاهره، سُور الوان، قيامت

3. دَ لاندينو ټکو او ترکيبونو معنې وليکئ.

لازواله، اصلاح کونکي، آرمړه ګاډي، جارحانه، دَ سر نه دانګل، کُمک، وحشي

4. کۀ تاسو ته دَ پېرنګيانو دَ ظلم او تشدد څۀ واقعه مشرانو بيان کړې وي نو په هغې دَ کلاس ملګرو سره خبرې وکړئ.

5. استاذ/استاذه دې ماشومانو ته دَ ازادۍ دپاره دَ قربانۍ ورکونکو حال احوال بيان کړي.

6. لاندينو لفظونو کښې دَ مذکر لفظ مونث او دَ مونث لفظ مذکر وليکئ:

کونتره، غوا، ورور، پلار، زمرې

7. دَ ورکړې شوو درې جوابونو نه دَ سبق مطابق په يو صحيح جواب دَ (✓) نخښه وکړئ.

downloaded from awazeinqilab.com
awazeinqilab.com
Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



الف: دَ پېښور کوم بازار مشهور دے؟

(1) خیبر بازار (2) صدر بازار (3) قیصه خانی بازار

ب: په 23 اپریل کال 1930ء کښې پېرنګي فوځ په چا ګولۍ چلولې وې؟

(1) په وسله بنده خلقو (2) په تش لاسو خلقو (3) په ازادي خوښو

ج: احتجاج کونکو دَ حکومت خلاف څۀ کړل؟

(1) احتجاج يې کولو (2) کاڼي يې ورول (3) نعرې يې وهلې

د: باقي لاشونه فوځيانو چرته وړي وو؟

(1) سیند ته (2) نامعلومه ځاے ته (3) مقبرې ته






# غني خان

غنـي خـان پـه هغـه پښتنو شاعرانو، اديبانو او پوهانو کښې شامل دے چې دَ ادب دَ طالب علمانو نه علاوه يـې عـام اولـس هـم پېژني او دَ دهٔ دَ شاعرۍ قدر کوي. دَ غني خان خپل نوم عبدالغني خـان وۀ. پـلار يـې دَ ازادۍ دَ جنګ نامتو سرلښکر عبدالغفار خان وۀ چې دَ باچاخان په نوم په ټوله دنيا کښې ياد دے.

په دې سبق کښې به تاسو لولئ:

- ✓ غني خان څوک وۀ؟
- ✓ دَ غني خان دَ ژوند احوال
- ✓ دَ هغۀ دَ شاعرۍ په حقله خبرې
- ✓ دَ هغۀ دَ وطن سره مينه



عبدالغفار خان غوښتل چې پښتانۀ تعليم حاصل کړي، دَ دوي نه دښمني او تربګني لرې شي او دوي هم دَ دنيا دَ نورو قامونو په شان ترقي وکړي. دَ دغـه غـرض دپـاره هغـۀ پـه پښـتونخوا کښـې ځاے په ځاے ازاد سکولونه جوړ کړل. يو سکول يې په خپل کلي



downloaded from awazeinqilab.com
Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com

downloaded from awazeinqilab.com



اتمانزو ضلع چارسده کښې جوړ کړو. دَ باچا خان دوؤ زامنو عبدالغني خان او عبدالولي خان په دغه سکول کښې تعليم حاصل کړو.

عبدالغني خان په کال 1914عيسوي کښې پيدا شو. دې دَ پلار مشر زوے وۀ نو په دې وجه ډېر نيازبين وۀ خو دَ دې باوجود ډېر قابل وۀ. دَ ځوارلسو کالو په عمر کښې يې لسم پاس کړو او دَ لوړو زده کړو دپاره په کال 1929 عيسوي کښې لندن ته واستولے شو. په کال 1930 عيسوي کښې دَ کېميکل انجنيئرنګ دَزده کړې دپاره امريکې ته لاړو او په کال 1933 عيسوي کښې بيرته راغلو. دَ تخت بايۍ دَ چينو په کارخانه کښې يې څۀ موده دَ ټېکنيکل منېجر په توګه کار وکړو.

هغه دَ يو سياسي خاندان غړے وۀ او هم دغه وجه وه چې څۀ موده دپاره دَ هندوستان په مرکزي اسمبلۍ کښې ممبر هم پاتې شو.

غني خان دَ ازادۍ په تحريک کښې عملي برخه هم اخستې وه او په دغه دوران کښې يې دَ خپلې شاعرۍ په ذريعه په خلقو کښې دَ ازادۍ دَ شعور پيدا کولو پوره پوره کوشش کولو. دَ دۀ په شعرونو کښې دَ ازادۍ خواهش تر ټولو اهم عنصر وۀ. لکه چې وائي:

چې خازې شنې مې په قبر وي ولاړې
کۀ غلام مړ وم راځئ توکئ پرې لاړې
چې په خپلو وينو نۀ يم لمبېدلے
په ما مۀ پليتوئ دَ جومات غاړې
چې قطرې قطرې مې فوځ دَ دښمن نۀ کړې
مورې! ما پسې په کوم مخ به تۀ ژاړې
يا به دا بې ننګه ملک باغ عدن کړم
يا به کړم دَ پښتنو کوڅې ويجاړې

Not For Sale



دَ غني خان شاعرۍ کښې دَ ازادۍ غورځنګ، طنزومزاح، روماني او فلسفيانه خيالات په لويه پېمانه موجود دي.

په نثر کښې يې دَ "ګډې وډې" په نوم دَ هغه وخت په "پښتون" رساله کښې په حاضرو حالاتو مقصدي او دَ خوند نه ډک ليکل کړي دي. غني خان دَ شاعر نه علاوه يو ښۀ مصور، مجسمه ساز او سنګ تراش هم وۀ.

دَ دۀ دَ شاعرۍ وړومبۍ مجموعه دَ "پنجرې چغار" دَ جېل دننه ليکلې شوې شاعري وه. نور يې هم ډېر کتابونه چاپ دي خو اوس ټول "دَ غني کليات" او بيا "دَ غني لټون" کښې يو ځاے کړے شوي دي. په انګرېزۍ کښې دَ پښتنو باره کښې "دي پټانز اے سکيچ" او په اردو کښې "خان صاحب" دَ دوي يادګار کتابونه دي.

دا عظيم شاعر، لوے اديب، اوچت فلسفي، ستر مصور، دانشور او مفکر په 15 مارچ 1996 عيسوي کښې وفات شۀ او دَ خپل کلي اتمانزو په مقبره کښې خاورو ته وسپارلے شۀ. په ګور يې نُور شه. آمين.

## مشغولتيا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: غني خان په کومو شاعرانو او اديبانو کښې شامل دے؟

ب: عبدالغفار خان (باچا خان) څۀ غوښتل؟

ج: عبدالغني خان کله پيدا شوے وۀ؟

د: دَ غني خان دَ تعليم باره کښې خپل معلومات بيان کړئ.

ه: دَ غني خان دَ درېو کتابونو نامې وليکئ.

و: غني خان کله وفات شوے او چرته دفن شوے دے؟

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com

downloaded from awazeinqilab.com



2. لاندیني تکي په خپلو جملو کښې استعمال کړئ:
اولس، شاعري، پښتانهٔ، پښتونخوا، ممبر، ازادي.

3. "ازادي دَ دنیا یو لوے نعمت دے". دَ ازادئ په اهمیت یو ورکوټے مضمون ولیکئ.

4. تاسو دَ پښتو دَ پخوانو پینځو او اوسنو پینځو شاعرانو نومونه ولیکئ او کوشش وکړئ چې دَ هغوي شعرونه هم حاصل کړئ او په کاپو کښې یې ولیکئ.

5. دَ دې سبق نه پینځهٔ اسم معرفه او پینځهٔ اسم نکره راغونډ کړئ او وئې لیکئ.

6. په لاندینو لفظونو اعراب ولګوئ:
نامتو ، تعلیم ، نیازبین ، ټیکنیکل ، دوران ، شعور

## مشغولا

1. دې سبق کښې چې دَ غني خان کوم شعرونه راغلي دي، شاګردان دې دَ هغې چارټ جوړ کړي او په کلاس کښې دې یې اوېزاند کړي.

Not For Sale



# تور داغونه

په دې افسانه کښې به تاسو لولئ:

- ✓ چې شریفے څوک دے او څهٔ کار کوي
- ✓ هغه چې دَ زوي دپاره دارو وړي نو څهٔ چل پرې وشي.
- ✓ دَ تېزو تللو انجام څهٔ وي.

شریفي له چې ټېکدار دَ هفتې پینځهٔ دَ پاسه سل روپۍ او سره دَ مزدورۍ یوه ورځ چوټي ورکړه نو دَ هغهٔ دَ خُلې نه ورته بې اختیاره ډېرې دعاګانې وختې او په دعا دعا دَ ټېکدار دَ دفتر نه راووتو. اګر کهٔ دَ هغهٔ زړهٔ په سرو سکروټو پروت وهٔ خو بیا هم ډېر خوشحاله وهٔ. دومره خوشحاله چې هغهٔ یې هېڅ اندازه نهٔ شوه لګولې. ځکه چې دا ځل دَ هغهٔ جېب کښې پېسې وې نو دَ هغهٔ دا یقین وهٔ چې کهٔ په علاج وي نو لونګین رانه دَ مرګ اژدها نهٔ شي خوړې.

دَ هغهٔ وړومبني ذوه زامن په داسې حالت کښې مړهٔ شوي وو چې شریفے دَ پولي تاک مارغهٔ وهٔ. اوس دَ دهٔ زېړے رنځ نهٔ وهٔ او دَ دهٔ لاسو او پښو کښې دَ مزدورۍ کولو طاقت پېدا شوے وهٔ. په دغه ګرانه ګرانۍ کښې دهٔ دومره څهٔ ګټل چې قُوت لا یموت یې پرې کېدو خو بېګا شپه کښې چې ورته دَ درېو کالو ماشوم لونګین په قے دست ناجوړه شهٔ او شپه په شپه چې کومو کورونو ته دَ سبانۍ ورځې په نېته دَ قرض غوښتو په غرض ورغلو او دَ هغو ټولو دروازې ورته بندې وې نو باقي شپه په دهٔ ډېره اوږده شوه او چې مُلا بانګ وئیلو نو دهٔ بیا اتهٔ میله پیاده مزل وهلے وهٔ او کهٔ ټېکدار او ډاکټر صاحب دَ

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



وخت نه مخکښې دفتر او دواخانې ته راغلې وې نو دې به اوس بیا هم کلي ته رارسېدلې وئ.

اوس دَ هغې دومره توندي وه چې دَ موټر تګ به ورته دَ مېږي قدم ښکارېدئ. ځکه چې هغه دَ ټېکدار دَ دفتر نه دَ ډاکټر دوکانه پورې په رکشه کښې کښېناستو نو دَ رکشې خاوند ته دَ غصې نه خُول بُول وئ. کۀ چرې هغۀ ته دَ رکشې دَ چلولو چل ورتلے نو ډرائېور به يې دَ غوږ نه نيولے وئ او په خپل ځاے به يې کښېنولے وئ او رکشه به يې لکه دَ هوائي جهاز په هوا کړې وه ولې کۀ هغه وس يې پرې نۀ رسېدو نو په غصه خو يې ډرائېور ته دَ تېز تللو وېنا کولې شوه کنه. ځکه خو اوس دَ ډرائېور دَ سر پاره هم ختلې وه. هغۀ هم دَ خپل سره ودانګل او رکشې لکه دَ مار تګ شروع کړو. کله به دَ ټانګې دَ ترخ نه وتله او کله به دَ موټر نه مخکښې لکه دَ کب وښوئېده او ځو کرته په سړک په روانو کسانو لکه دَ ايرړي ګډ ورخوشې شوه خو چې خوا له به يې ورسېده نو لکه دَ اوبو به يې ځان له لاره وکړه. کۀ هر څو شريفي دَ مرګ چينګې داړې وليدې خو دَ لونګين څهره يې ترې پټولې نۀ شوه. کۀ هر څۀ کېدل خو هغۀ ډاکټر ته ځان رسول غوښتل. دَ ډاکټر نه پس به بيا هغۀ اتۀ ميله مزل کولو چې پکښې يو ميل پياده هم وئ.

شريفے دَ ډاکټر دکان ته ورنزدې شوے وۀ خو مخې ته ورته په چارسُو کښې شنه باتۍ ښکارېده. په خُلۀ يې ډرائېور ته ووئيل چې شابه ګله! چې دَ سرې باتۍ دَ لګېدو نه مخکښې دَ چارسُو نه ووځو او په خپله دَ پنجو په سر شو او خپل سيټ ته مخامخ په جنګله داسې ورپرېوتو لکه چې دې هم رکشې سره خپل زور شاملوي او دې نور په ځان پوه نۀ شو خو دومره پوه شۀ چې دَ يو ترق سره دَ دۀ سترګو ته سره لمبه شوه او چې پرې دا اواز وشۀ چې دَ لونګين پلاره! اوس څنګه ئې؟





دۀ سترګې پرانستې، ګېر چاپېر يې وکتل. اخوا دې خوا ورته دنيا بل شان ښکاره شوه. دې حېران شو او تپوس يې وکړو. شېرينې دا کوم ځاے دے؟

جرنېلي هسپتال، شېرينې ورته په ژړغوني اواز کښې ووئيل.

"ولې لونګين هسپتال کښې دے څۀ؟"

"دَ لونګين نن درېمه ورځ ده چې دَ دارو ضرورت يې نشته."

"لونګين جوړ شۀ؟" هغۀ په هېبت پوښتنه وکړه.

"هو.... خو اوس دَ لونګين غم پرېږده. خپل غم کوه." هغې لکه په زړۀ زور کېښو او جواب يې ورکړو.

"زما پښه ولې نۀ اوچتېږي شېرينې؟" شريفي بيا په حېرانتيا تپوس وکړو.

"ډانګټر وائي چې ماته ده." شېرينې جواب ورکړو.

"ماته ده؟" هغۀ په تعجب تپوس وکړو.

"نه، هسې ډانګټر صېب وئيلي دي." شېرينې دَ هغۀ دَ خيال بدلولو لهجه کښې ووئيل.

"ښه نو هن.... دا ايساب (حساب) واله (واخله) او لونګين له پرې دارو راوړه" او دغه خبرې سره هغۀ جېب ته لاس کړو. هن....... دَ شريفي نوره خُله بنده پاتې شوه او شېرينه لکه چې دَ پوهېدو سره ترې دَ پښو نه زمکه تښتېدلې وي او خداے خبر چې څۀ چل وشۀ چې دَ شريفي او شېرينې سترګو ته دَ بنيادمو تور داغونه وځلېدۀ.

ماخوذ: "تور داغونه" دَ سيد مير مهدي شاه مهدي دَ افسانو مجموعه



downloaded from awazeinqilab.com

awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com

downloaded from awazeinqilab.com



## مشغولتیا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: شریفي له ټیکدار څومره روپۍ ورکړې؟

ب: لونګین څوک وهٔ؟

ج: ورومبے د هغهٔ څو زامن مړهٔ وو؟

د: شریفي ولې تیز تلل غوښتل؟

ه: د تیزو تللو نتیجه څهٔ شوه؟

و: شریفے چرته ورسېدو او په څهٔ حالت کښې؟

2. د دې افسانې نه تاسو څهٔ نصیحت حاصل کړو. هغه ولیکئ.

3. دوه یا د دوو نه د زیاتو ټکو داسې ترکیب ته محاوره وایي چې اخري ټکے یې مصدر وي او دغه مصدر په غېر وضعي او مجازي معنو کښې استعمال شوے وي لکه: "له سره دانګل" او "د سر پاره ختل". دې محاورو کښې "دانګل" او "ختل" دواړه مصدرونه دي چې دلته په غېر وضعي او مجازي معنو کښې استعمال شوي دي او ټول ترکیب ته یې غېر وضعي او مجازي معنویت بخښلے دے. دې سبق کښې داسې نورې محاورې ولټوئ او خپلو کاپو کښې یې ولیکئ.

4. د اسم علم پېنځهٔ قسمونه دي چې په دې ډول دي:

الف: تخلص: دا هغه لنډ نوم ته وائي چې شاعران یې په خپلو شعرونو کښې د راوستو دپاره ځان له خوښ کړي لکه هجري د اشرف خان تخلص دے او شیدا د کاظم خان تخلص دے.

ب: خطاب: د عزت یو نوم دے چې بادشاه یا حکومت یې ځینې کسانو له د خدماتو په بدل کښې ورکوي لکه خان بهادر، شمس العلماء، سر، خان صاحب وغیره.



ج: لقب: دا هغه نوم دے چې په یو بنده کښې د دغه نوم څهٔ صفت یا خصوصیت موجود وي. لکه موسیٰ علیه السلام ته کلیم الله وائي ځکه چې هغهٔ د الله تعالیٰ سره خبرې کړې وې.

د: عُرف: دا هغه نوم ته وائي چې د یو سړي د خاص نوم نه علاوه د مینې یا نفرت له کبله مشهور شي لکه نرے، تورے، شینو وغیره.

ه: کُنیت: دا هغه نوم دے چې د مور او پلار یا د زوي او لور په وجه مشهور شي لکه د الماس پلار، د حامد پلار، د حمیدې مور. د کُنیت زیات رواج په عربو کښې دے. هغوي د نوم په ځاے اکثر کُنیت استعمالوي لکه ابن خلدون، ابن مسعود، ابوالقاسم، ابوداؤد او داسې نور.


Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com

downloaded from awazeinqilab.com



# دَ پاکستان ورځ 23 مارچ



اینځر گل بابا چې ماسخوتن له مانځهٔ نه کور ته راغلو نو دَ کور ټول واړهٔ یې د ټي وي ډرامې ته ناست ولیدل. پوښتنه یې وکړه چې ولې تاسو نن دَ سکول کار نهٔ کوئ څهٔ؟ عرفان چې په شپږم جماعت کښې یې سبق وئیلو او دَ خپل کلاس په قابلو هلکانو کښې وهٔ، هغهٔ ووئ چې بابا! سبا له زمونږ دَ سکول چوټي ده، زمونږ استاذ صاحب وئیل چې سبا له 23 مارچ دے او 23 مارچ دَ پاکستان ورځ ده ځکه نو سبا زمونږ چوټي ده.

اینځر گل بابا: ستاسو استاذ صاحب درته دا هم ووئیل کنه چې 23 مارچ په څهٔ وجه اهمه ورځ ده او دَ دغه ورځې اهمیت په څهٔ وجه دے؟

عرفان: ما غوښتل چې د استاذ صاحب نه په دې حقله پوښتنه وکړم خو هغوي ووې چې په دې باره کښې به درته بله ورځ پوره پوره واقعات بیان کړم او دَ 23 مارچ دَ اهمیت نه به مو خبر کړم.

اینځر گل بابا: عرفانه بچے! دَ هر چا دَپاره ضروري ده چې دَ خپل ملک دَ تاریخ نه خبر وي خو دَ یو طالب علم دَپاره دَ ټولو نه





زیاته ضروري ده چې هغه دَ خپل ملک دَ تاریخ نه ضرور اګاه وي.

عرفان: بابا! زما خپل هم دا خیال وهٔ چې تاسو نه پوښتنه وکړم چې په 23 مارچ خو دَ پاکستان ورځ ده او په 14 اګست دَ ازادۍ ورځ ده نو دَ دې دواړو ورځو تاریخ څهٔ دے؟

اینځر گل بابا: په 14 اګست کال 1947ء کښې پاکستان جوړ شو او په 23 مارچ کال 1940ء کښې دَ پاکستان قرارداد منظور کړے شوے وهٔ.

عرفان: بابا! دَ پاکستان دَ قرارداد مطلب څهٔ دے؟

اینځر گل بابا: عرفانه بچے! د 14 اګست کال 1947ء نه اګاهو پاکستان، بهارت او بنګله دېش ټول یو هندوستان وهٔ. په دغه ناوېشلي هندوستان کښې هندوان، مسلمانان، سکهان او عیسایان ټول شریک اوسېدل خو دَ هندوانو شمېره پکښې زیاته وه او په هندوستان دَ انګرېزانو حکومت وهٔ. دَ ناوېشلي هندوستان اولس دَ انګرېزانو دَ غلامۍ نه دَ ځان خلاصولو دَ پاره جدوجهد کولو خو مسلمانانو به دا فکر هم کولو چې کهٔ چرې مونږه دَ انګرېزانو دَ غلامۍ نه ازاد هم شو نو هندوان چې په هندوستان کښې په اکثریت کښې دي نو دَ جمهوري اصولو مطابق حکومت کول به دَ اکثریت وي نو دَ دغه سوچ مطابق په کال 1930ء کښې علامه اقبال هم دا غوښتنه کړې وه چې دَ مسلمانانو دَ پاره په هندوستان کښې یو ځان له برخه یا د زمکې ټوټه پکار ده او په 23 مارچ کال 1940ء کښې



awazeinqilab

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



دَ مسلم ليګ په کليزه جلسه کښې دا قرارداد وړاندې کړے شو چې په هندوستان کښې دې دَ مسلمانانو دَ اکثريت په يونټونو مشتمل علاقې يو ځاے کړې شي او خودمختاره رياستونه دې ترې جوړ کړے شي.

**عرفان:** زۀ دومره خو پوه شوم چې مسلمانان په ناوېشلي هندوستان کښې په اقليت کښې وو او هندوان په اکثريت کښې نو دَ هندوستان دَ تقسيم نه علاوه بله لاره نۀ وه؟

**اينځر ګل بابا:** عرفانه بچے! دَ ازادۍ دَ پاره د هلو ځلو کولو په دوران کښې څو ځله دا خبره ثابته شوه چې مسلمانان او هندوان په يو ملک کښې نۀ شي اوسېدے ځکه چې د دواړو مذهبونه، تهذيبونه، تاريخي روايتونه او عن چې خوراک څښاک هم دَ يو بل نه په فرق وۀ ځکه نو مسلمانانو محسوسه کړه چې دَ هندوانو سره د دوي ګزران ګران دے.

**عرفان:** دا قرارداد چا وړاندې کړے وۀ؟

**اينځر ګل بابا:** دا قرارداد دَ بنګال وزير اعظم مولوي فضل الحق وړاندې کړے وۀ او په اجلاس کښې ټولو موجودو کسانو يې تائيد کړے وۀ او په دغه اجلاس کښې دَ هرې علاقې دَ مسلمانانو نمائندګان موجود وو.

**عرفان:** نو بيا خو پاکستان په 14 اګست 1947ء کښې جوړ شو، دا دومره موده ولې وځنډېدو؟

**اينځر ګل بابا:** دَ ځنډ وجه دا وه چې هندوانو دَ هندوستان تقسيم نۀ منلو او انګرېزان هم په دغه وېش رضا نۀ وو ځکه نو



مسلمانانو د قائد اعظم محمد علي جناح په قيادت کښې دَ پاکستان دَ حاصلولو دَ پاره هلې ځلې وکړې. اخر هندوان او انګرېزان مجبور شول چې دَ هندوستان تقسيم ته غاړه کېږدي. نو عرفانه بچے! دا ملک زمونږ مشرانو په ډېرو قربانو حاصل کړے دے خو دا ياد لرل پکار دي چې 23 مارچ کال 1940ء زمونږ په تاريخ کښې هغه بختوره ورځ ده چې په دې ورځ دَ ناوېشلي هندوستان مسلمانانو ته دَ خپل منزل پته ولګېده او خپل مقصد او مرام ورته معلوم شو چې مونږ به ازادي هم ګټو او ځان له به يو جدا او اسلامي وطن هم حاصلوو.

## مشغولتيا

1. مختصر جوابونه وليکئ:
   - الف: 23 مارچ او 14 اګست کومې ورځې دي او تاريخي حېثيت يې څۀ دے؟
   - ب: دَ پاکستان دَ قرارداد څۀ مطلب دے؟
   - ج: دَ پاکستان قرارداد کله او کوم ځاے منظور کړے شو؟
   - د: دَ پاکستان قرارداد چا وړاندې کړے وۀ؟
   - ه: مسلمانانو دَ هندوستان تقسيم ولې غوښتو؟
   - و: دَ مسلمانانو او هندوانو ترمينځه څۀ فرق دے؟
2. دا لفظونه په خپلو جملو کښې استعمال کړئ:
   ماسخوتن، ټي وي، ډرامه، تاريخ، قرارداد

downloaded from awazeinqilab.com
awazeinqilab.com
Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



3. اعراب ولګوئ:
قرارداد، جدوجهد، اکثریت، اقلیت، تائید

4. اپوته یا متضاد ولیکئ:
واړۀ، ورځ، شریک، غلامي، تائید

5. دَ دې الفاظو معنې ولیکئ:
اهمیت، اګاه، قرارداد، اګاهو، ناوېشلي، جدوجهد، اکثریت، اقلیت، قیادت، مرام

Not For Sale



فضل حق شیدا
پیدائش: 1910ء
وفات: 1985ء

## دَ خیبر کنداؤ

دا چې تورہ تورہ ښکاري
دا چې سپورہ سپورہ ښکاري
چې دَ هرہ لورہ ښکاري
دَ هر چا دَ کورہ ښکاري
دغه کومه دروازہ دہ
دا دَ کوم قبر خازہ دہ

توریالي پکښې اوسېږي
لوئے سرک پکښې ښکارېږي
دَ ښامار غوندې تاوېږي
لکه رګ شیرلے کېږي
دغه لار دَ کوم کاروان دہ
کهکشان دَ کوم اسمان دہ

دا چې ښکاري لړې لړې
دا آهونه دي چا کړې
تولې کتې خړې خړې
دغه ځلے دغه مړے

Not For Sale

downloaded from awazeinqilab.com
awazeinqilab.com
Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com
downloaded from awazeinqilab.com



دا دَ چا پـه وينـو رنـګ دے
دغـه کـوم ميـدان جنـګ دے

پـه قبرونـو ببـري شـوي
دَ غازيـانو ډېـري شـوي
پـه دي لاره تيـري شـوي
قـافلي اوس هېـري شـوي

دَ سُـمونو نخښـې دا دي
دَ سـرو پښـې ښـخي دا دي

ماخوذ دَ فضل حق شيدا ــ دَ شعري مجموعي "اسويلي" نه

## مشغولتيا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: شاعر دَ خيبر دَ درې دَ ښکاربدلو او په نظر راتللو منظر څهٔ رنګ بيان کړے دے؟

ب: دَ خيبر دره کښې څهٔ رنګ خلق اوسېږي؟

ج: دَ درهٔ خيبر سرک چې تاؤ راتاؤ دے نو شاعر ته څنګه ښکاره شوے دے؟

د: دَ درهٔ خيبر په لاره دَ چا قافلې تېرې شوې دي؟

ه: دلته په قبرونو دَ څهٔ ونې ولاړې دي؟

2. دَ واحد جمع وليکئ:

دروازه، قبر، سرک، رګ، څلې، ګټه، ببره، قافله.




3. مصرعې مکملې کړئ:

دا چې .......... ښکاري
دا دَ کوم قبر .............. ده.
دغه لار ............ کاروان ده.
په قبرونو ............ شوي

4. په لاندينو ټکو اعراب (زور، زېر، پېښ) ولګوئ:

خازه، توريالي، کهکشان، ګټې، ميدان جنګ، سمونه.



## مشغولا

5. دَ صوبه خيبر پښتونخوا په نقشه کښې دَ خيبر کنډاؤ په ګوته کړئ.



awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



# سیده بشرٰی بېګم

پـه دې سبق کښې به تاسو لولئ:

- ✓ دَ سیده بشرٰی بېګم دَ ژوند حالات
- ✓ دَ هغې دَ تعلیم په حقله معلومات
- ✓ دَ هغې ادبي خدمات

سیده بشرٰی بېګم چې پـه ادبي دنیا کښې دَ س. ب.ب پـه نامـه یاد ېږي، دا دَ مضبوطې ارادې لرونکې وه، پـه خپل ځان یې اعتماد او باور لرلو او پـه پرله پسې محنت او کوشش یې ځان لـه یـو خاص مقام پیدا کړو. سیده بشرٰی بېګم په کال 1922ء کښې دَ ضلع نوښار په زیارت کاکا صاحب نومې کلي کښې پېدا شوه. دَ زیارت کاکا صاحب کلے دَ لوے ولي الله کستیر ګل (کاکا صاحب، شیخ رحمکار﷫) دَ زیارت په وجه په ټوله پښتونخوا کښې مشهور دے. دَ سیده بشرٰی بېګم پلار میا ازاد ګل کاکاخېل ډېر لوے عالم، ادیب، شاعر، حکیم او صحافي وهٔ، دوي د "افغان" پـه نوم یو اخبار هم جاري کړے وهٔ. سیده بشرٰی بېګم چې په کوم دور کښې پېدا شوې وه نو په هغه دور کښې دَ جینکو دَ تعلیم رواج نهٔ وهٔ او نهٔ دَ جینکو دَ زده‌کړې او تعلیم دپاره سکولونه، کالجونه او ادارې وې. خو دَ دې باوجود س.ب.ب په خپل کور دَ خپل فاضل پلار نه زدکړه شروع کړه او څهٔ نیمګړتیا یې دَ میا لطاف ګل نه پوره کړه.

دَ کور دننه سیده بشرٰی بېګم دَ فارسی، عربی، اُردو او پښتو زده‌کړه وکړه او بیا دَ خپل علمي کور او علمي ماحول پـه برکت یې د اسلامي تعلیماتو هم ژوره مطالعه وکړه او دَ دنیا او دَ خپل ملک دَ سیاسي حالاتو نه

Not For Sale



دَ اخبارونو او رسالو پـه ذریعـه خبرېدله او ځان یې دَ وطن او قوم دَ مسئلو، مشکلاتو او شخړو نه خبرولو.

دَ س.ب.ب په زړهٔ کښې دَ قام او وطن سره بېشانه مینه وه او غوښتل یې چې زمونږه وطن ازاد شي. دَ دې قام خوېندې او لونړه دَ تعلیم پـه کالو ښائسته شي او دَ قام دننه چې کوم فضول رسمونه رواجونه موجود دي چې دغه ختم شي. س.ب.ب دَ دغه غرض دپاره مضمونونه لیکل شروع کړل. شاعري یې هم کوله. هغې دَ خپلو مضمونونو او شاعرۍ پـه ذریعـه دَ پېرنګیانو دَ قبضې نه دَ ازادۍ درس ورکول شروع کړل او دَ ښځو دَ حقونو دپاره یې اواز پورته کړو. دې پـه خپل نظم او نثر دواړو کښې دَ جینکو پـه تعلیم ډېر زور ورکړو. چې په دغه طریقه یو قام ترقي کوي، زنانه چې دَ ابادۍ نیمه برخه ده کهٔ چرې دوي تعلیم حاصل نهٔ کړي او دَ دوي په ذهنونو دَ جهالت تیرې خورې وي نو دوي به دَ یو بچي تربیت څنګه کوي؟ هغوي له به څهٔ زده‌کړه ورکوي؟ او اسلام چې دَ ښځو دپاره کوم حقوق مقرر کړي دي نو هغه چې تر څو پورې ښځو ته ورکړے شوے نهٔ وي نو تر هغې ښځې دَ معاشرې دننه خپل مقام نهٔ شي پېدا کولے. دَ سیده بشرٰی بېګم مضامین او نظمونه به په "پښتون" رساله کښې او ځنې نورو اخبارونو کښې چاپ کېدل.

سیده بشرٰی بېګم به په کور کښې ناستو بې تعلیمه جینکو ته بې زبانه مرغۍ وئیلې. دَ س.ب.ب دَ کلام مجموعه په کال 1956 کښې دَ "زېړے" په نوم چاپ شوه او سیده بشرٰی بېګم چې په حقیقي معنو کښې دَ ازادۍ لېواله وه، دَ دې وطن ازادي یې یو لوے ارمان وهٔ او دَ ښځو دَ تعلیم اوزده‌کړې دپاره یې کوششونه کول نو الله پاک دَ هغې دغه دواړه ارمانونه پوره کړل. نن مونږه دَ پېرنګیانو دَ قبضې نه ازاد یُو او نن مونږ وینو چې په هر کلي او هره بانډه کښې دَ جینکو دپاره سکولونه شته، کالجونه شته او جینکۍ ښه په مینه لو

downloaded from awazeinqilab.com
awazeinqilab.com
Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



شوق تعلیم حاصلوي. دا ټول دَ س.ب.ب او دَ هغې په شان دَ روښانه فکر لرونکو برکت دے. سیده بشرٰی بېګم په 16 اګست 2002 عیسوي کښې وفات شوه او په زیارت کاکا صاحب کښې خاورو ته وسپارلې شوه. خو دَ هغې فکر ژوندے دے. دَ هغې شاعري ژوندۍ ده او په زنانه لیکونکو کښې هغه دَ خپل علم او شاعرۍ په وجه خپل عظمت لري.

## مشغولتیا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: سیده بشرٰی بېګم کله او په کوم ځائے کښې پیدا شوه؟

ب: سیده بشرٰی بېګم خپله زده کړه څنګه وکړه؟

ج: سیده بشرٰی بېګم به کور ناستو بې تعلیمه جینکو ته څۀ نوم اخستو؟

د: دَ سیده بشرٰی بېګم دَ کتاب څۀ نوم دے او کله چاپ شوے دے؟

ه: سیده بشرٰی بېګم کله وفات شوه او کوم ځائے دفن کړې شوه؟

2. خالي ځایونو کښې مناسب ټکي ولیکئ:

سیده بشرٰی بېګم په کال .......... کښې دَ ضلع .......... په زیارت کاکا صاحب نومې کلي کښې ..........شوه. دَ زیارت کاکا صاحب کلے دَ لوے ولي الله .......... کاکا صاحب .......... په وجه په ټوله .......... کښې مشهور دے.

3. صحیح او غلطې جملې بیلې بیلې کړئ:

الف: سیده بشرٰی بېګم په ادبي دنیا کښې دَ س.ب.ب په نامه یادېږي.



ب: دَ سیده بشرٰی بېګم دَ پلار نوم میا ازاد ګل کاکاخېل وۀ.

ج: سیده بشرٰی بېګم په اعلي تعلیمي ادارو کښې زده کړه وکړه.

د: سیده بشرٰی بېګم دَ صحافت پېشه اختیار کړه.

ه: سیده بشرٰی بېګم په کال 1956ء کښې خپل کتاب "زېرے" چاپ کړو.

4. دَ دې ټکو تلفظ وکړئ او په کاپو کښې یې ولیکئ:

ډډه، شهرت، ولي الله، کاکاخېل، صحافي، مرغۍ، عظمت

downloaded from awazeinqilab.com

awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378

Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com

downloaded from awazeinqilab.com



# دَ اسلام نامتو سپه سالار

دې سبق کښې به تاسو لولئ:

- ✓ دَ اسلام دَ يو نامتو سپه سالار متعلق معلومات
- ✓ دَ هغوي دَ اسلام قبلولو حال
- ✓ او دَ قادسيې په جنګ کښې دَ هغوي مړانه

حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه

يو جليل القدر صحابي دے. دَ دوي شمېر دَ اسلام په مجاهدينو کښې کېږي. دوي په هغو خلقو کښې دي دَ چا دَ جنتي کېدو ګواهي چې رسول الله صلی الله علېه و آله وسلم ورکړې وه. دا ورومبنے سړے دے چې دَ الله په لار کښې يې خپله وينه وبيوله او دَ ټولو نه ورومبے يې غشے وچلولو او دا هغه سړے دے دَ چا په حقله چې نبي کريم صلی الله علېه و آله وسلم وفرمائيل "دا زما ماما دے زۀ دۀ سره دومره مينه کوم چې کۀ څوک دَ دۀ مخ کتل غواړي نو ماته دې ګوري."

کله چې حضور صلی الله علېه وآله وسلم ته دَ پېغمبرۍ ذمه واري وسپارلې شوه نو دغه وخت دَ حضرت سعد رضي الله عنه عمر اووۀ کاله وۀ. دوي دَ حضور صلی الله علېه وآله وسلم په دعوت لبېک ووې او دَ الله په دين کښې شامل شو. دَ دې نه وروستو به دَ دين اسلام دپاره دَ هر ډول قربانۍ ته تيار وۀ.

حضرت سعد رضي الله عنه په جنګ بدر او جنګ خندق کښې هم شريک شوے وۀ او داسې مړانه يې وښودله څنګه چې يې نورو جنګونو کښې ښودلې وۀ. حضرت سعد رضي الله عنه دَ ډېر روښانه زړۀ څښتن، زړور او مېړنے وۀ. ډېرې روژې به يې نيولې او ډېر زيات عبادت به يې کولو. کله چې به دَ کافرانو سره جنګېدو



نو ډېر سخت به جنګېدو او دَ اسلام دفاع به يې کوله. دې کښې هېڅ شک نشته چې سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه دَ ډېرو ښو اخلاقو او ښو صفتونو مالک وۀ.

حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه په ډېرو جنګونو کښې شامل شوے دے او خپله مړانه يې ښودلې ده خو دې ټولو جنګونو کښې يو مشهور جنګ دَ قادسيې دے. دې جنګ کښې دَ مسلمانانو مجاهدينو سرلښکر حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه په خپله شامل وۀ. دا جنګ دَ ايرانيانو او مسلمانانو تر مينځه شوے وۀ. دا دَ حضرت عمر فاروق رضي الله عنه دَ خلافت زمانه وه. په تېرو جنګونو کښې دَ ماتې خوړو دَ بدل اخستو دپاره دَ ايران باچا يزدګر چې د اوولسو کالو زلمے وۀ، رستم يې سرلښکر وټاکلو او ډېر جوش او جذبې سره يې دَ بدل اخستو تيارۍ شروع کړې. حضرت عمر رضي الله عنه حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه دَ ايرانيانو دَ مقابلې دپاره دَ مسلمانانو مجاهدينو سرلښکر وټاکلو. حضرت سعد رضي الله عنه دَ شل زره لښکر سره دَ ايران په لور روان شو.

دَ رستم دَ لښکر شمېره يو لک شل زره وه خو بيا هم دَ مسلمانانو نه ويرېدو. په څوارلسم هجرې کال دَ محرم په مياشت کښې دواړه لښکرې يو بل ته مخامخ شوې. ايراني فوځ دَ انساني سرونو څنګل ښکارېدو او ورسره غټ غټ هاتيان داسې ښکارېدۀ لکه چې تور غر ولاړ وي. دَ ماسپښين دَ مانځۀ نه پس جنګ شروع شو او دَ شپې په تيارۀ کښې خو ډېر خطرناک جنګ ونښتو. دا دَ قادسيې دَ جنګ ورومبۍ ورځ وه.

په دوېمه ورځ مسلمانانو له نور تازه دم لښکر هم راورسېدو چې په شپږ زره کسانو مشتمل وۀ او ورسره ورسره امير المؤمنين رضي الله عنه دَ مېړنو جنګيالو دپاره ډالۍ هم رالېږلې وې. تازه دم لښکر او دَ ډالو خوشحالۍ دَ مسلمانانو حوصلې نورې هم اوچتې کړې. مسلمانانو اوښانو ته تورې برقعې واغوستولې، دَ ايران دَ

Not For Sale

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



ووېرېدل او وتښتېدل. تر نيمې لښکر اسونو چې دا هېبت ناک شکلونه وليدل نو
شپې دا جنګ جاري وۀ. په دې ورځ لس زره ايرانيان ووژلي شول.
درېمه ورځ دَ دې جنګ اخري ورځ ثابته شوه. دَ ايراني فوځ په زرګونو
کسان او هاتيان مړۀ شول. ايراني فوځيانو پښې سپکې کړې او رستم سيند ته
ودانګل خو يو مجاهد راونيولو او وې وژلو. الله تعالیٰ دَ حضرت سعد بن ابي
وقاص رضي الله عنه په سرلښکرۍ کښې مسلمانانو ته فتح ورکړه او دَښمنان يې تس نس کړل.

## مشغولتيا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څوک وۀ؟

ب: نبي کريم صلی الله عليه وآله وسلم حضرت سعد رضي الله عنه ته څۀ نسبت ورکولو؟

ج: حضرت سعد رضي الله عنه په کوم جنګ کښې سر لښکر وۀ.؟

د: دا جنګ دَ کوم خليفه په زمانه کښې شوے وۀ؟

ه: حضرت سعد رضي الله عنه دَ چا سره وجنګېدو؟

2. لاندينو ټکو نه جملې جوړې کړئ:

مجاهد، دعوت، مېړنے، ښتن، جذبه.

3. دَ لاندينو ټکو جمع جوړه کړئ:

کلے، سپے، غل، خوشحالي، خور.

4. فعل حال، فعل ماضي او دَ فعل مستقبل تعريفونه وليکئ.



5. ستاسو کلے ډېر ښائسته دے، تاسو دَ خپل کلي دَ هر څۀ نه واقف يئ. په خپل کلي څو کرښې مضمون وليکئ.

6. دَ کالم (الف) ټکي د کالم (ب) ټکو سره جوړه کړئ:

| کالم (الف) | کالم (ب) |
| --- | --- |
| جليل القدر | غټ |
| زما | تازه دم |
| هاتيان | کاله |
| لښکر | ماما |
| اووۀ | صحابي |

downloaded from awazeinqilab.com
awazeinqilab.com
Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



# دَ اولس خدمت

استاذ : شاګردانو! زمونږ دَ نننی سبق نوم دے "دَ اولس خدمت". په دې نوم کښې دوه ټکي دي. یو اولس او بل خدمت. نو اکرم خانه! ته ووايه چې دَ اولس څۀ مطلب دے؟

دې سبق کښې به تاسو لولئ:

- ✓ خدمت څۀ ته وائي؟
- ✓ کار څۀ ته وائي؟
- ✓ معاشره څۀ ته وائي؟
- ✓ په خدمت او کار کښې فرق
- ✓ دَ اولس خدمت څنګه کېږي؟

اکرم خان : جي! اولس خلقو ته وائي.

استاذ : شاباش! دَ یو کلي، دَ یوې ښارېې یا دَ یو ملک اوسېدونکو ته اولس وئیلے شي. ښه محمد خانه! معاشره څۀ ته وائي؟

محمد خان : استاذ جي! کُڼ خلق چې یو ځاے اوسېږي او شریک ژوند تېروي، دې ته معاشره وئیلے شي.

استاذ: شاباش! تاسو واورېدل کنه، چې دَ یو کلي، ښارېې یا دَ یو ملک اوسېدونکو ته مونږ اولس هم ووې او دغه خلق چې شریک ژوند تېروي نو دَ دوي نه معاشره هم جوړېږي. ښه نو سروره! اوس ته ووايه چې خدمت څۀ ته وائي؟

سرور : استاذ جي! خدمت کار ته وائي.

استاذ : اکرم خانه! په کار او خدمت کښې څۀ فرق دے؟

اکرم خان : په کار او خدمت کښې ډېر فرق دے جي!

استاذ : ووايه څۀ فرق دے؟

اکرم خان: کار هغه وي چې مونږ یې دَ ځان دپاره کوو او خدمت هغه وي چې مونږ یې دَ بل دپاره کوو.





استاذ : په کار او خدمت کښې دَ فرق دپاره ته څۀ مثالونه وړاندې کولے شې؟ چې مونږ پرې پوه شو چې کار څۀ وي او خدمت څۀ وي؟

اکرم خان : او استاذ جي!

استاذ : ښه ده نو بیان کړه.

اکرم خان . مونږ هره ورځ ډوډۍ خورو ، اوبۀ څښو ، په دې کښې زمونږ فائده ده نو ډوډۍ خوړل او اوبۀ څښل کار شو.

استاذ : او خدمت څۀ ته وایو؟

اکرم خان : کور ته سودا راوړل خدمت دے.

استاذ : اشرف خانه! کور ته سوت سودا راوړل کار دے کۀ خدمت؟

اشرف خان : نه جي، استاذ جي! کور ته سودا راوړل کار دے.

استاذ : شاباش! اوس ماته غوږ کېږدئ چې زۀ تاسو دَ کار دَ کسب او دَ خدمت په معنو پوه کړم.

هر بنیادم چې تر څو ژوندے وي، دَ هغۀ په غړو کښې دم وي او ساه اخلي نو تر هغې هغه کار خو خامخا کوي خو کوم کارونه چې مونږ بنیادم کوو. دا مونږ په درې برخو کښې وېشلے شو.

یو هغه کار چې بنیادم یې دَ ژوندي اوسېدو دپاره کوي لکه اکرم خان چې وړاندې وئیلي وو چې هر بنیادم ډوډۍ خوري او اوبۀ څښي. دَ ډوډۍ دَ خوراک او دَ اوبو څښلو نه بغېر هېڅ یو بنیادم ژوندے نۀ شي پاتې کېدے. یا لکه چې مونږ جامې اغوندو. جامې اغوستل دَ هر بنیادم یو فطري ضرورت دے نو داسې ټول کارونه چې هغه هر یو بنیادم خامخا کوي، دې کارونو ته مونږ دَ ژوند ضروري کارونه وایو.

شاګردانو! ډوډۍ خوراک کۀ ضروري دے نو دَ ډوډۍ یا روزۍ پیدا کول هم یو ضروري کار دے. خو دَ ډوډۍ پیدا کولو دپاره مونږ کله دَ سر



downloaded from awazeinqilab.com
Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



مزدوري کوو کله په کارخانو کښې مزدوري کوو او دَ مشينونو نه کار اخلو، کله زمکه کرو، زميداري کوو. کله چمياري کوو، کله ترکاڼي کوو، دې کارونو ته مونږ کسبونه وايو. هر يو کسب ګر دَ خپل کسب په ذريعه ځان ته او خپل بال بچ ته روزي پيدا کوي. نو شاګردانو! دا کار خو دے ولې هر کسب ګر دَ خپل وخت او دَ خپل محنت په بدل کښې څۀ نا څۀ دنياوي ګټه يا فائده حاصلوي نو په دې وجه خوارۍ، مزدورۍ او کسبونو ته مونږ دَ غرض يا دَ بدل يا دَ بيعې کارونه وايو. اکرم خانه! تۀ پوه شوې؟

اکرم خان : او جي! پوه شوم.

استاذ: ښه نو شاګردانو! اوس به راشو هغه کارونو ته چې مونږ ورته خدمت وايو. اشرف خانه ! تۀ په يوه تنګه لاره روان ئې، ضروري کار دې دے، يا هډو فرض کړه چې مدرسې ته راروان ئې. په دغه لاره کښې غنې پرتې دي، ټوله لاره يې نيولې ده، تۀ به څۀ کوې؟

اشرف خان : زۀ به دَ غنو نه ځان بچ کړم او مدرسې ته به ځان راورسوم.

استاذ : او سرور خانه! تۀ به څۀ کوې؟

سرور خان: زۀ به هم مدرسې ته ځان رارسوم.

استاذ : نېک محمده: تۀ؟

نېک محمد: استاذ جي! تاسو يو ځل وئيلي وو چې تاسو کۀ يو داسې شے په لاره کښې ووينئ چې دَ هغې نه نورو خلقو ته نقصان رسي يا نورو ته ترې تکليف وي نو هغه شے لرې کوئ.

استاذ: او زما ياد دي.

نېک محمد : نو جي! زۀ کۀ په داسې لاره راشم چې غنې پکښې پرتې وي او خلقو ته په تلو راتلو کښې تکليف وي نو زۀ به اول هغه غنې دَ لارې نه لرې کړم، چرته لرې به يې وغورځوم. بيا به مدرسې ته راځم.



استاذ : شاباش! نېک محمده! شاباش. ستا مدرسې ته په وخت راتلل ضروري دي خو دا ستا دَ خپلې فائدې کار دے ولې دَ لارې نه غنې لرې کول دَ نورو دَ فائدې کار دے، دا ستا فرض دي.

نو شاګردانو! داسې هر يو کار چې څۀ دنياوي طمع او بدل پکښې نۀ وي، دَ نورو خلقو دَ فائدې وي. دې ته مونږ خدمت وايو. دَ خدائے دَ مخلوق خدمت، دَ اولس خدمت. (ماخوذ "دَ اولس خدمت" کتابچه دَ فقير محمد عباس قادريه)

## مشغولتيا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: دَ اولس دَ خدمت نه څۀ مراد دے؟

ب: په خدمت او کار کښې څۀ فرق دے؟

ج: بنيادم چې کوم کارونه کوي نو هغه په څو برخو کښې وېشلے شي؟

2. خالي ځايونه په مناسبو ټکو ډک کړئ:

الف: دَ يو کلي ....د يوې ښارېې يا ملک اوسېدونکو ته..... وئيلے شي.

ب: هر بنيادم ..............خوري.

ج: هر يو کسب ګر دَ خپل کسب په ذريعه ځان ته او خپل بال بچ ته .....پيدا کوي.

د: ستا مدرسې ته په وخت راتلل.......... دي.

ه: داسې هر کار چې پکښې څۀ دنياوي طمع او بدل نۀ وي دَ نورو خلقو دَ فائدې وي دې ته مونږ.......وايو.

Not For Sale

downloaded from awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



**قواعد:** دَ صفت اسم هغه اسم ته وائي چې دَ څهٔ څيز څهٔ خصوصيت، کېفيت يا شمېره ترې معلومېږي. لکه پياوړے زلمے، ښکلې ښځه، تور مار، سپين سر، څلور ياران. په دغو کښې پياوړے، ښکلې، تور، سپين او څلور دَ نورو اسمونو لکه دَ زلمي، ښځې، مار، سر او دَ ياران څهٔ خصوصيت، کېفيت يا شمېره ښائي. دې کلمو ته دَ صفت اسم وائي او دَ کومو چې خصوصيت، کېفيت يا شمېره بيان کړے شوے وي هغو ته موصوف وائي لکه په پورتنو مثالونو کښې زلمے موصوف دے او پياوړے صفت دے او داسې نور. تاسو دَ صفت او موصوف پينځهٔ مثالونه ورکړئ.





# حکايتونه

(1)

له يو بخيل سړي نه سل اشرفۍ په هميانۍ کښې چرته ورکې شوې. کهٔ ډېر ورپسې وګرځېدو، نووهٔ يې نهٔ موندلې. نو وې وئيل چې هر چا چې وموندلې او ماله يې راکړلې نو په خوښه به لس اشرفۍ پکښې هغهٔ له ورکوم. ناګهانه يو ښهٔ سړي هميانۍ بياموندله او هغه بخيل له يې ورکړه او ورته يې ووئيل چې ماله هغه لس اشرفۍ چې تا وئيلې وې راکړه. بخيل ورته ووې چې په دې هميانۍ کښې خو لس دَ پاسه سل اشرفۍ وې. لس درورسېدې او سل دې دا دي ما له راکړې نو نور څهٔ غواړې. هغه سړے قاضي له لاړو. په ټوله قيصه يې خبر کړو. قاضي مدعا علېه راوغوښت، ورته يې ووې چې دَ دهٔ حق ولې نهٔ ورکوې؟ بخيل ووې چې دهٔ خو خپل حق په خپله له دې هميانۍ نه اخستے دے. نو زهٔ ورله څهٔ ورکړم. قاضي هميانۍ طلب کړله. چې وهٔ يې کتله نو هم هغه شان تړلې وه لکه څنګه چې وه. نو بخيل ته يې ووې چې ستا په هميانۍ کښې لس دَ پاسه سل اشرفۍ وې نو معلومېږي چې دا هميانۍ ستا نهٔ ده. تهٔ ورځه په خپله هميانۍ پسې ګرځه او دا هميانۍ دې سړي له ورکړه چې خاوند يې راشي نو هغهٔ له به يې ورکړي.

(2)

په عربو کښې يو ښهٔ سړے وهٔ. چې وارو خلقو په هر کار کښې له هغهٔ نه پوښتنه کوله او دَ هغهٔ په نصيحت به هر چا عمل کولو. ناګهانه چې دې پکښې اوسېدهٔ دَ هغه خلقو ټول سپي مړهٔ شو. سبا له خلق دغه ښهٔ سړي له راغلل او دَ سپو له مرګه يې خبر کړو. هغهٔ ووې چې په دې کښې به خير وي. بله شپه دَ هغه کلي ټول بانګيان مړهٔ شو. خلق بيا سبا له راغلل هغه ښهٔ سړے يې په دې



downloaded from awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



خبر کړو. هغهٔ بیا ووې چې په دې کښې به خبر وي. خلقو ووې عجیبه ده سپو به څوکۍ کوله، چرګانو به بانګونه وئیل، وخت دَ سبا به معلومېدهٔ نو دَ دوي په مرګ کښې کوم خبر دے؟ هغهٔ ووې چې په پټو کارونو خدا ے ښهٔ پوهېږي. زمونږ علم په دې خبرو نشته. په دریمه شپه خلقو اور بلولو لېکن اور نهٔ بلېدهٔ او لمبه یې نهٔ کوله. هر چا وئیل چې خدا ے دې خبر کړي. نهٔ پوهېږو چې څهٔ بلا پېښېږي. ناګهانه دَ بل طرف نه پرې لښکر وروخوت. ګېرچاپېره کلي یې تول وسېزل. مال یې ورته لُوټ کړو چې دَ دغه خلقو کلي ته نزدې شو، دَ لښکر خلقو په خپلو کښې سره وئیل چې نهٔ رڼا شته او نهٔ دَ سپو غپا شته او نهٔ دَ چرګانو بانګونه شته. معلومېږي چې خلق نشته. تش کلے او خالي کورونه به څهٔ کړو؟ په دې ګمان لښکر بیرته لاړو. کلي ته خبر شهٔ. خلقو ته ثابته شوه چې دَ هغهٔ ښهٔ سړي خبره رښتیا وه.

(3)

حاتم طائي دَ خپل سخاوت په وجه تر اوسه مشهور دے. یو ځل ترې چا پوښتنه وکړه چې داسې به هم څوک وي چې تا نه زیات سخي او دَ دریابي زړهٔ لرونکے وي؟ هغهٔ ووې چې هو، داسې سړے شته. پوښتنه ترې وکړې شوه چې تا ورسره لیدهٔ کاتهٔ کړي دي؟ یا دې دَ بل چا نه اورېدلي دي؟ حاتم طائي ووې چې هو، زما ورسره لیدهٔ کاتهٔ شوي دي. یو ځل ما دَ عربو امیرانو له دعوت وکړو او څلوېښت اوښان مې حلال کړل. اتفاقي خبره وه چې دغه وخت دَ ښار نه بهر په یو ځنګل راتېرېدم. ما ولیدل یو سړي لرګي راغونډ کړي دي او ترې نه ګېډے جوړوي نو ما ورته ووې چې تهٔ دَ حاتم طائي مېلمه کېدے ولې نهٔ؟ چې دَ هغهٔ دعوت ته ورغلے وې، هلته خو ډېر خلق راجمع شوي دي. هغهٔ جواب راکړو چې څوک په خپل محنت روزي ګټي نو هغوي دَ حاتم طائي احسان په ځان نهٔ ږدي. دَ اِنصاف خبره دا ده چې هغه سړے په همت او دریابي زړهٔ لرلو کښې زما نه زیات وهٔ.

ماخوذ لهٔ "ګنج پښتو" دَ مولوي احمد دَ تنګي

Not For Sale



# مشغولتیا

1. مختصر جوابونه ورکړئ.

الف: دَ بخیل سړي په ورکه شوې همیانۍ کښې څومره روپۍ وې؟

ب: قاضي دَ بخیل سړي دَ موندلې شوې همیانۍ څهٔ فېصله وکړه؟

ج: دَ عربو دَ ښهٔ سړي خبرې څنګه دَ خلقو په خبر تمامې شوې؟

د: حاتم طائي څوک وهٔ او په څهٔ مشهور وهٔ؟

2. دَ واحد جمع او دَ جمع واحد ولیکئ:

لرګے، سړے، مېلمه، خبرې، دوستان، مېندې.

3. دَ لاندې ورکړې شوې درې جوابونو نه په یو صحیح جواب دَ (✓) نخښه وکړئ:

الف: دَ بخیل سړي په همیانۍ کښې څو اشرفۍ وې؟

(1) سل (2) دوه سوه (3) درې سوه

ب: ښهٔ سړے په کوم ځا ے کښې اوسېدهٔ؟

(1) پاکستان (2) چین (3) عرب

ج: حاتم طائي څومره اوښان حلال کړي وو؟

(1) شل (2) دېرش (3) څلوېښت

د: حاتم طائي چا له دعوت کړے وهٔ؟

(1) فقیرانو لهٔ (2) ملنګانو له (3) امیرانو له

downloaded from awazeinqilab.com

awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378

Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



سېد رسول رسا
پېدائش: 10 اپرېل 1910ء
وفات: 14 اکتوبر 1990ء

## سائېکلهِ وفاداره

راځه چې نن دې وستايم دَ لسو کالو ياره    سائېکله وفاداره

تهٔ ماته زين ولاړ غاړه بسته په ډېر مدارئې    خدمت ته مې تيار يې
دَ يار نه وفادار يې ستړے مهٔ شې خپله ياره    سائېکله وفاداره

نهٔ اس يې نهٔ ټټو يې نهٔ موټر يې نهٔ جهاز يې    او نهٔ ته هوا باز يې
يو څو ډنډې وجود دې وي روان په لويه لاره    سائېکله وفاداره

تلی شته، نهٔ دې لېمپ شته نهٔ دې پمپ نهٔ دې برېکونه    بې کاره دې پېچونه
تهٔ زوړ لکه دَ ځوان زغلې په دؤ دؤ په هواره    سائېکله وفاداره

چې وران نهٔ شې يو ځل او په سړک شې تهٔ روان    ملکونه کړې طوفان
دَ باد په شانې سم ځې تهٔ په لوړه په هواره    سائېکله وفاداره

خفه چې شې دَ شلانتې په شان پرېوځې په سړک    بيا نهٔ وهې نور ړک
چُور چُور په زړهٔ رنځُور کړې سړے وژنې پاره پاره    سائېکله وفاداره

ماخوذ: دَ "ببدیا گلونه" دَ ميا سېد رسول رسا

Not For Sale



## مشغولتيا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:
الف: سائېکل ته يې دَ لسو کالو يار ولې وئيلے دے؟
ب: دَ شاعر سائېکل څنګه وهٔ او څهٔ څهٔ پکښې نهٔ وو؟
ج: کله چې سائېکل خفه شي نو بيا څهٔ کوي؟
د: دَ شاعر سائېکل زوړ وهٔ کهٔ ځوان وهٔ؟

2. خالي ځايونه ډک کړئ:
دَ يار نه وفادار يې ستړې مهٔ شې خپله ..........
يو څو ډنډې وجود دې وي روان په لويه ......................
تلی شته نهٔ دې لېمپ شته نهٔ دې ...... نهٔ دې برېکونه
چې .......... نهٔ شې يو ځل او په سړک شې تهٔ روان
خفه چې شې دَ شلانتې په شان پرېوځې په ..............

3. دا لاندينې ټکي په خپلو جملو کښې راولئ.
اس، جهاز، موټر، تلی، لېمپ، پمپ، برېکونه

4. دَ لاندينو ټکو اپوټه (متضاد) وليکئ:
ستائيل، وفادار، يار، زوړ، وران

5. دَ اسم تعريف وکړئ او په دې نظم کښې پينځهٔ اسمونه ولټوئ او وي
ليکئ.

Not For Sale

downloaded from awazeinqilab.com
awazeinqilab.com
Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com

downloaded from awazeinqilab.com



# درې ورونه درې پوهان

دې سبق کښې به تاسو لولئ:

- ✓ دَ درې ورونو دَ پوهې يوه قيصه چې درې واړه ډېر پوهه وو.
- ✓ دَ خپلې پوهې له وجې دَ بادشاه نه انعام ګټې.

پخوا په زمانه کښې يو درې تنه ورونه وو. درې واړه ډېر هوښيار او دَ پوهې خاوندان وو. هرې خبرې ته به زر رسېدل. دا ورته هډو څۀ کار نۀ ښکارېدو.

دَ ورځو نه يوه ورځ وه دغه درې واړه ورونه په يوه لاره روان وو. په خپلو کښې يې خبرې کولې. چې په دې کښې مشري ووې چې په دې لاره خو يو اوښ تېر شوے دے. بيا دوېم ورور ووې چې دغه اوښ لکه چې په يوه سترګه ړوند وۀ. چې څۀ مخکښې لاړل نو درېم ورور يې ووې چې په دغه اوښ يوه ښځه او ماشوم سوارۀ وو.

دوي درې واړو دا خبرې کولې چې په دې کښې يو سړے چې په تېزۍ يې خپل اس راخوشے کړے وۀ، په دوي پېښ شو. مشري ورور دغه سړي ته ووې چې ځوانه! جوړ په ورکه پسې راوتے يې؟ هغه سړي ورته جواب ورکړو چې هو، زما اوښ ورک شوے دے. بل ورور ورته ووې چې ستا هغه اوښ په يوه سترګه ړوند خو نۀ دے؟ هغه سړي ووئيل چې هو، هغه په يوه سترګه ړوند دے. درېم ورور ترې تپوس وکړو چې په دغه اوښ يوه ښځه او ماشوم خو نۀ وو سوارۀ؟ هغه سړي ورته ووې چې هم دغسې ده. دَ هغۀ يقين ته دا خبره پرېوته چې ګني دَ هغۀ دغه اوښ دغو سړو پټ کړے دے. هغه سمد ستي



دوي ته نېغ شۀ او ورته يې ووئيل چې شابه کړئ زما اوښ وښايئ ګني لاړئ سر مو بائېلو. بيا يې هغه درې واړه مخکښې کړل او باچا له يې بوتلل. هلته يې دَ باچا په وړاندې ودرول او ټول حال يې باچا ته تېر کړو او وې وئيل چې دوي درې واړو زما اوښ پټ کړے دے.

باچا چې ټول حال واورېدۀ نو دَ هغۀ هم يقين وشۀ چې ګني اوښ رښتيا دوي پټ کړے دے. خو هغوي درې واړو دې ټولې خبرې ته دروغ ووې او وې وئيل چې مونږه دغه اوښ چرته ليدلے هم نۀ دے. باچا ووئيل چې دا زۀ څنګه ومنم چې تاسو دا اوښ نۀ دے ليدلے ولې بيا هم ټولې نخښې نښانې مو دې سړي ته سمې سمې وښائلې.

هغوي باچا ته ووې چې باچا! ستا نه قربان شو، مونږه درې واړو کښې دا چل دے چې هر يو څيز ته سم سم ګورو او ځکه رانه خطائي نۀ کېږي. باچا ووئيل چې داسې ده نو زۀ هم اوس په تاسو يو ازمېښت کوم. کۀ چرې پاس شوئ نو څۀ به درته نۀ وايم کۀ نۀ وي نو بيا به درسره هغه عمل وکړم چې کوم دَ غلو سره کولے شي. هغوي دَ باچا دا خبره ومنله.

باچا يو سړے راوغوښتو او په غوږ کښې يې ورته پټ شان څۀ ووئيل. هغه لاړو څۀ شېبه پس دوو تنو يوه خوانچه راوړه او په داسې ځاے يې کېښوده چې باچا ليدله. په دغه خوانچه کښې يو ډبے پروت وۀ. باچا هغو درې واړو ته مخ ورواړولو او ورته يې ووئيل چې وايئ په دغه ډبي کښې څۀ دي؟

په هغوي کښې مشر ورور ووئيل چې په دې ډبي کښې يو څيز دے چې غونډ مونډ دے. دوېم ورور يې ووې چې دغه څيز انار دے. درېم پرې غور وکړو چې دغه انار لا پوخ هم نۀ دے. باچا چې دا واورېدل نو دَ اوښ مالک ته يې ووې چې تۀ ځه ورځه. دا سړي غلۀ نۀ شي کېدے. بيا يې هغوي خوا ته راوبلل او ورته يې ووئيل چې اوس مې په دې پوه کړئ چې تاسو څۀ رنګ په دې پوه شوئ چې په دې ډبي کښې انار دے او هغه انار لا پوخ هم نۀ دے.

awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



خوانچه مشري ورور يې ورته ووئيل چې اے باچا هر کله چې سړو دا خوانچه راوړه نو زهٔ پوه شوم چې په دې کښې پروت څيز ذومره درووند نهٔ دے. بيا چې خوانچه کېښودې شوه نو هغه څيز چې په دې ډبي کښې پروت وهٔ هغه ورغړېدهٔ. ځکه زما دا خيال شو چې دغه څيز غونډ دے. دوېم ورور يې ووې مونږ چې څهٔ وخت دلته راتلو نو بهر مو يو باغ ليدلے وهٔ چې انار پکښې لګېدلي وو. درېم ورور يې ورزياته کړه چې انار لا پاخهٔ شوي نهٔ وو نو ځکه زما دا خيال شو چې دا انار به هم پوخ نهٔ وي.

باچا ترې بيا پوښتنه وکړه چې په اوښ څنګه پوه شوئ؟ مشري ورور ووې چې قربان دې شم؟ مونږ چې څهٔ وخت په لاره روان وو نو دَ اوښ دَ پښو تازه تازه خاپونه مو ليدل نو ځکه زهٔ پوه شوم چې په دې لاره اوس اوس يو اوښ تېر شوے دے. دوېم ورور يې ووې او هر کله چې دغه اوښ دَ لارې دَ يو طرف دَ بوټو ځوکې خوړلې وې او بل اړخ ښېخي روغ پاتې وهٔ نو ما ووئيل چې دغه اوښ په يوه سترګه ړوند وهٔ. درېم ووې چې په يو ځاے کښې دغه اوښ ناست وهٔ او په زمکه دَ يوې ښځې او يو ماشوم دَ پښو نخښې ښکارېدې. نو ځکه ما دا خيال وکړو چې په دغه اوښ يوه ښځه او يو ماشوم سوارهٔ وو.

باچا چې دَ دوي دَ پوهې دا نا اشنا تماشه وليده نو ډېر ترې خوشحاله شهٔ او ښې ډېرې پېسې يې ورله ورکړې. درې واړه ورونه په خپله مخه لاړل.

ماخوذ دَ "اولسي قيصې" نه دَ پروفېسر محمد نواز طائر

## مشغولتيا

1. زباني ووايئ:

الف: درې واړه ورونه څنګه وو؟

ب: په لاره چې روان وو نو مشري ورور څهٔ ووې؟



ج: درې واړو ورونو چې سړي ته دَ اوښ نخښې نښانې وښودې نو سړي ورته څهٔ ووې.؟

د: باچا په درې واړو ورونو څهٔ امتحان وکړو او دوي څهٔ جوابونه ورکړل؟

ه: باچا چې دَ دوي پوهه وليده نو څهٔ يې ورسره وکړل؟

2. اسم ظرف هغه اسم ته وائي چې ترې څهٔ ځاے يا وخت مراد وي؟ لکه:

هسپتال، مدرسه، جومات، ګېنټه، منټ، کال، مياشت.

تاسو دَ ظرف دَ اسم پينځهٔ مثالونه نور بيان کړئ.

3. دَ مذکر مؤنث او دَ مؤنث مذکر وليکئ.

ورونه، باچا، اوښه، ښځه، ماشوم، غل، ړنده.

4. دَ لاندينو الفاظو معنې وليکئ او په جملو کښې يې استعمال کړئ.

ورکه، سترګه، رښتيا، نخښې نښانې، غونډمونډ.

5. دَ لانديني کالم (الف) لفظونه دَ کالم (ب) سره جوړه کړئ او نوي تکي ترېنه جوړ کړئ:

| کالم (الف) | کالم (ب) |
|---|---|
| درې | خبرې |
| نخښې | ورور |
| دروغ | انار |
| غونډ مونډ | ورونه |
| مشرے | نښانې |

downloaded from awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



# مرغلرې / اړونه

## مرغلرې

❖ یو بل په خرابو نومونو مهٔ یادوئ. (قرآن مجید)
❖ څوک چې لوظنهٔ پوره کوي هغه بې دینه دے. (حدیث شریف)
❖ په هغه ورځ وژاړه چې تېره شوه خو نېکي دې ونهٔ کړه. (حضرت ابوبکر صدیق)
❖ لږې خبرې کول حکمت دے، لږ خوړل صحت دے، کم اودهٔ کېدل عبادت دے او خلقو سره لیدلو کتلو کښې خېر دے. (حضرت عمر فاروق)
❖ ځناور خپل مالک پېژني خو انسان خپل مالک نهٔ پېژني. (حضرت عثمان)
❖ دَ ټولو نه لوے خیانت قوم او ملک سره خیانت دے. (حضرت علي)
❖ دَ ذلت دَ ژوند نه دَ عزت مرګ ښهٔ دے. (حضرت حسین)
❖ توبه ایستل ډېر اسان دي خو ګناه پرېښودل ډېر ګران دي. (امام جعفر صادق)
❖ څوک چې علم دَ دولت ګټلو دپاره حاصلوي، علم دَ هغهٔ په زړهٔ کښې ځاے نهٔ کوي. (امام ابوحنیفه)
❖ بنیادم ته ادب ښودل ځناورو ته دَ ادب ښودلو نه زیات ګران دي. (امام شافعي)
❖ دَ ټولو نه کمزورے انسان هغه دے چې خپل راز نهٔ شي پټولے. (افلاطون)
❖ ښهٔ کتاب نېغه لار ښائي. (محمود غزنوي)
❖ کهٔ ځان نه څهٔ جوړول غواړې نو یو منټ هم مهٔ ضائع کوه. (قائد اعظم)
❖ پوهه رڼا ده. (باچا خان)

## اړونه

❖ وړوکے هندوګے په سر یې شکور



❖ بې ستنې کوټه پکښې ناست دے شهزاده
❖ بند په بند، هر بند یې لري خوند
❖ پلار یې لا پېدا نهٔ دے زوے یې په کوټه ګرځي
❖ په هوا راغے یو باز ډوب شو په دریاب
❖ د خُلې نه یې ځي وینې، خبرې کړي دَ مینې
❖ تر دې او تر شاډنډه، شپېلۍ په دولس بنده، په هر بند کښې څلور پېونده
❖ جنت لري، دوزخ لري ښېشانه دَ دهٔ زور دے، دریاب په ښېړۍ سور دے
❖ نهٔ تېغ دے نهٔ چاړهٔ ده، خامه غوښه ده، تېزي لري، ښهٔ تېرهٔ ازغي لري
❖ هغه دې لاړ، دا دے راغے، دا دے راغے، هاغه دے لاړ
❖ هم یې حلالومه او هم مې ژړوي

ځوابونه:
تور املوک، قبر، ګنے، لوګے، قلم/ پن، کال، میاشتې، هفتې. قرآن مجید، ژبه، نظر، پیاز

## مشغولتیا

1. لاندینۍ جملې پوره کړئ:
الف: یو بل په خرابو نومونو ..........................
ب: ښهٔ .................. نېغه لار ښایي.
ج: ........................رڼا ده.
د: پلار یې لا پېدا نهٔ دے ............ یې په کوټه ګرځي.
ه: دَ خُلې نه یې ځي ............... خبرې کړي دَ ...............

## مشغولا

1. استاذ دې داسې څو نورې مرغلرې/اړونه واوروي او دَ شاګردانو نه دې هم تپوسونه وکړي.

downloaded from awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



# چترال

دې سبق کښې به تاسو لولئ:

- ✓ دَ چترال دَ ابادی، دَ هغه ځاے دَ مردم شماری او دَ هغې ځاے دَ خلقو دَ اوسېدو او کړو وړو باره کښې معلومات

چترال دَ پاکستان دَ خيبر پښتونخوا صوبې په قطبي سيمه کښې پروت دے. دا دَ پاکستان په ښکلو او ښائسته سيمو کښې شمارده. رقبه يې څلور زره اتۀ سوه پنځوس مربع کلوميټره او ابادي يې دَ کال 1998ء دَ مردم شمارۍ مطابق درې لکه اتلس زره شپږ سوه اتيا او دَ کال 2004ء دَ مردم شمارۍ مطابق درې لکه اتۀ اويا زره وه.

دا دَ دنګو او ښائسته غرونو وطن دے. دَ چترال نه دَ قطب په لور دَ هندوکش غرئيزه سلسله ده چې پکښې دَ ټولو نه اوچته څوکه په ترچ مير بللې شي چې دَ چترال خلق ورته دَ ښاپېرو محل هم وائي. دَ دې اوچتوالے 25289 فټه دے. دَ رقبې په لحاظ چترال دَ خيبر پښتونخوا تر ټولو لويه ضلع ده. دَ دې ضلعې نه قطب او نمر پرېواتۀ ارخ ته افغانستان، قطب ته يې دَ واخان پټۍ ده. دا پټۍ دَ پاکستان او مينځنۍ اېشيا ترمنځه يو بريد دے. نمرخاتۀ ته يې ګلګت او سوېل ته يې دَ بره دير سره پوله ده.







چترال ته دَ دير له لورې په لوارۍ او دَ ګلګت له لورې په شندور ټاپ تګ راتګ کېږي او دَ هوا له لارې دَ هوائي جهاز په ذريعه هم تګ راتګ کېږي او دَ دغه غرض دپاره دَ چترال ښار نه تقريباً درې کلوميټره بيرته يو هوائي ډګر موجود دے. دَ چترال دپاره تلونکې دَ زمکې لارې په ژمي کښې دَ واورو دَ ورېدو له وجې بندې وي او هم دغه وجه ده چې حکومت دَ لوارۍ په غر کښې سُرنګ جوړ کړے دے چې داسې کالوسر چترال ته تګ راتګ ممکن شي.

دَ چترال خلق په اصل نسل دَ ګلګت او هنزه دَ خلقو په شان دي او "کهو" قبيلې سره تعلق لري. دَ دوي خپله ژبه ده چې "کهوار" بللے شي او مونږ ورته چترالي وايُو. دا ژبه په ځينې نورو سيمو کښې هم وئيلې شي. لکه دَ سوات او ګلګت په ځينې سيمو کښې خو په چترال ضلع کښې دَ "کهوار" ژبې نه علاوه نورې هم لس ژبې وئيلې شي. چې پکښې پښتو او فارسي هم شاملې دي. نو په دې وجه مونږه دا وئيلے شو چې چترال دَ نړۍ په مخ له هغه ځايونو څخه يو دے چې دَ ګڼو ژبو دَ کور حېثيت لري.

چترال تر کال 1969ء پورې په ملاکنډ اېجنسۍ کښې شامل وۀ او بادشاهي نظام پکښې جاري وۀ. په کال 1970ء کښې يې دَ نوې ضلعې حېثيت ومونده. په دې ضلع کښې اووۀ تحصيلونه دي: (1) چترال (2) دروش (3) لُټکوه (4) مُلکو (5) تُرکو (6) مستوج (7) ارندو. دَ خيبر پښتونخوا په صوبائي اسمبلۍ کښې دَ چترال ضلعې دوه دَ صوبائي اسمبلۍ منتخب ممبران نمائندګي کوي.

دَ دروش نه تر چترال څلوېښت کلوميټره فاصله ده. دا ټوله علاقه دَ دنګو او لغړو غرونو نه ډکه ده، په مينځ کښې يې دَ چترال سيند بهېږي او زياته کرونده دَ دغه سيند په غاړه کېږي. په چترال کښې ګڼې مېوې لکه



Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com
downloaded from awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



جوار او وریژې یې دَ غلې سپوان، خرمانۍ، غوزان، انګور وغیره پېدا کېږي. ګډې بیزې هم پکښې ساتلې کېږي. دَ خلقو زیاته ګزاره په کرکیله ده. ګډې بیزې هم پکښې ساتلې فصلونه دي. دَ خلقو زیاته ګزاره په کرکیله ده. چترالۍ چُغې، پکولونه او دَ وړۍ شي. په لاسونو جوړو شوو څیزونو کښې چترالۍ چُغې، پکولونه او دَ وړۍ کپړه ډېر مشهور دي.

دَ چترال په نمر پرېواتهٔ اړخ کښې په یوه محدوده علاقه کښې یو بل قوم اوسېږي. دَ دې خلقو ژبه او دود دستور دَ زړې زمانې سره تعلق لري. دَ دغه علاقې دَ کتلو دپاره دَ دنیا دَ ګُټ ګُټ نه سېلانیان راځي او تحقیق پرې کوي.

دَ چترال خلق ډېر ساده، سپین زړي او خوشحاله اوسېدونکي خلق دي. دَ ګډا کولو او سندرو وئیلو سره ډېره مینه لري. جنګ جګړې او پرې جنبې پکښې نشته. دَ چترال خلق په چوګان یا پولو لوبه ډېر مئین دي، دَ دې دپاره یې ښهٔ ښهٔ اسونه ساتلي وي او په دغه لوبه کښې ډېره په مینه برخه اخلي. په چترال کښې هر کال دَ پولو (چوګان) مېچونه کېږي او ډېر خلق یې ننداره کوي.





## مشغولتیا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:
   الف: دَ چترال رقبه څومره ده؟
   ب: دَ چترال حدوداربعه معلومه کړئ.
   ج: دَ چترال پېداوار بیان کړئ.
   د: دَ چترال خلق په کومه لوبه مئین دي؟
   ه: دَ چترال کوم څیزونه مشهور دي؟
2. په لاندینو ټکو اعراب ولګوئ:
   ګلګت، هنزه، لوارۍ، دروش، کرکیله. چوګان. مېچونه
3. لاندیني لفظونه خپلو جملو کښې استعمال کړئ:
   اصل نسل، تګ راتګ. سیند، پکولونه. دوددستور. ګډا. سندرې.
4. تاسو په دې سبق کښې پینځهٔ اسم معرفه او پینځهٔ اسم نکره ولټوئ او په خپلو کاپو کښې یې ولیکئ.

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



اسرار د طورو
پېدائش: 15 ستمبر 1939

# ګُلا، بُلا او امزُلا

يو ګُلا او بل بُلا بل امزُلا وۀ
هر يو مشر وۀ دَ بل نه قلقلا وۀ

همېشه به سره درې واړه په جنګ وو
نۀ په شرم په حيا وو نۀ په ننګ وو

پلار يې زوړ عمر خوړلے زميدار وۀ
په نا اهلو اوړېدلے وۀ هوښيار وۀ

نصيحت يې په زامنو اثر نۀ کړو
ګني دوي به يو دَ بل سره شر نۀ کړو

عاقبت چې پلار دَ ځان په رنځ اخته شو
ښۀ پوهېدۀ چې درنګ ساعت له مرګ مېلمه شو

دے دَ خپله ژوندانۀ نه مطمئن وۀ
دَ ګُلا بُلا په غم باندې غمژن وۀ

دَ اصلاح يو اخري کوشش پکار دے
وې بچورو راشئ درې واړه يو کار دے

پلار يې ووئيل چې نهۀ لښتې راوړئ
نرمې مۀ راوړئ ښې سختې سختې راوړئ

Not For Sale



هر يو درې درې لښتې راوړې هغه دم
پلار يې ووې چې ګېډے ترې جوړ کړئ سم
بيا يې ووئيل ګُلا دا ګېډے مات کړه
دا خدمت راباندې خپله زويه زيات کړه

کۀ ګُلا کۀ امزُلا وۀ کۀ بُلا وۀ
ناکام پاتې شو هر يو په انګولا وۀ

پلاره دا خو ډېر مضبوط دے نۀ ماتېږي
يو دَ بل نه کۀ جدا شي بيا به کېږي

پلار يې ووئيل جدا يې کړئ ګلونو
بيا يې مات کړئ په قلاره په زورونو

يو ساعت کښې نهۀ واړه تق په تق شوې
دَ ګُلا بُلا لېمې بلې شوې پړق شوې

پلار يې ووې دې کښې تاسو له عبرت دے
په يووالي اتفاق کښې برکت دے

کۀ يو موټے شوئ نو تل به په امان يئ
کۀ دانه وانه يئ تل به په ارمان يئ

امزُلا، ګُلا بُلا پوه په حکمت شو
يو تر بل غاړه غړې په محبت شو

ماخوذ: دَ "زما کتاب" نه دَ اسرار دَ طورو

downloaded from awazeinqilab.com
awazeinqilab.com
Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



# مشغولتیا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:
الف: دَ بوډا زمیدار دَ درې زامنو څۀ نومونه وو؟
ب: دغه درې وارو څۀ کردار لرلو؟
ج: پلار یې چې دَ مرګ په تبه پرېوتو نو زامنو ته یې څۀ ووې؟
د: هغوي ډنډې ولې ماتې نۀ کړې شوې؟
ه: کله چې ډنډې ځان ځان له شوې نو هغوي په اسانه ماتې کړې شوې نو پلار یې ورته څۀ ووې؟

2. دَ دې ټول نظم نه مونږ ته څۀ نصیحت حاصلېږي؟

3. دا ټکي په خپلو جملو کښې استعمال کړئ:
تنګ، نا اهله، عمر خوړلے، لېمۀ، اتفاق.

4. دَ اتفاق په سرخط یو مضمون ولیکئ چې لس جملې وي.

5. دَ ټکي صحیح معنٰی معلومه کړئ. یو ټکے او دَ هغې درې معنې ورکړې شوي دي، تاسو پکښې صحیح معنٰی ولیکئ:

| | | | |
|---|---|---|---|
| عمر خوړلے: | بوډا | بیمار | مړ شوے |
| نصیحت: | وصیت | محنت | پند |
| کوشش: | منډې | هڅه | تګ و دو |
| انګولا: | ژړا | خندا | فریاد |
| ساعت: | ګېنټه | وخت | ګړۍ |



# سید عبدالستار شاه

(باچا جان)

دې سبق کښې به تاسو لولئ:

- ✓ دَ سید عبدالستار شاه باچا دَ ژوند او خدماتو په حقله معلومات
- ✓ دَ پاکستان په تحریک کښې دَ هغۀ کوششونه

حضرت سید عبدالستار شاه چې په باچا جان مشهور دے، دَ خپل کردار او ژوندۍ جذبې په وجه یې ابدي ژوند حاصل کړے دے. دوي خپل ټول ژوند دَ خدائے دَ مخلوق دَ خدمت دپاره وقف کړے وۀ. دَ خلقو روحاني تربیت به یې کولو او دَ سلوک او معرفت له لارې یې خلق خبرول. دَ دې نه علاوه دَ پاکستان دَ جوړولو په جدوجهد او بیا دَ پاکستان دَ جوړېدو نه پس دَ هندوستان نه دَ تش لاس راغلو مهاجرینو دَ امداد کولو په لړ کښې به دَ سید عبدالستار شاه باچا کوششونه تل یاد ساتلے او ستائیلے شي.

سید عبدالستار شاه باچا دَ هزارې بټګرام ضلعې دَ میرانو نومې کلي دَ سېدانو په یوه عزتمنده کورنۍ کښې په کال 1878ء کښې پېدا شو. دَ پلار نوم یې سید برهان شاه وۀ. دَ دوي دَ نسب سلسله دَ بونېر مشهور ولي الله حضرت سید علي ترمذي (پیر بابا) ته رسي. دے په نسب حسېني سید وۀ. دَ دوي دَ مور له اړخه نیکۀ حضرت نظیف بابا هم دَ خپل وخت یو لوے روحاني شخصیت وۀ.

حضرت باچا جان دَ تعمیراتو دَ ټېکدارۍ کار کولو ځکه نو په خپل وخت کښې یو ښۀ شتمن سړے وۀ خو چې کله یې دَ چشتیه سلسلې دَ مشهور

downloaded from awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



ولي الله سائين محمد عظیم (نړان شریف کشمیر) نه لاس نیوه (بیعت) وکړو نو د هغوي په وینا یې د دنیا کاروبار پرېښودو او خپل ژوند یې د سلوک لارې ته وقف کړو. دوي به د پېښور ښار د ډبګرۍ بازار په یوه بالا خانه کښې اوسېدل او خلقو ته به یې روحاني فیض رسولو. دوي به په ډبګرۍ کښې د حضرت خواجه معین الدین چشتي د اجمیر شریف کلیز عُرس په باقاعدګۍ سره کولو. په دغه موقع به د ډبګرۍ په بازار کښې د خاص چراغان او قوالۍ بندوبست هم کولے شو.

د مشهور صوفي شاعر حضرت عبدالرحمٰن بابا په مزار د پښتو مشاعرې ابتدا هم د دوي په کوششونو وشوه. دوي به د شاعرانو ادیبانو ډېر قدر کولو. د پښتو مشهور شاعر مرحوم امیر حمزه خان شنواري د دوي په مریدانو کښې شامل وۀ. د مرحوم حمزه بابا د شاعرۍ لویه برخه د دوي په تعریف مبني ده.

حمزه بابا به اول په اُردو کښې شاعري کوله. وروستو یې د دوي په وینا پښتو شاعرۍ ته توجه وکړه او لوے نوم یې پېدا کړو. د پښتو مشهور سندرغاړے او موسیقار رفیق شنوارے مرحوم د باچا جان مرید او قوال وۀ چې وروستو یې د پښتو موسیقۍ په مېدان کښې یو ډېر لوے کردار ادا کړے او نۀ هېرېدونکے مقام یې موندلے دے.

باچا جان د ازادۍ په تحریک کښې ښۀ په زور او شور سره برخه اخسته. دوي او د دوي مریدانو د پاکستان په جوړولو کښې نۀ هېرېدونکې کارنامې تر سره کړې دي. د پاکستان د جوړېدو نه پس چې د هندوستان نه کوم خوار او زېلي مهاجرین پاکستان ته راغلل نو د هغوي د خدمت او ورسره د لاس امداد کولو په لړ کښې یې هم د قدر وړ کردار ادا کړو.

د دوي سخاوت مشهور وۀ. د غریبانانو او بې اسرې خلقو یې د زړۀ د اخلاصه امداد کولو. دوي د بې نوا او غریب نواز په لقبونو شهرت لرلو.



باچا جان د جولایۍ د میاشتې په 21 نېټه کال 1954ء کښې د 95 کالو په عمر کښې وفات شو او د ډبګرۍ دروازې نه بهر هدیره کښې خاورو ته وسپارلے شو.

اوس هم په ګڼ شمېر کښې د دوي مریدان او عقیدت مند د دوي د مزار زیارت ته حاضرېږي. د روژې د میاشتې په یویشتمه نېټه د دوي په مزار د پښتو قوالۍ روایت لا تراوسه پورې ژوندے دے.

## مشغولتیا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: سید عبدالستار شاه باچا چرته پېدا شوے وۀ؟

ب: د پښتو کوم نامتو شاعر د دوي مرید وۀ؟

ج: باچا جان د ژوند زیاته برخه چرته تېره کړې وه؟

د: د باچا جان مزار چرته دے؟

ه: د باچا جان د خدماتو مختصره جائزه واخلئ.

2. د لاندینو الفاظو معنې ولیکئ:

ابدي ژوند، سلوک، معرفت، روحاني شخصیت، عُرس، صوفي، مشاعره، عقیدت مند.

3. دا ټکي په خپلو جملو کښې استعمال کړئ:

زیارت، روایت، سخاوت، مهاجرین، تحریک، تعریف.

4. "خدمت" او "تربیت" یو شان اوازونه لري، دې ته هم اوازه لفظونه وایي. تاسو دې سبق کښې داسې نور پینځۀ هم اوازه لفظونه ولټوئ او په کاپو کښې یې ولیکئ.

downloaded from awazeinqilab.com

awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com

downloaded from awazeinqilab.com




# نتيا ګلۍ

دې سبق کښې به تاسو لولئ:

✓ دَ نتيا ګلۍ دَ حدوداربعې، ابادۍ، ښائست او دَ يخوالي باره کښې معلومات

په صوبه خيبر پښتونخوا الله پاک له خپله اړخه دا پيرزوئنه کړې ده چې دلته يې بې اندازې ښائسته سيمې پيدا کړي دي او دَ هغې په ليدلو او سېل کولو دَ بنده زړۀ ته خوشحالي او سکون حاصلېږي. دَ دغه قدرتي حسن نه هر څوک متاثره کېږي او دَ الله په قدرتونو يې ايمان مضبوطېږي. په دغه شان ښائسته سيمو کښې دَ ايبټ اباد ضلعې يو صحت افزا، ښائسته او ښکلے مقام نتيا ګلۍ ده. دَ ايبټ آباد نه بره په





غرئيزه لړۍ کښې ډېرې سيمې داسې نومونه لري چې په اخره کښې يې ګلۍ راځي لکه نتيا ګلۍ، باړه ګلۍ ګوړا ګلۍ او داسې نورې څکه نو دغه ټول کلي او سيمې دَ ګلياتو په نامه بللې شي. داسې دا ټول ځايونه سره خپلو کښې ګنډلي او نزدې نزدې دي.

نتياګلۍ دَ خپل قدرتي ښائست، کږو وږو او پېچومو لارو او په اوړي کښې دَ خوش ګواره موسم په وجه کافي شهرت لري. دَ سمندر دَ سطحې نه دَ زيات اوچتوالي په وجه دَ نورو ګلياتو په مقابله کښې دا ځاے ډېر يخ دے. نتياګلۍ دَ سمندر دَ سطحې نه 2500 ميټره 8200 فټه اوچتوالے لري. نتياګلۍ دَ نورو ګلياتو په مقابله کښې زيات يخوالے لري او په ښکلا او ښائست کښې هم دَ نورو نه زيات مشهور ځاے دے. دَ دې ځاے غرونه اباد او په ونو پټ دي. ونې يې کالو سر شنې وي. دَ نتياګلۍ دَ حسن او ښائست يوه وجه دلته دَ ګڼو ګورو ونو ځنګلونه دي چې په دغو ونو کښې دَ چيړ، ديار، غوزانو ونې په زيات شمېر کښې دي او ورسره ډېر داسې ناياب او کمياب بوټي دي چې دَ دوايانو دپاره پکارېږي او ځينې داسې ګلونه هم دلته شته چې دَ دې ځاے نه علاوه دَ ملک په نورو برخو کښې نۀ وي. وجه يې دا ده چې دَ دغه ځاے آب و هوا دَ دغو ونو، بوټو او ګلونو دپاره مناسبه ده. دغه شان دغو ونو، بوټو او ګلونو دَ دې سيمې ښائست يو په دوه کړے دے.

دلته دَ ژمي په موسم کښې ډېره زياته واوره پرېوځي. دَ واورې ورېدو ننداره ډېره خوندناکه وي او هم دغه وجه ده چې ځينې خلق دَ واورې ورېدو دَ عمل تماشې کولو دپاره ځانونه دلته رارسوي. دَ دغه نظارې نه خوند اخلي او خپل زړۀ ته سکون او ارام ورکوي.

دلته ځينې هغه ځناور او مارغان هم شته چې په نورو علاقو او خصوصاً په ښکته سيمو کښې نۀ موندلے کېږي خو دَ ټولو نه زيات چې کوم

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com



ځناور دلته ځان ښيي نو هغه بيزوګان دي. چې په ونو کښې ګرځي. په سړک هم
ليدے شي او کله کله ابادو ته هم راځي. دوي سره چېړل ښۀ نۀ وي خو کۀ چا
ورسره يو ځل وچېړل نو دا ځناور بيا خطرناک وي.
دلته انګرېزانو په خپل دور کښې ځيني عمارتونه جوړ کړي دي چې لا
تر ننه موجود دي. په دغو عمارتونو کښې يوه په مکمله توګه دَ لرګو نه جوړه
ګرجا (دَ عيسايانو عبادت خانه) ده. دَ دغې ګرجې دَ شا له لوري کشمير په نظر
راځي او يوه ښکلې ننداره وړاندې کوي.
نتياګلۍ کښې دَ امروزه ضرورتونو پوره کولو دپاره يو وړوکے بازار
هم شته چې مقامي دَ لاسونو جوړ څيزونه او مقامي مېوې پکښې دَ خلقو دَ
پام لرنې وړ دي او دَ ضرورت نور څيزونه هم لاس ته راتلے شي.
دَ نتياګلۍ خلق دَ کرلاڼ قبيلې سره تعلق لري او دوي دَ سردارانو په
نوم مشهور دي. ژبه دَ زياتو خلقو هندکو ده خو زيات په اُردو او پښتو هم
پوهېږي. خلق يې په راشه درشه کښې ښۀ دي او دَ جنګونو او جګړو نه وېزاره
دي. بس دَ خپل کار سره کار لري. دَ نتياګلۍ يو خصوصيت دا دے چې دلته
ځيني حکومتي، بين الاقوامي، قومي او نورې ادارې دَ اوړي په موسم کښې
خپل اجلاسونه، سيمينارونه او ورکشاپونه کوي او دَ ښکته سيمو دَ ګرمۍ نه
تنګ شوي خلق په ډېره مينه په دغو اجلاسونو، سيمينارونو او ورکشاپونو
کښې دَ ګډون کولو دپاره راځي.

## مشغولتيا

1. مختصر جوابونه ورکړئ:

الف: نتياګلۍ په کومه ضلع کښې ده؟

ب: نتيا ګلۍ دَ سمندر دَ سطحې نه څومره اوچتوالے لري؟





ج: دَ نتيا ګلۍ په ونو کښې دَ مشهورو ونو نومونه وليکئ.

د: دلته کوم ځناور په زيات شمېر کښې موجود دي؟

ه: دَ نتياګلۍ خلق دَ کومې قبيلې سره تعلق لري؟

و: دَ انګرېزانو دَ دور دَ ګرجې څۀ اهميت دے؟

2. لانديني ټکي په خپلو جملو کښې استعمال کړئ.
سکون، ښائست، ښکلا، آب و هوا، نظاره، بيزوګان، ګرجا، راشه درشه، ګډون.

3. تاسو کۀ چرته دَ يو صحت افزا او يخ مقام سېل کړے وي نو دَ هغې حال په کلاس کښې ملګرو ته ووايئ.

4. دَ "بې اندازې" معنٰی ده "هغه چې څۀ اندازه يې نۀ وي". دغه شان دَ "بې شماره" معنٰی دا ده چې "هغه چې شماره يې نۀ وي". "بې" دَ اندازې او شمار دپاره سابقه ده. تاسو دغه شان نور پينځۀ لفظونه وليکئ چې په سر کښې يې دَ "بې" سابقه راځي.

5. خالي ځايونه ډک کړئ:

الف: نتيا ګلۍ يو ښائسته او ............ مقام دے.

ب: په نتياګلۍ کښې دَ چېړ، دِيار او ............ ونې دي.

ج: نتياګلۍ ته خلق په اوړي کښې ............ له راځي.

د: دلته خلق سيمينارونه، اجلاسونه او ............ کوي.



downloaded from awazeinqilab.com
Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com

downloaded from awazeinqilab.com



ډاکټر محمد زبیر حسرت
پیدائش: 14 اګست 1962ء

## دعا

لویه خدایه لویه خدایه
مونږ په سمه لاره بیایه

سر بالا مو په جهان کړې
زړۀ او ذهن مو روښان کړې

سپوږمۍ، ستورې دې کۀ نمر دے
کۀ سیندونه دې کۀ غر دے

کۀ دې زمکې اسمانونه
ستا دې واړه جهانونه

تۀ مو رب، مونږ دې بندیان یُو
ډیر خواران، ډیر عاجزان یُو

مونږ لۀ تا نه دُعا غواړو
ژوندون ډک لۀ حیا غواړو

دَ اخلاقو دولت راکړې
همت راکړې، عزت راکړې

Not For Sale



تۀ په خپلو نعمتونو
توفیق راکړې د شکرونو

زۀ حسرت دې خوار بنده یم
ستا په درکښې په سجده یم



Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com

# دَ لیکونکیو پېژند ګلو

1: پروفېسر نصیرالدین:

شاعر، ادیب، محقق، نقاد، ژبپوهان او دَ تعلیم ماهر دے. پښتو کښې یې ایم اے کړې ده او دَ درس و تدریس څانګې سره یې دَ یوې اوږدې مودې پورې تعلق پاتې شوے دے. دَ خیبر پښتونخوا په مختلفو کالجونو کښې دَ پښتو ژبې او ادبیاتو استاذ پاتې شوے دے او د ګورنمنټ پوسټ ګریجویټ کالج نوښار دَ خیبرپښتونخوا نه پرنسپل ریټائرډ دے. نظم او نثر دواړه لیکي خو دَ لیکلو مېدان یې په نثر او خصوصًا په لغت نویسۍ کښې دے. "دَ ژبو رشتې" نومې کتاب یې هم لیکلے دے او وخت په وخت یې مختلفې مقالې په اخبارونو او پښتو رسالو کښې چاپ شوې دي.

2: پروفېسر ډاکټر یارمحمد مغموم خټک:

شاعر، ادیب، محقق، نقاد او دَ تعلیم ماهر دے. په اېډورډز کالج پېښور کښې د پښتو ژبې او ادبیاتو استاذ دے. ګڼ شمېر تحقیقي، تنقیدي او علمي کتابونه یې چاپ شوي دي چې "دَ خوشحال فرهنګ" ، " دَ ازادۍ تحریک او پښتو شاعري، صوفیانه شاعري او دَ معاشرې اصلاح، دستار نامه ترتیب او تدوین، فرهنګ (دویم جلد)، دَ ښائست دَ لار مسافر، The Roshanites movement of Pushto Literature (انګرېزي مقاله) پکښې زیات مشهور دي. وخت په وخت یې ګڼې تحقیقي، تنقیدي او لساني مقالې په مختلفو رسالو کښې چاپ شوې دي.

Not For Sale

3. فرهاد محمد غالب:

شاعر، ادیب، مترجم او دَ تعلیم ماهر دے. پښتو کښې یې آنرز کړے دے. ګڼ شمېر علمي او دیني کتابونه یې پښتو ته ترجمهِ کړي دي. دَ درس و تدریس شعبې سره تړون لري او په دې مد کښې یې دَ دېرشو کلونو تجربه ده. په ګورنمنټ هائر سېکنډري سکول خوېشکي پایان نوښار (دَ خیبرپښتونخوا) کښې استاذ دے. دَ خیبر پښتونخوا ټېکسټ بک بورډ دپاره یې دَ پښتو قومي نصاب 2009 ء تر مخه په کتاب سازۍ کښې هم برخه اخستې ده.

downloaded from awazeinqilab.com

awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com

downloaded from awazeinqilab.com

بې شکه چې ټول مؤمنان خپلو کښې ورونه دي
نو د خپلو ورونړو ترمينځه روغه
راولئ اؤ د خدائے پاک نه ويره وکړئ
چې رحم درباندې وکړے شي۔

پاره نمبر26(سوره الحجرات۔ آيت.10)

"رشوت ورکونکے او اخستونکے دواړه

دوزخيان دی"(الحديث)

Not For Sale

awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

Downloaded from awazeinqilab.com

downloaded from awazeinqilab.com



د پښتنو قومي شاعر
خوشحال خان خټک

# قومی ترانہ

پاک سرزمین شاد باد    کشورِ حسین شاد باد
تو نشانِ عزمِ عالی شان    ارضِ پاکستان
مرکزِ یقین شاد باد

پاک سرزمین کا نظام    قوتِ اُخوتِ عوام
قوم ، ملک ، سلطنت    پائندہ ، تابندہ باد
شاد باد منزلِ مُراد

پرچمِ ستارہ و ہلال    رہبرِ ترقی و کمال
ترجمانِ ماضی شانِ حال    جانِ استقبال
سایۂ خدائے ذوالجلال


| شمیر | کوډ نمبر | بیعه | د چاپ ځائے |
|---|---|---|---|
| 242925 | PSP/NAP-16-60-2021(O) | | Nayyar Asad Printers LHR. |


awazeinqilab.com

Whatsapp: 03025247378
Download PDF MCQs, Books and Notes for any Subject from the Largest website awazeinqilab.com

# Download PDF MCQs, Books and Notes for any subject from the Largest website for free

**awazeinqilab.com** آوازانقلاب ڈاٹ کام

and also Available in Play Store

- Primary (5th) Level
- Middle (8th) Level
- Matric (10th) Level
- F. Sc (12th) Level
- BS (16th) Level
- Urdu Grammar
- Curriculum (Govt Books)
- Past Papers
- English Grammar
- Readymade CV

NTS, FTS, CSS, PMS, ETEA, KPPSC, PPSC, SPSC, AJKPSC, BPSC, KPTA ETC

## Available Subjects

- Agriculture
- Computer Science
- Economics
- English
- Biology
- Chemistry
- Geology
- Management Sciences
- Microbiology
- PCRS/ Pak Study
- Pharmacy
- Sociology
- Zoology
- Chemistry
- Statistics
- Physics
- Mathematics
- Law
- Environmental Sciences
- Botany
- Biotechnology
- Library & Information Sciences
- Journalism & Mass Communication
- Political Science
- Geography
- General Science
- Education
- Tourism & Hotel Management
- Urdu
- Pashto
- Islamic & Arabic Studies
- Electrical Engineering
- Civil Engineering
- Mechanical Engineering
- Chemical Engineering
- Software Engineering
- Election Officer
- General Knowledge
- Pedagogy
- Current Affairs
- Medical Subjects
- Judiciary & Law
- other





ہر Subject کے Notes اور MCQS فری ڈاون لوڈ کریں۔ نیز CV کے MS word تیار Templates ڈاون لوڈ کر کے اپنے حساب سے Modify کریں۔

awazeinqilab.com

WhatsApp : 03025247378